شهامت

برمايي مسلمانان !!

نهم کال لومړۍ ګڼه، پرلپسې۵۱ مه، شعبان ۱٤۳٦هق، جون ۲۰۱۵م

داسلامي امارت نوې سياسي او پوځي لاسته راوړنې...

د اسلامي امارت له خيرخواهۍ او تدبر مالا مال موقف...

عزم، د اسلامي امارت د پوځي اوسياسي بريا شانداره مظهر!

د ترکيې راتلونکی حکومت، ننګونې او احتمالات

د شهيد مولوي نسيم الله صديقي ژوند ته کتنه

ازماهی رحمت چگونه استقبال ميگرد

له انګريز نه دآزادۍ لپاره د شيخ الهند او مدني درې کارونه...

د بغلان والي ملا محمد اسمعيل: عزم عملياتو په بغلان کې انقلاب راووست

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

نهم کال لومړۍ ګڼه، پرلپسې۵۱ مه، شعبان ۱۴۳٦هق، جون ۲۰۱۵م

لـــړلیـــك

ګڼه	عنوان	مخ
۱	داسلامي امارت نوې سیاسي او پوځي لاسته راوړنې.....	۱
۲	عزم د اسلامي امارت د پوځي او سیاسي بریا شانداره....	۳
۳	برمایي مسلمانان.....................	۵
٤	دبغلان والي محمد اسماعیل سره سره ځانګړې مرکه......	۷
۵	دتراویح لمونځ.....................	۱۰
٦	دشهید مولوي نسیم الله صدیقي ژوند ته کتنه............	۲۰
۷	یونان؛ کاشکې د اروپایي اتحاد برخه نه وای............	۲٤
۸	وارسا په ګور کې دناټو خیال پلوونه..................	۲٦
۹	په اسلامي هیوادو کې داسلامیت او مغربیت ترمینځ	۲۹
۱۰	وقتت بکجا سپری می شود.....................	۳۳
۱۱	ګلورینې پاڼې.....................	۳٦
۱۲	د انګریز نه د آزادۍ لپاره د شیخ الهند او مدني	۳۸
۱۳	پر اعدام د محمد مرسي محکومیدل او د مصر راتلونکې	٤۳
۱٤	دین، عقاید، عبادات، تصوف...................	۵۰
۱۵	ازماهی رحمت چګونه استقبال صورت مګیرد............	۵٤
۱٦	کفري نړۍ د مسلمانانو جرأت چلینج کړی.............	۵٦
۱۷	سلام واهمیت آن.....................	۵۸
۱۸	د ترکیې راتلونکي حکومت، تنګونې او	٦۰
۱۹	معضله خونین برما.....................	٦۲
۲۰	یمن کې بشري ناورین.....................	٦٤
۲۱	داسلامي امارت د خیرخواهی او تدبر نه ډک............	٦۷
۲۲	امام ترمذي رحمه الله ژوند ته لنډه کتنه................	٦۹
۲۳	د لومړۍ او دویمې نړیوالې جګړې په اړه.............	۷۱

دامتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت

دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر :

ابو ظهیر

کتنپلاوی :

شاهد "حقاني" لطیف عزم

حسن "علوي" بلال "وحید"

نعیم "صافی" عابد مجاهد

قاري حبیب

بیه :

یوه ګڼه ۲۰ افغانۍ او ۳۰

کلدارې په پاکستان کې

تخنیکي مسؤل :

تخنیکي څانګه

یادونه

شهامت له سرمقالې پرته دنورو لیکنو مسؤلیت په غاړه نه اخلي.

ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان بریښنالیک : Sham.shahamat@yahoo.com

سرمقاله

بسم الله الرحمن الرحيم

داسلامي امارت نوې سياسي او پوځي لاسته راوړنې...

لـه هغـه ورځـې راهيسې چـې اسـلامي امـارت پـه ټـول هېـواد کـې دصـليبي اشـغال پـه وړانـدې دافغـان مـومن ولـس دازادۍ لپـاره د عـزم پسرلني عمليـات پيـل کـړي، لـه املـه يـې د هېـواد پـه لـر او بـر کـې پـر خـارجي اشـغالګرو ځـواکونـو او دهغـوی پـه بـې ضـميره ګوډاګيـانو دژونـد کـړۍ تنګـه او لويشت لويشت زمکه ورته سور تنور ګرځېدلې.

پـه دې سره يـو واربيـا دافغـان ولـس دسترو ميړانـو او قهرمـانيو هغـه تـاريخ تکرار او ژونـدی شـو، چـې هـر تيـري کـوونکي تـه يـې دخپـل ايمان او ازاد فطرت پـه ځـواک غـابښ مـاتوونکی ځـواب ورکـړی دی، او دلکونو يرغلګرو ککرۍ يې په خپلوقدمونو کې رغړولي دي.

رښتيا هـم چـې دعـزم عمليـاتو دغـه روحيـه پيـاوړې کـړه د امـارت دبـاتور و او زړورو مجاهـدينو وروسـتي تنـدريز بريدونه،پـه افغانستان کـې دتـاريخي فتوحـاتو اوبريـاوو پـراخ بهيـر رامنځتـه کېـدل ، پراخـې سـيمې او ګنـې و لسـوالۍ دخـارجي اشـغالګرو او دمـزدور رژيـم لـه واک څخـه وتـل او دمجاهـدينو لاس تـه ورتلـل هغـه رانـه او ځرګنـد واقعيتونـه دي چـې پخپلـه ددښـمن لوړرتبـه چـاروا کي يې دتوجيـه نـه عـاجز او پـه ډېـره ستومانه روحيـه پـه واز کـومي پـرې اعـتراف لـري او داخبره مني چـې دهېـواد پـه مهمـو او سـتراتيژک اهميـت لرونکـو برخـو دطالبـانو لاسـته راوړنـې اوبريـاوې يـا پرمختګونـه له معنويته ډک دي.

دسيمي دچـارو دکتونکـو پـه انـد: دعـزم جهـادي عمليـاتو پـه تـرڅ کـې پـه ډېـره لـږه مـوده کـې دمجاهـدينو پـراخ فتوحـات اوبرياليتوبونـه او پـه مقابـل کـې يـې دامريکـا او ګـوډاګي رژيـم دعسکرو

شکست او په شاه تګ ددې خبرې ښکارندويي کوي چې امريکا او ګوډاګي رژيم په ولس کې خپل اعتبار له لاسه ورکړی دی، او په مقابل کې يې مجاهدين دافغان ولس دپراخ ملاتړ څخه برخمن دي او اشغالګرو له منګلو څخه دګران هېواد دژغورلو په موخه له سرښندونکو او باتورو مجاهدينو سره ولاړدي، ولې که دولس مرسته او همکاري له مجاهدينو سره نه وای نو دهغوی لپاره دومره پراخ او دقيق عمليات تنظيمول اسان کارنه وو ،دا چې دولس دغه سهميه ددې ښکارندويي کوي چې دامريکايانو غولوونکي شعارونه افغانانو ته دمنلوندي او دولس بشپړ اکثريت دامريکايانو ارادو ته دشک په نظر ګوري.؟!

دځېرونکو په نظر دمجاهدينو تازه برياوې او لاسته راوړنې دامريکا په مشرۍ ائتلاف لوري لپاره دخطر زنګ دی، که هغوی له افغانستانه دځواکونو په ويستلو ژر غور ونکړ، ممکن عسکر يې دولسي- مقاومت ددا سې ځپې سره مخ شي چې له ويت نامه به هم ورته ځوروونکي زيانونه پيښ کړي

هو! دپوځي او جهادي ډګر ترڅنګ په سياسي او ديپلوماتيک ډګر کې هم اسلامي امارت لګيا دی ګام ، په ګام تاريخي او شانداري برياوې ترلاسه کوي، دېګواش له نړيوالې ناستې وروسته دناروې هېواد په پلازمينه (اوسلو) کې دوه ورځنې نړيوال کانفرانس ته داسلامي امارت دسياسي دفتر درئيس دعوتېدل جوتوي چې نړيواله کچه داسلامي امارت سياسي دريځ ته پذيرايي په برخه شوې او دنړۍ ځينې هېوادونه او خلک دې حقيقت ته رسيدلي چې اسلامي امارت دافغانستان دننه ترټولو مؤثر او ژوندی حقيقت دی، بايد دافغاني معضلې دحل په باب يې د نظرياتو او دلايلو درناوي وشي .

دسياسي کارپوهانو په نظر: داوسلو غونډې ته د اسلامي امارت د سياسي دفتر استازو بلنل په سياسي او ديپلوماتيک ډګر کې بله لاسته راوړنه ده ، اوجوتوي چې دښمن دپوځي ډګر ترڅنګ په سياسي ميدان کې هم داخلاقي شکست سره مخ دی ،اونور ددې توان نلري چې دافغان مسلمان ولس د ازادۍ دارادې په وړاندې دشګوبندونه واچوي رازو ديته چې په ټوليزه توګه په پوځي او سياسي ډګر ونو کې داسلامي امارت تازه برياوې اولاسته راوړنې افغانانوته ډاډېښونکې او مورال ورکوونکې دې، چې ددوی دخاورې او دين دښمن په هر محاذ دناکامۍ او بدنامۍ سره مخ دی، که خدای جل جلاله کول هغه شيبې رالنډې دي چې افغان خاورې غليم دشوروي پشان په واز کومې خپلې تيروتنې او اشتبهات ومني اوپه ټول هېواد کې سوله او ارامې وزر وغوړوي.

وما ذلک علی الله بعزيز

عزم

د اسلامي امارت د پوځي او سياسي

شاهد (غزنیوال)

بریا شانداره مظهر

یوه نیمه میاشت وړاندې اسلامي امارت په هیواد کې د میشتو یرغلګرو او د هغوي د ملاتړو پرخلاف پوځي عملیات اعلان کړل.

یاد عملیات په ډېر کم وخت کې هیواد شموله او په هرځای کې یې دښمن ته ملا ماتوونکي تلفات واړول.

په بدخشان او کندوزکې په زور اخیستو سره یې لړۍ ډېره په ګړندیتوب سره تر پلازمینې کابل او د هیواد مرکزي ، جنوب، جنوب لویدیځ او ختیځو ولایاتونو ته وغزېده، ډېرې سیمې فتح او په ډېرو هغو کې دښمن ته مرګوني ګوزارونه ورکړل.

د عزم د عملیاتو اساسي تمرکز په کابل کې د بهرنیو یرغلګرو د را پنډیدو په مرکزونو و چې د کلوله پشته او وزیر اکبر خان غونډۍ په خوندي سیمو کې یې په سرښندونکو بریدونو کې په لسګونه بهرني جاسوسان مړه اوژوبل کړل، د یادو عملیاتو طغیاني څپې ورځ تر بلې ګړندۍ کېږي، پراخیږي او بریالي کیږي.

د کابل د مزدور رژیم چارواکي کوښښ کوي چې د خارجي حامیانو د هوایي ملاتړ او د خپلو تبلیغاتو په وسیله په خپلو شکیدلو ځالوباندې د عزم پوځي بریدونو کم اغیزه وښيي ، خو په دې عملیاتو کې د مجاهدینو لاسته راوړنو او ښکاره بریاوود دښمن دا ټولې هڅې له ناکامي سره مخ کړې.

د عزم عملیاتو امتیازي خاصیت دادی چې د ولسي- خلګو د سر اومال تحفظ ته ورکې ډېره پاملرنه شوې او د الله په فضل تر اوسه د مجاهدینو د عملیاتو په ترځ کې داسې پیښه نه ده رامنځته شوې چې قربانیان یې ولسي- وګړي وي. بل امتیازیې دادی چې هغه یواځې په پوځي جانب تر کیز نه لري ، بلکي له پوځي فعالیتونو سره یو ځای یې د دعوت او د دښمن له لیکو څخه د هغوی د افرادو راجلبولو پروګرام هم پر مخ بیول کیږي.

د عزم عملیاتو بله مشخصه داده چې تنفیذي تسلسل یې ډیر په له پوري دی ، اودې تکتیک یې د ښمن وارخطا کړی ؛ ځکه چې په یوه وخت کې هغوی په متعددو جبهو کې مصروف کړی.

د پوځي استحضاراتو ترڅنګ د عزم مطبوعاتي پوښښ ته هم ډېره توجه شوې ، د اسلامي امارت ویاندویان په ډېره چټکتیاسره هره پوځي بریا له رسنیو سره شریکوي ، د امارت اړوند رسنیز وسائل یې هر فعالیت په خپل وخت نشر او تحلیلوي اوسمعي او بصري ځانګه یې د هرې پیښې ژوندۍ صحني او انځورونو تر نړیوالو مطبوعاتو رسوي.

د عزم عملیاتو بریا په سیاسي ډګر کې هم د امارت دریځ پیاوړی کړی ، ښکاره بیلګه یې د پګواش په وروستۍ غونډې کې د اسلامي امارت منطقي موقف وه چې د غونډې د ټولو برخوالو لخوا وستایل شو.

په پوځي او سیاسي برخه کې د عزم موفقیت د حکومت مشر اشرف غني هم وارخطا کړی او هرځای په خپلو څرګندونو کې وایي چې د طالبانو د پوځي عملیاتو د ګړندي کیدلوموخه داده چې دولت مجبور کړي له

کمزوري دریځه له هغوي سره خبرې وکړي . نو موږي هرات ولایت ته په خپل وروستي سفرکې په شمال کې د مجاهدینو د پوځي تحرکاتو په زیاتیدلو اعتراف وکړ.

له دغو ټولو ښکاره بریاوو سرسره ښایي د ښمن دا ادعا وکړي چې عزم عملیات کومهه د یاد ولو وړ بریا نه لري؛ ځکه د عملیاتو له پیلـه نیږدې دوه میاشتې تیرېږي خو طالبانو ونه کړای شول چې اقلا د ۳۴ ولایتونو له جملې څخه یو ولایت تر خپلې ولکې لاندې راولي .

مونږ ددښمن د دې ادعا په ځواب کې وایو چې لومړی خو ستاسي د لوړ پوړو چارواکو په اعتراف دهیواد اکثریت ولایتونه د سقوط تر تهدید لاندې دي، د ولایتونو په داخل کې دهرولایت والي اړونده ولسوالیو ته د ځمکي له لارې زړه نشي۔ ښه کولای ، په ۳۴ ولایتونو کې د رژیم اداري او امنیتي داوئر یواځې دولایتونو تر مرکز پوري محصور دي.

په ولسوالیو کې ولسوال او اړونده پرسونل یې ټول د ولسوالۍ په چاردیواري کې محاصره دي ، ایا دغه ټول ځمکني ملموس واقعیتونه بیاهم دمجاهدینو لپاره د یادولو وړ بریا نه بلل کیږي؟

له بله پلوه د عزم عملیاتو د پوځي طراحانو په باور دغه عملیاتي پروګرام څو مراحل لري چې هره مرحله یې په خپل وخت پلې کیږي.

لومړنۍ مرحله یې یواځې د خرپ او ترپ عملیاتو تنفیذي مرحله ده ، په دې مرحله کې هغوی غواړي یواځې د دښمن پوځي وړتیا ځانته معلومه کړي.

په دې مرحله کې مجاهدین غواړي د رژیم په داخل کې د خپلو نفوذي کسانو په وسیله داسې عملیات ترسره کړي چې د هغوي ترمنځ یو پربل بې باوري رامنځته شي . د دغو تکتیکي عملیاتو یوه بیلګه د روزګان د پخواني امنیه قومندان جنرال مطیع الله خان تکتیکي وژل دي چې له امله یې د رژیم د ټولو پوځي ، امنیتي اوکشفي ارګانونو ترمنځ یو پربل بې اعتمادي رامنځته شوه.

هغه ښکاره اغیز چې د عزم عملیاتو د دښمن پرلیکو لرلی هغه داچې د دښمن افراد یو پر بل سخت بې باوره شوي، اود غه بې اعتمادي په تدریج سره د هغوی ترمنځ په پوځي فعالیتونو کې د نه همغږۍ لامل ګرځي .

په ډیر لیږ وخت کې د عزم عملیاتو د لوي الله په نصرت او دخپل مجاهد ولس په ملاتړ ښې بریاوې لرلې ، دغو بریاوو عملا د رژیم پوځي او امنیتي وړتیاوې ننګولې. د هغوي په منځ کې یې د بې باورۍ کچه زیاته کړې او په هرځای کې خپل افراد له مجاهدینو سره په لاس لرلو تورنوي ...

یوه نیمه اونۍ وړاندې د امنیتي چارواکو لخوا په ننګرهار ولایت کې د مشرانو جرګې پرمشرفضل هادي مسلمیار او د هغه پر ورور له مجاهدینو سره د لاس لرلو الزام او د ولسي۔ جرګې د مرستیال ظاهر قدیر او مسلمیار ترمنځ داخلي اختلافات هم د دوي د خپل منځي بې باوري یوه بیلګه ده.

داهرڅه په پوځي ساحه کې دعزم عملیاتو دبریالیتوب او پرمختګ اغیزې دي.

د اچې روان کال د مجاهدینو او دښمن لپاره یو برخلک ټاکونکی کال دی ، مجاهدین هم په ډیر دقت او غور سره عزم عملیات په مرحله واره بنه پرمخ بیایي .

لومړنۍ مرحلې ته په کتو سره هغه له پوځي ، سیاسي او مطبوعاتي اړخه ښه بریالي پر مخ روان او د دښمن دملاماتوونکو تلفاتو په پرتله د مجاهدینو ځاني تلفات په نشت حساب دي.

برمايي مسلمانان !!

ت - حسن

له درې اونيو راهيسې د برما هيواد د آراکان ولايت چې اکثره وګړي يې مسلمانان دي، تر سختو او وحشتناکو بريدونو لاندې دي.

دا بريدونه هغه مهال دمسلمانانو پرضد په يوې هر اړخيزې جګړې واوښتل، کله چې څو ورځې وړاندې دمسلمانانو يوه ډله دعمرې له اداکولو وروسته بيرته برما ته را ستنه شوه او په لاره کې د بوداييانو له لوري په ډېره وحشيانه توګه ووژل شول، ددې لپاره چې څه موده وړاندې يوه بودايي جينۍ په مرموز ډول وژل شوې وه او پړه يې بودايي مذهب پالو پر مسلمانانو اچوله.

اراکان ولايت چې دبرما په غرب کې واقع دی اوسيدونکي يې مسلمانان دي او د بنګله دېش سره په سرحد کې موقعيت لري چې له کلونو کلونو راهيسې دامسلمانان د بوداييانو له خوا چې دحکومت هر اړخيزه مرسته ورسره موجوده ده ځپل کېږي.

له څه مودې راهيسې دبودايي ځوانانو ډلې چې په تورو او نورو جګړيزو وسلو سمبال دي د حکومتي پوليسو تر سترګو لاندې د اراکان په لارو او کوڅو کې ګرځي او هر مسلمان چې پر مخ ورځي هغه وژني او تر اوسه يې دمسلمانانو په سلګونو کورونه سوزولي دي، په ځانګړې توګه د مونګاناو په سيمه کې چې داراکان په شمال کې واقع ده دبوداييانو تر سختو ګذارونو لاندې ده.

سره له دې چې د برما په پلازمينه رنګون کې حکومتي چارواکو په اراکان کې بيړنۍ حالت اعلان کړی او د امنيتي ځواکونو په سلګونو کسان يې په دې سيمه کې ګمارلي دي، ولې بياهم هره ورځ په لسګونو مسلمانان وژل کېږي، په همدې سبب ملګرو ملتونو ځپل کار کوونکي له دې سيمې ايستلي دي او سيمه د قاتلانو په ولکه کې پرېښودل شوې ده.

بلخوا حکومتي رسمي رسنۍ وايي چې تر اوسه په دې سيمه کې ۷ کسه وژل شوي او ۱۷ زخميان دي، او له دې داسې څرګنديږي چې حکومت يوازې هغه بودا يان چې دمسلمانانو له لوري په دفاعي حالت کې وژل شوي هغوی حسابوي او دمسلمانانو چې هره ورځ په لسګونو کسان وژل کيږي هغو ته هيڅ پام نه کوي.

دملګرو ملتونو دوينا له مخې برمايي مسلمانان دنړۍ پرمخ له ټولو نه زيات زپل شوي اقليتونه دي، چې دحکومت تر سيوري لاندې ددې اقليت سره بې دريغه زياتی کيږي.

په کال ۱۹۷۸ ميلادي کې له۲۰۰ زرو زيات برمايي مسلمانان دبنګله ديش هيواد مهاجر شول ځکه چې په هغو ورځو کې هم دمسلمان وژلو سلسله په اراکان کې په ډير شدت سره روانه وه، څلور کاله وروسته له دې هجرته نه په کال ۱۹۸۲ ميلادي کې دبرما حکومت يو قانون پلی کړ چې دهغه له مخې دبرمايي مسلمانانو نه دبرما تابعيت (نشنليتي) واخيستل شوه، او په دې توګه هغوی په ځپل هيواد کې دغير قانوني مهاجرو په توګه ژوند پيل کړ، په کال ۱۹۹۱ او ۱۹۹۲ کې يوځل بيا مسلمانان له عامه وژنو سره مخ شول او دا ځل دحکومتي عسکرو په لاس وژل کيدل، او هدف يې داؤ ترڅو مسلمانان په هر اړخيزه توګه له برما څخه ووځي چې يوځل بيا

په همدې کلونو کې په زرګونو برمايي مسلمانان بنګله ديش ته مهاجر شول.

او هغه کسان چې تر اوسه يې هم برما نه پرې ايښې او په خپل پلرني ټاټوبي کې پراته دي، درنګ رنګ ظلمونو سره مخ دي چې انسان ضمير يې له فکر کولو څخه هم عاجز دی، په زندانونو کې غورزول کيږي، اجباري کارونه ترې اخيستل کيږي، زمکې او نوره عامه شتمني يې غصب کيږي، هغوی ته واده کولو اجازه نه شته او له يوځای نه که بل ځای ته سفر کوي نو بايد له حکومتي چارواکو رسمي موافقه ترلاسه کړي.

نن ورځ له يو ميليون نه زيات برمايي مسلمانان په نورو هيوادونو کې ژوند کوي او په برما کې اوس تقريبا ۷ لکه او پنځوس زره مسلمانان پاتې دي چې هغوی هم په دې ورځو کې يوځل بيا له عامه وژنې سره مخ دي.

دا عامه وژنه چې نن دبرما په اراکان ولايت کې روانه ده غربي ديپلوماتان او دبشري حقوقو دعوا لرونکي هم يا چپ خوله دي او ياهم دحکومت او بودايانو په پلوي کې دمسلمانانو پرضد ډنډوره کوي.

په فيسبوک، ټويټر او نورو دټولنيزو اړيکو پاڼو کې غټ غټ شعارونه ليکل کيږي، مسلمانان ووژنئ، دوی ددې هيواد خلک نه دي، تر دې چې په فيسبوک ځنې کسانو جوائز هم ايښې دي چې که چا يو مسلمان ووژه نو دومره ډالر به ورکړل شي.

دعيني شاهدانو په وينا هغه ډلې چې مسلمانان وژني د حکومتي عسکرو په مرسته په سيمه کې حرکت کوي، تردې چې په اکثره پيښو کې امنيتي چارواکي په خپله هم دمسلمانانو په وژلو کې برخه اخلي.

نن دبرما مظلوم مسلمانان ددوو تورو ترمينځ ژوند کوي، له يو لوري په خپل پلرني هيواد کې په ډيره دردونکې توګه وژل کيږي او بلخوا که کوم يو وغواړي چې له دې قاتلانو نه تيښته وکړي، نو دبنګله ديش سرحدي پوليس ورته په مورچل کې ناست وي او هغوی يې وژني او ياېې بيرته د اراکان دولايت دوزخ ته ور لړه کړي

غزل

استاد فضل ولي ناګار

ما اذان انځور په شور و شرنګ د زنځيرونو کړ
زوړ ختيځ مې بيا ځلمی په مستو تکبيرونو کړ

پرخه مې کوثر کړ د وينو د ګل ټنډې ته
وړي وږمه پيغام نسيم ولاړ دی منډې ته

سپين کمربند وتاره سبا راغی تيارو پسې
ځي جوپې جوپې ستوري د لمر په ښاپيرو پسې

شپه په سپيدو وچاوده ځانمرګې شان شپه راغله
ته ګريوان څيرې د ناقوس د پير توبه راغله

بيا زموږ رندانو الستي جامونه پورته کړه
بيا يې په شپيلی اسرافيلي غږونه پورته کړه

ډک په شومه دم چې وزرونو د جبريل وکړ
ډکه شوه فضا له جلال سور اور رودنيل وکړ

څومره کلک ګوزار په ابرهه بيا ابابيل وکړ
ټول بوتان نسکور دي د توحيد اواز خليل وکړ

بيا ترې انګو د زمانې ته رنګيني راغله
بيا د الاالله په زمزمو باندې ځواني راغله

مرکه

د بغلان والي ملا محمد اسمعیل

عزم عملیاتو په بغلان کې انقلاب راووست

مرکه کوونکی: ابوعابد

درنو لوستونکو !

بغلان ولایت دافغانستان په شمالي حوزه کې موقعیت لري چې شمال ته یې کندز، ختیځ ته یې تخار او پنجشیر، جنوب ته یې پروان او لویدیځ ته یې بامیان او سمنګان ولایتونه موقعیت لري ، دبغلان ولایت مساحت ۲۱۱۱۲ مربع کیلومتره او نفوس یې دوروستیو تقریبي احصایو له مخې نږدې اوه نیم لکه تنه ښودل شوی دی، دبغلان ولایت مرکز د پلخمري ښار دی ، او ولسوالۍ یې د اندراب، دوشي، خنجان ، بورکه، جلګه، دهنه غوري ، خوست وفرنګ ، تاله وبرفک ، ډنډغوري، نهرین، بغلان جدید،ګذرګاه نور او ده صلاح په نومونو یادیږي .

بغلان چې دموقعیت په لحاظ دافغانستان د مهمو ولایاتو له جملې دی په داسې ډول چې د افغانستان ټول شمالي ولایت د بغلان له لارې دافغانستان له مرکز سره وصل کیږي،په دې وروستیو کې د یوه ستر تحول شاهد و، دغه ولایت چې پخوا یرغلګرو او دهغوی اجیرو ملیشو ، اربکیانو او کرایي ټوپکوالو په کې فعال برلاس حضور درلود دسږ کال د عزم عملیاتو له پیل سره داسلامي امارت مجاهدینو په کې په سترو عملیاتو لاس پورې کړ چې په نتیجه کې یې ددې ولایت زیاتره سیمې د فاسدو ملیشو له شتون څخه تصفیه او دمجاهدینو په واک کې راغلې، په بغلان کې د همدې وروستي ستر تحول په اړه مو ددې ولایت د جهادي چارو له مسؤل / والي ملامحمد اسمعیل سره مرکه کړې چې ستاسو توجه ورته غواړو.

پوښتنه: مولوي صاحب تاسو ته سلامونه او احترامات وړاندې کوو که له هرڅه وړاندې زموږ لوستونکو ته ځان ورمعرفي کړئ؟

ځواب : الحمد لله رب العلمین والصلوة والسلام علی سیدنا محمد و علی آله و اصحابه اجمعین و بعد :

زما نوم ملا محمد اسمعیل دی د بلخ ولایت د چمتال ولسوالۍ اوسیدونکی یم او فی الحال د اسلامي امارت په تشکیلاتو کې د بغلان ولایت د جهادي چارو د مسؤل په حیث جهادي دنده اجراء کوم.

پوښتنه: د بغلان ولایت د جاري وضعیت په اړه که معلومات راکړئ چې فی الحال په دې ولایت کې په سیمو د حاکمیت تصویر څنګه دی؟

ځواب: بغلان ولایت ۱۵ اداري واحدونه لري ، چې په دې ټولو اداري واحدونو یعنې مرکز او ولسوالیو کې د اسلامي امارت مجاهدین حضور او نظامي تشکیلات لري، خو د ولسوالیو ترمنځ فرق شته چې په ځینو کې نسبت نورو ته د مجاهدین شتون پراخ او قوي دی.

مثلا: په مرکزي بغلان کې مجاهدین له دوو ښارګوټو شهرکهنه او شهر جدید پرته په ټولو ساحاتو بشپړ کنترول لري چې د ولسوالي تقریبا اتیا فیصده ساحه کیږي،په ډنډ غوري کې هم مجاهدین په اتیا فیصده ساحه کنترول لري، په تاله و برفک ولسوالي کې چې له بامیانو سره نښتې سیمه ده مجاهدین په ۹۰ فیصده ساحه کنترول لري ځکه یوازې د ولسوالۍ مرکز د دشمن په لاس کې دی،په دهنه غوري او بورکه ولسوالیو کې هم مجاهدین تر نیمایي زیاتې ساحې په کنترول کې لري، له دې پرته دوشي او مرکز پلخمري کې هم مجاهدین ځواکمن حضور لري او ډیرې سیمې یې تر واک لاندې دي، باید یادونه وکړم چې د دهنه غوري او ډند غوري له وروستیو فتوحاتو وروسته اوس مجاهدین د بغلان د مرکز دروازو ته رسیدلي په داسې شکل چې د مجاهدین جنګي خط د پلخمري ښار په ۴ کیلو متري کې موقعیت لري او که وغواړي ولایتي مرکز تهدیدولای شي.

له یادو سیمو پرته په اندراب، خنجان، نهرین، جلگه، خوست او فرنګ او نورو ټولو ساحو کې هم مجاهدین حضور لري او په دښمن عملیات ترسره کوي، په ټوله کې مجاهدین په بغلان کې په ټولو مهمو سیمو او مواصلاتي نقاطو باندې کنټرول لري او د ولایت ډیری سیمې یې په لاس کې دي.

پوښتنه: مولوي صاحب لکه تاسو ته چې بهتره معلومه ده، په بغلان کې په وروستیو کلونو کې د جهادي عملیات وضعیت کمزوری و، مګر سږکال ناڅاپه یو تحول راغلی او مجاهدینو ډیرې سیمې ونیولې ددغه تحول په جزیاتو که رڼا واچوئ او معلومات راسره شریک کړئ؟

ځواب: بلې، لکه تاسو چې وویل دا یو واقعیت دی چې سږکال خصوصا د عزم عملیاتو له پیل سره په بغلان کې یو بې ساری انقلاب راغلی او وضعیت په ناڅاپه توګه په بل مخ واوښت هغه داچې پخوا په دې ولایت کې د یرغلګرو او د هغوی د ملیشو ډیر واک او قدرت و او مجاهدین له ستونزو سره مخامخ و، مګر سږکال الله الحمد ډیرې سیمې له دښمن څخه تصفیه شوې او دښمن له ډیر بد حالت سره مخامخ شو.

ددې تحول په اړه باید ووایم چې د عزم عملیاتو له پیل سره د کندز او بدخشان د فتحو د بهیر سره هم مهال مجاهدینو په بغلان کې هم په لویو تهاجمونو پیل وکړ چې په نتیجه کې یې په مرکزي بغلان، ډنډ غوري، دهنه غوري، دوشي او بورکې ولسوالیو کې ډیرې سیمې له دښمن څخه ونیول شوې.

په مرکزي بغلان کې تر ۳۰ پورې لویې سیمې لکه څدراڼ، نورزي، سردار خیل، پاوکم، داود کلی، نواباد، همت خیل، چغان تپه، انارخیل، ګرداب، طاهریان، شاهي خیل، صافیان، مته خیل، علاءالدین، خدایداد خیل، پشه یان، وکیل نظام کلی، خوستیان، او داسې نورې لویې منطقې له دښمن څخه ونیول شوې په دې ټولو سیمو کې پخوا د دښمن د اربکیانو، نظم عامه او پولیسو لسګونه پوستې وې دغه راز په دې سیمو کې د دښمن ۴ غټ بیسونه هم وو چې ټول د الله تعالی په نصرت فتحه شول او سیمې د مجاهدینو په ولکه کې راغلې.

د مرکزي بغلان په جګړو کې چې شاوخوا یوه میاشت یې دوام وکړ، د دښمن ۹۳ تنه عسکر، اربکیان او پوځیان وژل شوي او ۱۱۰ تنه نور ټپیان شوي دي، دغه راز د دښمن ۱۵ ټانګونه او ۶ رینجر موټر هم تخریب شوي دي، په دې جګړو کې مجاهدینو له دښمن څخه ډیرې وسلې او مهمات هم غنیمت کړي دي.

د مرکزي بغلان غونډې بله سیمه چې د ستر تحول شاهده وه، د ډنډغوري سیمه ده، ډنډ غوري د بغلان مرکز پلخمري سره پیوسته پرته ده، په دې ولسوالۍ کې هم مجاهدینو اکثره پراخې سیمې لکه ګورګن، ګوډان، نیازالله کلی، غنچه پل، قلعه خواجه، اسلام اباد، لوګریان، مهاجرین، سیزو کلی، ناقلو کلی، انارخیل، تاجکان، سپیدخان کلی او داسې نورې سیمې د اربکیانو له وجود څخه تصفیه کړې او ددوی ګڼې پوستې یې له منځه وړي دي، په ډنډ غوري کې د دښمن ۳ لوی بیسونه / پوځي مرکزونه هم مجاهدینو فتحه کړي دي، چې د ۲ رینجر موټرو په شمول یې ډیرې وسلې او مهمات هم په کې غنیمت کړي دي، په دې ولسوالۍ کې د دښمن ۳۵ تنه اربکیان او عسکر قتل شوي او ۲۷ نور ټپیان شوي دي.

په دهنه غوري کې هم مجاهدین وتوانیدل چې د اقسای او منګلو په سیمو کې د دښمن دوه ستر بیسونه فتحه کړي دغه راز له ګڼو سیمو اربکیان تیښتې ته اړ کړي په همدې ډول په بورکه او دوشي کې هم ډیرې سیمې د دښمن له شتون څخه تصفیه شوي دي.

د بغلان وروستیو تحولاتو او جهادي پرمختګونو دښمن سخت وارخطا کړی دی ځکه ددې ولایت د کنټرول لپاره ددوی هغه ټول پروګرامونه په اوبو لاهو شوي چې د اربکي سازي د پروژو غونډې یې له مختلفو لارو هڅه کوله چې د جهادي خوځښت په وړاندې موانع ایجاد کړي.

پوښتنه: ستاسو په نظر په بغلان ولایت کې د وروستي تحول او جهادي فتوحاتو اهمیت په څه کې دی؟ دې حملو ولې دښمن دومره وارخطا کړ چې په یوه وخت د شاهین قول اردو ځواکونه او حتی له کابل څخه د وزارت داخلې خاص قطعه بغلان ته ولیږي تر څو مجاهدین له نیول شویو سیمو په شا کړي چې د همدې لپاره یې ډیره هڅه وکړه خو کومه نتیجه یې ترلاسه نه کړه، ستاسو په خیال دښمن ولې د بغلان له تحولاتو سره وارخطا شو؟

ځواب: تاسو ته بهتره معلومه ده چې د افغانستان شمالي او شمال ختیځ ولایات د هندوکش د غرونو یا سالنګ په توسط له مرکز

څخه یوه پرې شوې سیمه ده، چې دې ولایاتو ته له مرکز څخه یوازینۍ لاره د سالنګ د تونل لاره ده، دغه لاره په بغلان ورغلې او د بغلان په توسط له بدخشان، تخار، کندز، همدا راز له سمنګان، بلخ، او جوزجان سره وصل کیږي.

په بغلان کې د وروستیو فتوحاتو په لړ کې په دې لاره په دوو ځایونو کې د مجاهدینو سلطه راغله، د بدخشان او کندز په خوا غځیدلې سرک د مرکزي بغلان په سیمه کې مجاهدینو ونیو او د بلخ په خوا غځیدلې لار چې د ډنډ غوري له منځه تیره شوې هم د مجاهدینو په تصرف کې راغله، دې پرمختیا که له یوې خوا په بدخشان او کندز کې ددښمن د قواوو په مورال خورا بد اثر وکړ او ددښمن پلان شوي عملیات یې له خنډ سره مخامخ کړل له بلې خوا چې دحیرتان بندر لخوا د پرغلګرو کوم اکمالات کیږي هغه یې هم له خنډ سره مخامخ کړل.

اوس چې مجاهدین کولای شي هر کله چې وغواړي دغې لارې په دښمن قطعه کړي، ددښمن قواوې او کتارونه راوګرځوي، ددې پرمختیا له امله دښمن ډیر وارخطا شوی دی او هڅه کوي په دغو لارو بیرته خپل تصرف راولي او د ځان لپاره یې امن کړي، دهمدې لپاره یې په وروستیو اونیو کې په بغلان کې لوی عملیات هم په کار واچول خو څو ورځې وراندې یې پرته له کومې بریا څخه پای ته رسیدلی اعلان کړل او خپلې ډیرې قواوې یې بیرته له سیمې وایستلې، ددښمن ددې ناکامو ځوابي عملیاتو په لړ کې یوه د پام وړ خبره ددښمن د تبلیغاتي چینلونو دروغجنې ادعاګانې وې مثلا دوی یو ځل اعلان وکړ چې په ۱۳۱ طالبان مو شهیدان کړي دي د عملیاتو په وروستي ورځ یې بیا اعلان وکړ چې ۷۰ کسه طالبان مو شهیدان کړي او ۵۰ مو زخمیان کړي دي مګر حقیقت دا دی چې د بغلان په وروستي یوه میاشتني جنګ کې زموږ پنځه تنه مجاهدین شهیدان شوي او ۱۵ تر ۲۰ ټپیان شوي دي چې هغه هم اکثره اوس بیرته جوړ شوي دي.

پوښتنه: محترم مولوي صاحب ستاسو په باور په بغلان کې د وروستیو تحولاتو او سترو فتحو لاملونه څه و؟

ځواب: په بغلان کې ددې تحول لومړنی او اساسي لامل د الله تعالی نصرت و له مجاهدینو سره، الله تعالی د مجاهدینو په زړونو کې لوی جرأت او همت کیښود، ولسي خلک له مجاهدینو سره ملګري شول او په الله په توکل سره یې په دښمن عملیات وکړل او دښمن ته یې سخت شکست ورکړ.

په دې کې شک نشته چې کله د الله تعالی نصرت راشي بیا هیڅ دښمن د ټینګښت نه وي، د بغلان مجاهدین وایي چې دلته د زمان خیلو په سیمه کې چې ددښمن ډیر قوي بیس و په تیرو اوو اتو کلونو کې به تر څلویښت زیات مجاهدین وړاندې شهیدان شوي وي مګر فتحه نه شو مګر دا ځل الله تعالی ددښمن په زړه کې رعب خپور کړ او ډیر په اسانۍ مجاهدینو ونیو.

د بغلان په وروستیو عملیاتو کې عام اولس له مجاهدینو سره ډیره پراخه همکاري درلوده او په ډیر اخلاص ورسره ولاړ و، حتی اولس له دښمن څخه دومره رنځیدلی و چې ددښمن د بیسو دفاعي خنډونه یې په بیلچو او کولنګونو ونړول او په جګړه کې یې هم له مجاهدینو سره هراړخیزه همکاري وکړه، نو مجاهدین که په هر سیمه کې غواړي فتوحات ترلاسه کړي، د الله تعالی د نصرت خواست دې وکړي ځانونه دې د الهي نصرت مستحق وګرځوي او د عام اولس د زړه ساتلو او راخپلولو لپاره دې ټوله هڅه په کار واچوي کله چې اولس له زړه څخه له مجاهدینو سره ملګری وي بیا زما یقین دی چې هیڅ دښمن به هم زموږ په وړاندې مقاومت ونه کړای شي.

پوښتنه: په پای کې که د بغلان ولایت اوسیدونکو ته یا عام اولس ته څه پیغام لرئ را سره شریک یې کړئ؟

ځواب: زه په بغلان کې د اسلامي امارت د مسؤل په حیث د بغلان ولایت ټولو اوسیدونکو ته دا ډاډ ورکوم چې مجاهدین ددوی خپل ورونه او زامن دي، دمجاهدینو په اړه دې ددښمن تبلیغاتو ته غوږ نه نیسي او نه دې له مجاهدینو څخه ویره احساسوي.

مجاهدین د هیچا په خلاف د انتقام جویانه عمل نیت نلري، مجاهدین که کومې سیمې تصرف کوي د هیچا په شخصي ملکیتونو، سر، مال او عزت به تعرض ونه کړي بلکې حفاظت به یې وکړي، زموږ ولسي خلک که د هرې ژبې او قوم څخه دي، باید په مجاهدینو اعتماد ولري مجاهدین پرته له تعصب څخه ټول هیوادوال خپل ورونه بولي او دهغوی څخه دفاع او د هغوی خدمت خپل ویاړ بولي. پای

د تراويح لمونځ

د مولوي امان الله "حسن" ژباړه

الحمدلله وكفى، وسلام على عباده الذين اصطفى، اما بعد:

اهل سنت او جماعت ورونو!

د روژې مبارکه میاشت د انسان د روح لپاره پسرلی دی، د دې میاشتې د عبادت له ځانګړتیاو څخه د ورځې روژه او د شپې قیام (تراویح) دی، چې لوی اهمیت لري. په حدیث شریف کې پیغمبر صلى الله علیه وسلم فرمایلي دي: «إن الله تبارک وتعالى فرض صيام رمضان و سننت لكم قيامه».(ژباړه: الله پاک د روژې مبارکه میاشت پر تاسو فرض کړې، او په هغو شپو کې قیام (تراویح) تاسو لپاره سنت ګرځول شوی دی[1]. ددغې میاشتې له برکتونو یو دا دی، چې د یو نفل ثواب په کې د فرض هومره ثواب او د یو فرض ثواب په کې د(۷۰) فرضو له ثواب سره برابر دی، [2] نو ځکه به اولیاء کرامو د دغې میاشتې هره لحظه غنیمت ګڼله او یوه شیبه یې هم نه ضایع کوله، په دې فکر چې بیا به دا زمونږ نصیب شي که نه. رسول اکرم صلى الله علیه وسلم به په دې میاشت کې ډېرزیات عبادت کاوه. حضرت عایشه صدیقه رضي الله عنها فرمایي: «كان رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا دخل شهر رمضان، شد مئزره، ثم لم يأت فراشه حتى ينسلخ». ژباړه: (کله به چې د روژې میاشت داخله شوه، پیغمبر صلى الله علیه وسلم به خپله مبارکه ملا تړله اوخپل بسترته به نه راته، تر دې پورې چې مبارکه میاشت به ختمه شوه).[3] د روژې اخرو لس ورځو کې به حضور صلى الله علیه وسلم د عبادت ډېرکوشش کاوه، د دې په اړه حضرت عایشه رضي الله عنها فرمایي: «كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يجتهد في العشر الأواخر، ما لا يجتهد في غيره». ژباړه: (رسول اکرم صلى الله علیه وسلم به په اخري لس ورځو کې د عبادت ډېرزیات کوشش کاوه، چې په نورو ورځو کې به یې هومره کوښښ نه کاوه).[4] دغه مبارکه میاشت کې به حضور صلى الله علیه وسلم خپل امت عبادت ته ډېر هڅاوه، لکه چې حضرت ابوهریره رضي الله عنه فرمایي: «عن ابي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: من قام رمضان إيمانا واحتسابا غفر له ما تقدم من ذنبه». ژباړه: (پیغمبر صلى الله علیه وسلم ویلي: هر څوک چې د ایمان په حالت او د ثواب په نیت د تراویح لمونځ اداکړي، الله جل جلاله یې تېرګناهونه ورته ښښي).[5]

دغه حدیث شریف نه معلومه شوه، چې پیغمبر صلى الله علیه وسلم خپله په روژه مبارکه کې ډېر عبادت کاوه، او امت به یې هم په دغه مبارکه میاشت کې ډېر عبادت ته هڅاوه، هر سړی باید کوښښ وکړي چې په دغه مبارکه میاشت کې ډېر عبادت وکړي.

تراویح

پیغمبر صلى الله علیه وسلم ۲۰ رکعته دتراویح لمونځ کړی دی، له حضور پاک وروسته عمر رضي الله عنه، عثمان رضي الله

---

۱ سنن النسائي ۱۵۸/۴حديث ۲۲۱۰:سنن ابن ماجه ۴۲۱/۱حديث ۱۳۲۸:مصنف ابن ابي شيبة ۱۶۵/۲حديث ۷۷۰۵

۲ شعب الايمان للبيهقي: ۲۳۳/۵حديث ۳۳۳۶: مشكوة المصابيح ۶۱۲/۱

۳ شعب الايمان للبيهقي:۲۳۴/۵ حديث ۳۳۵۲فضلئل شهررمضان

٤ صحيح مسلم:۸۳۲/۲حديث ۱۱۷۵كتاب الاعتكاف

٥ صحيح البخاري ۱۶/۱حديث ۳۷كتاب الايمان: صحيح مسلم ۵۲۳/۱حديث ۷۵۹كتاب صلاة المسافرين

عنه، علي رضي الله عنه، ټولو صحابه کرامو، تابعينو، مجتهدينو امامانو، مشايخو، اولياء کرامو رحمهم الله اونورو... پردغه عمل کړی دی، ټولو اسلامي ملکونو له ۱۴مې پيړۍ نه تر اوسه پر دې عمل کړی دی او ټول اسلامي امت په دغه اجماع او اتفاق لري، تفصيلات به يې وروسته راشي.

"تراويح" کلمه

حافظ ابن حجر عسقلاني رحمه الله ليکي: «والتراويح جمع ترويحة، وهي المرة الواحدة من الراحة كتسلمية من السلام». ژباړه: (تراويح د ترويحة کلمې جمع ده، ترويحة يو ځل استراحت ته وايي، لکه تسليمة چې يو ځل سلام کولو ته وايي[6].

د تراويح د نومونې لامل

ترويحة هغې ناستې ته وايي چې په هغې کې لږ ه دمه وي، له څلور رکعت تراويح نه وروسته لږه دمه وي، نوځکه څلور رکعته تراويح ته ترويحه وايي، دتراويح په لمانځه کې پينځه ترويحې دي، نو همدا لامل شو چې پنځه واړو ترويحو ته تراويح وايي.

حافظ ابن حجر عسقلاني رحمه الله ليکي: «سميت الصلاة في الجماعة في ليالي رمضان التراويح لأنهم أول ما اجتمعوا عليها كانوا يستر يحون بين كل تسليمتين. ژباړه: (هغه لمونځونه چې د روژې مبارکې په شپوکې په جماعت سره کېږي، هغه ته تراو يح وايي، ځکه صحابه کرامو رضي الله عنهم په دې اتفاق کړی و، چې څلور رکعت تراويح نه وروسته به يې دمه کوله) [7].

تراويح سنت مؤکد دي

پيغمبر صلی الله عليه وسلم تراويح لمونځ سنت ګڼلی، لکه چې د دې بحث په اول کې تېرشو، دپيغمبر صلی الله عليه وسلم له وفات وروسته، خلفاء راشدينو اوټول صحابه کرامو په تراويحو همېشه والی کړی دی، چې دا د تراويحو د لمانځه د سنت مؤکديت ښکارندويي کوي. حضرت عرباض بن سارية رضي الله عنه روايت کوي، چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم به مسلمانانو ته په خطاب کې ويل: «فعليكم بسنتي وسنة الخلفاء المهديين الراشدين، تمسكوا بها، وعضوا عليها بالنواجذ». ژباړه: (تاسو زما او زماد راشده خليفه ګانو سنت پر ځان لازم کړئ او منګولې پرې ولګوئ)[8].

په دې حديث شريف کې پيغمبر صلی الله عليه وسلم د «عليكم» او د «عضوا عليها بالنواجذ»، په ذکرکولو سره لکه څنګه چې يې په خپلو سنتو د عمل کولو تاکيد کړی دی، همدا راز يې د راشده خليفه ګانو پر سنتو د تاکيد حکم کړی دی، چې دا په خپله د تراويحو د سنت مؤکد والي دليل دی.

د تراويح لمونځ حضور صلی الله عليه وسلم درې شپې په جماعت سره ادا کړی دی

په جماعت سره د تراويح لمونځ يواځې درې شپې له پيغمبرصلی الله عليه وسلم څخه ثابت شوی دی. په احاديثو مبارکو کې دا خبره په ډاګه شوې، چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم صحابه کرامو ته د روژې مبارکې مياشتې له سر نه تر پايه د تراويح لمونځ نه دی ورکړی. حضرت ابوذر رضي الله عنه روايت کړی، عن ابي ذر قال: صمنا مع رسول الله صلى الله عليه وسلم رمضان، فلم يقم بنا شيئا من الشهر حتى بقي سبع، فقام بنا حتى ذهب ثلث اليل، فلما كانت السادسة لم يقم بنا، فلما كانت الخامسة قام بنا حتى ذهب شطراليل، فقلت: يارسول الله لو نفلتنا قيام هذه الليلة، قال: فقال «إن الرجل إذا صلى مع الإمام حتى ينصرف حسب له قيام ليلة»، قال: فلما كانت الرابعة لم يقم، فلما كانت الثالثة، جمع أهله ونساء ه والناس، فقام بنا حتى خشينا أن يفوتنا الفلاح، قال: قلت: وما الفلاح؛ قال السحور ثم لم يقم بقية الشهر.

ژباړه: (له حضرت ابوذر رضی الله عنه څخه روايت دی، هغه وايي؛ چې موږ پيغمبر صلی الله عليه وسلم سره روژه ونيوله، خو موږ ته يې د تراويح لمونځ را نه کړ، تر دې پورې چې د روژې مبارکې اوه ورځې پاتې شوې، بيا پيغمبر صلی الله عليه وسلم په درويشتمه شپه، د شپې له دريمې برخې وروسته موږ ته لمونځ راکړ ، په څلورويشتمه شپه يې لمونځ را نه کړ، خو په پينځه

---

6 - فتح الباري شرح صحيح البخاري:۲۵۰/۴؛وعمدة القاري للعيني: ۱۲۴/۱۱

7 - فتح الباري شرح صحيح البخاري:۲۵۰/۴

8 سنن ابی داود: ۴/ ۲۰۰حديث۴۶۰۷كتاب السنة باب في لزوم السنة: مسند احمد ۳۷۵/۲۸حديث ۱۷۱۴۵

ویشتمه شپه حضور صلی الله علیه وسلم د شپې له نیمایي برخې وروسته موږ ته لمونځ راکړ، ما حضور صلی الله علیه وسلم ته وویل: ای د الله رسوله! ښه خبره ده که دا پاتې شپه موږ ته لمونځ راکړې، حضور صلی الله علیه وسلم ورته په ځواب کې وویل، هر څوک چې امام سره د ماخوستن لمونځ وکړي، او بیا کور ته لاړ شي، د ټولې شپې د لمانځه ثواب د هغه په برخه شو، حضرت ابو ذر رضي الله عنه وایي: بله شپه (شپږویشتمه) پیغمبر صلی الله علیه وسلم موږ ته لمونځ را نه کړ، کله چې د روژې درې ورځې پاتې شوې حضور صلی الله علیه وسلم خپله کورنۍ او صحابه کرام رضي الله عنهم را ټول کړل، او اوه ویشتمه شپه یې موږ ته دومره ډېر لمونځ راکړ، چې موږ سره د پیشلمي د قضاء کېدو وېره پیدا شوه، بیا حضور صلی الله علیه وسلم موږ ته د روژې مبارکې په پاتې شپوکې لمونځ را نه کړ.[9]

پیغمبر صلی الله علیه وسلم د روژ ې مبارکې په پاتې شپو کې د تراویح لمونځ ور نه کړ، د دې وېره ورسره وه، چې دا په مسلمانا نو فرض نه شي، چې بیا به یې مسلمانان له اداکولو څخه عاجز وي، خو ټولو صحابه کرامو رضي الله عنهم د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د وینا (چې ما تاسو ته د روژې مبارکې په شپو کې قیام سنت گرځولی) مطابق د روژې په پا تې شپو کې تراویح په ورو جمعو او تنهایۍ سره کړی. حضور صلی الله علیه وسلم به د دوی لمونځونه لیدل او پرې خوشحالېده.

حضرت ابوهریرة رضی الله عنه روایت کوي: «خرج رسول الله صلی الله علیه وسلم فإذا أناس في رمضان یصلون في ناحیة المسجد، فقال: ما هولاء؟ فقیل هولاء ناس لیس معهم قران، وابي بن کعب یصلي، وهم یصلون بصلاته فقال النبي صلی الله علیه وسلم: اصابوا ونعم ما صنعوا.

ژباړه: (حضور صلی الله علیه وسلم یوه شپه راغی، گوري چې خلک په مسجد کې لمونځونه کوي، پیغمبر صلی الله علیه وسلم پوښتنه وکړه، دوی څه کوي؟ په ځواب کې ورته وویل شو، چې دوی حافظان نه دي، څکه ابی بن کعب پسې تراویحو کې اقتداء کوي، پیغمبر صلی الله علیه وسلم خوشحاله شو او ویې ویل: دا ښه کار دی چې دوی یې کوي).[10]

د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د تراویح د رکعتونو شمېر

پیغمبر صلی الله علیه وسلم به د تراویح لمونځ شل رکعته کاوه.

لومړی دلیل: د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما حدیث:

ابراهیم ابن عثمان عن الحکم عن مقسم عن ابن عباس أن رسول الله صلی الله علیه وسلم کان یصلي في رمضان عشرین رکعة والوتر.

ژباړه: (پیغمبر صلی الله علیه وسلم به په روژه مبارکه کې شل رکعته تراویح او وتر کول).[11]

د حدیث شریف په اړه لومړی خبره: دغه حدیث سندا حسن دی،[12] خو د علم اصول الحدیث مطابق د حسن په درجه کې قرار لري،[13] بلکې دغه حدیث د احنافو (کثر الله سوادهم) د اصولو مطابق د متواتر په درجه کې قرار لري. مختصرا به د دې حدیث په راویانو کې څه خبرې وکړو:

---

۹ سنن ابي داود:۲/۵۰: جامع الترمذي:۳/۱۰٦: سنن ابن ماجه:۱/۴۲۰:مسند احمد ۳۵/۳۳۱

۱۰ سنن ابي داود ۲/۵۰ حدیث۱۳۷۷. سنن الکبري للبیهقي ۲/٦۹۷حدیث۴۲۸۲: اوجزالمسالک الي موطا مالک ۲/۵۱۱و۵۱۲

۱۱ مصنف ابن ابي شیبة:۲/۱٦۴حدیث۷٦۹۲:المعجم الاوسط للطبراني ۵/۳۲۴حدیث ۵۴۴۰باب المیم من اسمه محمد: المعجم الکبیرللطبراني:۱۱/۳۹۳ حدیث ۱۲۰۴السنن الکبري للبیهقي:۲/٦۹۸حدیث ۴۲۸٦

۱۲اعلاء السنن للتهانوي:۷/۸۲:فتاوي دار العلوم دیوبند(عزیز الفتاوي):۱/۲٦۲چاپ دار اشاعت کراچي سال ۲۰۰۱میلادي: تجلیات صفدر ازمولانا محمدامین صفدراکاروي:۳/۱٦۹و۱۸۴و۱۸٦و۲۴۵و۳۰٦و۳۱۱مکتبه امدادیه ملتان

۱۳ د وهابیانو یومشرشیخ ناصرالباني دغه حدیث شریف په خپل کتاب صلاة التراویح ص ۲۲دابراهیم ابن عثمان عن الحکم عن مقسم عن ابن عباس د سند له امله ضعیف گرځولی، خود ده داوینا ناسمه ده څکه ده ډېرونورو ځایونوکې، چې د دي حدیث مفهوم د دوی د مذهب برابر وي حسن نه، بلکې صحیح بولې. دمثال په ډول: جامع الترمذي حدیث ۱۰۲٦ابواب الجنائز، باب ماجاء في القراة علي الجنازة بفاتحة الکتاب: سنن ابن ماجه حدیث ۱۴۹۵ کتاب الجناءز، باب ماجاء في القراءة علي الجنازة: صحییح المشکاة للالباني: حدیث ۱۷۷۳. نو دوهابیانو دمشرد قاعدې برابرهم دا حدیث صحیح ده.الله پاک د ي مونږ ټول د دین سوزونکي تعصب نه وساتي. امین.

۱ ـ د دې حديث راويان ټول ثقات دي، مګر ابراهيم بن عثمان ابو شيبة عبسي (رحمه الله) کې د محدثينو څه اختلاف شته، ډېرى محدثين ورته ضعيف وايي، خو ځينو يې توثيق او مدح کړې ده، لکه امام شعبه (رحمه الله) له ده روايت کوي او امام شعبه (رحمه الله) د محدثينو په نزد له ثقه راويانو روايت کوي او بس. قد رواه شعبة وهو لا يحمل عن مشايخه إلا صحيح حديثهم.[14]

۲ـ استاذ الاساتذة امام بخارى (رحمه الله) به د ابراهيم بن عثمان د دار القضاء د کاتب چې حضرت يزيد بن هارون نوميده، ډېر صفت کاوه، «ما قضى على الناس رجل يعني في زمانه أعدل منه».

ژباړه: (د ده په زمانه کې له ده نه عادل قاضي نه دى تېر شوى).[15]

۳ـ امام ابن عدى جرجاني (رحمه الله) د ده په هکله وايي: "وله أحاديث صالحة[16] " (دى ډېر درست احاديث لري)، او بيا وايي: «وهو وإن نسبوه إلي الضعف خير من ابراهيم بن أبي حية».

ژباړه: (خلک اګر که دى ضعيف بولي، خو د ده روايات د ابراهيم بن ابي حيه له رواياتو ښه دي).

د ابراهيم بن ابى حية په هکله امام يحى بن معين وايي: "شيخ ثقة كبير"، ژباړه: (ابراهيم بن ابي حية د احاديثو په رواياتو کې لوى د اعتماد وړ شخص دى).[17] ابراهيم بن ابى حية چې يو مختلف فيه راوي و او احاديث يې د حسن په درجه کې دي، نو د ابراهيم بن عثمان درجه خو په احاديثو کې له ده نه غوره ده، نو قاعدتا ويلى شو، چې د ده احاديث به په درجه کې له حسن نه ټيټ نه وي.[18]

۱۴ فتح الباري في شرح صحيح البخاري:۱۳۰۰قوله باب وضوء الرجل. مخکې شعبه (رحمه الله) چې د امام ابراهيم بن عثمان ابوشيبه (رحمه الله) په باره کې سه ويلي وو، علامه ذهبي (رحمه الله) په سير اعلام النبلاء کې د هغه ښکاره اود قناعت ورځوابونه کړي دي. سير اعلام النبلاء للذهبي ۲۲۱/۷-

۱۵ تهذيب الكمال في أسماء الرجال:۱۵۱/۲ابراهيم بن عثمان بن خواستي

۱۶ تهذيب الكمال في أسمال الرجال:۱۵۱/۲

۱۷ لسان الميزان لابن حجرالعسقلاني:۲۷۱/۱

۱۸ اعلاء السنن للتهانوي العثمانى:۸۲/۷باب التراويح

د حديث شريف په اړه دوهمه خبره:

دغه حديث شريف اګر که سندا حسن دى، خو د اصول الحديث مطابق د صحيح په درجه کې دى، لکه علامه سيوطي شافعي (رحمه الله) ليکي: «يحكم للحديث بالصحة إذا تلقاه الناس بالقبول وإن لم يكن له إسناد صحيح».

ژباړه: (کوم حديث شريف چې خلکو قبول کړى وي، هغه په درجه د صحيح کې وي، اګر که صحيح سند هم ونه لري.[19]

د احنافو د اصولو مطابق په درجه کې د حديث متواتر غوندې حيثيت لري، د علم الحديث اصول د احنافو علماوو په نزد دا دي: «الحديث إذا تلقته الأمة بالقبول فهو عندنا في معنى المتواتر ومن شأنه أن لا يشترط عدالة رجاله».

ژباړه: (کله چې حديث د امت مسلمه يوه ډله قبول کړي، هغه د متواتر حديث غوندې دى، د راويانو عدالت ته ضرورت نه لري).[20]

د بحث خلاصه دا شوه، چې دغه حديث شريف د حديثو د اصولو مطابق او د امت د قبولتيا په وجه صحيح او حجت دى.

دويم دليل: دحضرت جابر (رضي الله عنه) حديث

«عن جابر بن عبد الله قال خرج النبي صلى الله عليه وسلم ذات ليلة في رمضان فصلى الناس أربعة وعشرين ركعة و أوتر بثلاثة».

ژباړه: (حضرت جابر بن عبد الله وايي: پېغمبر صلى الله عليه وسلم د روژې مبارکې يو شپه کې تشريف راووړ، خلکو ته يې څلورويشت رکعته (څلور رکعت فرض اوشل رکعت تراويح) لمونځ او درې رکعته وتر په جماعت سره ورکړل.)[21]

د حديث شريف په اړه لومړى خبره: دغه حديث شريف اګر که د متن په اعتبار سره د حسن په مرتبه کې دى، خو د حديثو د اصولو مطابق او د امت د قبولتيا په سبب صحيح او حجت دى، دا حديث شريف څکه سندا حسن دى، چې د دې

۱۹ تدريب الراوي للسيوطي:۶۶/۱

۲۰ قواعد في علوم الحديث للتهانوي العثماني: ص ۶۲و۳۲

۲۱ تاريخ جرجان للمحدث الامام في الجرح والتعديل ألسهمي: ص ۳۱۶و۳۱۷ باب حروف العين

دوه راویانو (محمد بن حمید رازي ۲۴۸ ه ق مړ او عمر بن هارون بلخي ۱۹۴ ه ق مړ) کې د محدثینو کرامو اختلاف دی، او د مختلف فیه راوي روایت د علم الحدیث د اصولو برابر د حسن په مرتبه کې وي،[۲۲] نو د دې دواړو حدیث به هم د حسن په مرتبه کې وي او د قبول وړ او حجت به وي.

ددې دواړو راویانو په هکله څه تفصیل: محمد بن حمید رازي، مړ ۲۴۸ه ق: د ده احادیث په ترمذي شریف، ابوداود او سنن ابن ماجه کې موجود دی، ځنو محدثینو پر هغه نیوکې کړې دي، خو ډېرو محدثینو یې بیا مدح او کره والی بیان کړی دی.

امام أحمد بن حنبل (رحمه الله) به د ده کره والي بیاناوه.[۲۳]

او کله به یې ویل: «لایزال بالري علم ما دام محمد بن حمید حیا».

ژباړه: (تر څو چې د حمید زوی (محمد) په ری ښار کې ژوندی وي، د حدیثو علم به هلته همېشه وي).[۲۴] یحي بن معین د ده باره کې وایي: "ثقة لیس به بأس، رازي کیس".

ژباړه: (هغه ثقة دی، احادیثو کې یې هیڅ مشکل نه شته، رازي ځیرک دی).[۲۵]

امام جعفر طیالسي (رحمه الله) د ده باره کې وایي: «ثقة»، (هغه ثقه دی).[۲۶]

علامه ابن حجر (رحمه الله) لیکي: الحافظ. هغه د حدیثو حافظ دی.[۲۷]

علامه ابن الهیثمي (رحمه الله) لیکي: «وفي إسناد البزار محمد بن حمید الرازي وهو ثقة».

ژباړه: (د دې حدیث په سند کې په مسند البزار کې محمد بن حمید رازې واقع دی او هغه ثقة دی).[۲۸]

۲۲ قواعد في علوم الحدیث للتهانوي العثماني: ص۷۲
۲۳ طبقات الحفاظ للسیوطي:۲۱٦/۱محمد بن حمید، شماره ۴۷۹
۲٤ تذکرة الحفاظ للذهبي: ۲۵۸ محمد بن حمید حیان الرازی
۲۵ تهذیب الکمال للمزي:۱۰۰/۲۵و۱۰۱محمد بن حمید بن حیان التمیمي، شماره ۵۱٦۷
۲٦ تهذیب الکمال للمزي:۱۰۰/۲۵و۱۰۱
۲۷ تهذیب التهذیب.:۱۲۷/۹محمد بن حمید
۲۸ مجمع الزوائد للهیثمي:۲۹۰/۹حدیث ۱۵۵٦۸

عمر بن هارون بلخي، مړ ۱۹۴ هق: دی د جامع ترمذي، سنن ابي داود او سنن ابن ماجه شریف له راویانو څخه دی، ځنو محدثینو پر هغه نیوکې کړې دي، نورو یې بیا مدح، تعدیل او جرح په مختلفو الفاظو سره کړې ده. د ده باره کې علماء لیکي: «الحافظ الامام المکثر، عالم خراسان المحدث من أوعیة العلم أحسن أخذا للحدیث من ابن المبارک، کثیر السماع، کان قتیبة یطریه و یوثقه، مقارب الحدیث، قال ورأیته (ای الامام البخاري) حسن الرأي فیه».

ژباړه: (د حدیثو حافظ دی، په حدیثو کې امام دی، ډېر حدیث یې روایت کړي دي، د خراسان عالم دی، د علم خزانه ده، د حدیثو په اخذ کې له ابن المبارک نه غوره دی، ډېر حدیث یې اورېدلي، ثقه دی، مقارب الحدیث دی، امام بخارې د ده په هکله ښه نظر لري.[۲۹]

د حدیث شریف په اړه دویمه خبره: دغه حدیث شریف سندا حسن دی، خو د حدیثو د اصولو مطابق صحیح او حجت دی، ځکه چې د امت تلقي بالقبول نه برخمن دی. راشدینو خلفاوو، خاصکر حضرت عمر (رضي الله عنه)، حضرت عثمان (رضي الله عنه)، حضرت علي (رضي الله عنه)، ټولو صحابه کرامو، تابعینو، مجتهدو امامانو، مشایخو حضراتو، اولیاء کرامو او۰۰۰ په ټول تاریخ د اسلام کې پرې عمل کړی دی، ټول اسلامي ملکونه یې له ۱۴ پېړیو پخوا راهیسې تر ننه پورې مطابق عمل کوي، د پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) ټول امت پر هغه اتفاق او اجماع لري، له دې کبله صحیح او حجت دی، بلکې دغه حدیث د احنافو د اصولو مطابق (کثر الله سوادهم) د متواتر حدیث په درجه کې دی، نور یې نو په اسنادو کې خبرو ته ضرورت نه شته.

هیچ کس برهان نجوید بر وجود أفتاب
بر وجود اوظهور او دلیل روشن است
أفتاب امد دلیل أفتاب
گر دلیل خواهي روي از وي متاب

۲۹ تذکرة الحفاظ للذهبي ۲۴۸/۱و۲۴۹ عمرين هارون. سيراعلام النبلاء: ۴۱/۸عمرين هارون

راشـدین خلفـاء او تـراویح! ټـول صـحابه کـرام (رضي الله عـنهم) د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د وینا (چې ما د روژې مبارکې په شپوکې د تراویح لمونځ ستاسو لپاره سنت ګرځولی دی) مطابق د حضور صلی الله علیه وسلم په ژوند کې په دغه مبارک سنت عمل کونکي وو، د ورو ورو جمعو په شکل به درې یا څلورو تنو د تراویح لمونځ کاوه، کله کله به یې یوازې تراویح کولې او پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) به د دوی لمونځونه لیدل او د خوښۍ لامل یې ګرځېده. حضرت ابو هریرة (رضي الله عنه) وایي: «خرج رسول الله صلی الله علیه وسلم فإذا أناس في رمضان یصلون في ناحیة المسجد، فقال: ما هولاء ؟فقیل: هولاء ناس لیس معهم قرآن وأبي بن کعب یصلي وهم یصلون بصلاته فقال النبي (صلی الله علیه وسلم) أصابوا و نعم ما صنعوا».

ژباړه: (یو شپه حضور صلی الله علیه وسلم راغی، ګوري چې خلک په مسجد کې لمونځونه کوي، پیغمبر صلی الله علیه وسلم پوښتنه وکړه چې دا خلک څه کوي؟ په ځواب کې ورته وویل شو، چې دوی د قران کریم حافظان نه دي، له دې کبله دوی په أبی بن کعب پسې د تراویح لمانځه کې اقتداء کوي، پیغمبر صلی الله علیه وسلم وویل: ډېر ښه کار یې وکړ).[30] همدغه مضمون حضرت ثعلبه بن ابي مالک قرظي په نورو الفاظو سره روایت کړی، «قد احسنو، او قد أصابو، ولم یکره ذلک لهم».

ژباړه: (پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ښه کار یې وکړ، یا یې وویل: حق ته ورسېدل او پیغمبر صلی الله علیه وسلم دا کار بد ونه ګاڼه).[31]

د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له وفات وروسته مهاجرینو او انصارو حضرت ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) د خلیفه په توګه وټاکه، د ده د خلافت په ټوله زمانه کې تراویح د نبو ي دورې په شان کېدې. حضرت ابوهریرة (رضي الله عنه) روایت کړی دی: «ثم کان الأمر علي ذلک في خلافة ابي بکر وصدرا من خلافة عمر رضي الله عنهما».

ژباړه: (دغه شانته لمونځ د حضرت ابوبکر په زمانه کې او همدارنګه د حضرت عمر (رضي الله عنه) د خلافت په اولو مرحلو کې کېده).[32] یعنې د ابو بکر صدیق (رضي الله عنه) په زمانه کې د تراویح لمونځ د جماعت په شکل نه کېده، ځکه ابوبکر (رضي الله عنه) د خلافت په زمانه کې د هغه فتنو چې نوې پیدا شوې وې، لکه ارتداد، د نبوت مدعیان، د زکات منکرین، په له منځه وړلو کې مصروف و، دومره فرصت یې پیدا نه کړ چې دې مسئلې ته پوره توجه وکړي.

حضرت ابوبکر (رضي الله عنه) په کال ۱۳ه د جمادي الثاني په۲۲مه نېټه له دې دنیا سترګې پټې کړې. د خلافت چارې حضرت عمر رضي الله عنه ته وسپارل شوې، د ده د خلافت په لومړي کال هم د تراویح لمونځ د حضرت ابوبکر رضي الله عنه د خلافت د زمانې په شان وشو، حضرت عمر رضي الله عنه د خپل خلافت په دویم کال رسمي فرمان صادر کړ، چې د تراویح لمونځ دې نور په جماعت سره وشي.[33] امام بخاري رحمه الله دا واقعه داسې نقل کړې ده. عن عبد الرحمن بن عبد القاري أنه قال خرجت مع عمر بن الخطاب رضي الله عنه لیلة في رمضان الي المسجد فإذ الناس أو زاع متفر قون یصلي الرجل لنفسه، ویصلي الرجل فیصلي بصلاته الرهط، فقال عمر: إني أری لو جمعت هولاء علي قارئ واحد لکان أمثل ثم عزم فجمعهم علي أبي بن کعب، ثم خرجت معه لیلة أخری والناس یصلون بصلاة قارئهم، قال عمر: نعم البدعة هذه.

ژباړه: (حضرت عبد الرحمن (رضي الله عنه) وایي، د روژې مبارکې یوه شپه کې زه او حضرت عمر رضي الله عنه مسجد ته لاړو، هلته مو خلک ولیدل، چې تنها تنها، یا وړوکو جماعتونو سره یې لمونځونه کول، حضرت عمر (رضي الله عنه) چې کله دا حال ولید، ویې ویل: که چېرې دا ټول خلک راجمع کړو او یو امام پسې د تراویح لمانځه اقتداء وکړي، نو دا به ښه خبره وي، وروسته بیا عمر رضي الله عنه کلک هوډ وکړ، چې دا کار به وکړي، څو ورځې وروسته بیا عمر رضي الله عنه خلک د ابي بن کعب په امامت راجمع کړل، او تراویح لمونځ یې په جمع سره کاوه، د څو ورځو په تېرېدو یو ځل بیا زه او عمر (رضي الله عنه)

۳۰ سنن ابي داود:۲/۵۰حدیث ۱۳۷۷باب تفریع أبواب شهر رمضان، باب في قیام شهررمضان

۳۱ السنن الکبري للبیهقي:۲/۶۹۷حدیث۴۲۸۲ جماع أبواب صلاةالتطوع، وقیام شهررمضان

۳۲ صحیح البخاري:۳/۴۴حدیث ۲۰۰۹باب فضل من قام رمضان

۳۳ الحاوي للفتاوي للسیوطي:۱/۴۱۶ المصابیح في صلاة التراویح

یوه شپه مسجد ته لاړو، ګورو چې خلک دا ځل د یو امام په اقتداء کې د تراویح لمونځ ادا کوي، عمر (رضي الله عنه) د دې حال په لیدو سره وویل، دا ډېر ښه کار دی).[٣٤] له پورتني مضمون څخه معلومه شوه، چې پېغمبر (صلی الله علیه وسلم) د تراویح لمونځ درې شپې ادا کړی دی، وروسته د فرضیت د وېرې له امله پرېښودل شوی. خو صحابه کرام رضوان الله عنهم د پېغمبر صلی الله علیه وسلم د وینا (چې ما د روژې د شپې تراویح لمونځ تاسو لپاره سنت ګرځولی دی)، (دا حدیث د دې کتاب په سر کې ذکر شوی) مطابق یوازې یوازې، یا دوه، درې، څلور کسانو په جماعت سره ادا کاوه. لکه تراویح لمونځ چې د ابي بن کعب په امامت ادا شوی، پېغمبر (صلی الله علیه وسلم) د صحابه کرامو په دغه کار خوشحاله شو او وې ویل، چې دوی ډېر ښه کار وکړ. او همدارنګه پوی شوئ، چې امیر المومنین حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) اولنی کس دی، چې تراویح لمونځ یې په جماعت سره رسما پیل کړ، له دې کبله دې ته سنت عمري وایي.

د راشده خلفاء تراویح. د حضرت عمر (رضي الله عنه)، حضرت عثمان (رضي الله عنه)او حضرت علي (رضي الله عنه) د خلافت په زمانو کې تراویح شل رکعته کېدې، تفصیلات به یې لاندې را شي.

د حضرت عمر (رضي الله عنه) د تراویح لمانځه د رکعتونو شمېر. د حضرت عمر (رضي الله عنه) د تراویح د رکعتونو شمېر اوه کسانو روایت کړی دی، او ټولو شل رکعته روایت کړي دي، روایتونه یې په لاندې ډول دي.

لومړی: حضرت ابي بن کعب (رضي الله عنه): عن ابي بن کعب ان عمر بن الخطاب أمر أبي بن کعب ان یصلي باللیل في رمضان فقال: ان الناس یصومون النهار ولا یحسنو ن ان یقرءوا، فلو قرأت القران علیهم باللیل فصلی بهم عشرین رکعة.

ژباړه: (له ابي بن کعب نه روایت دی چې امیر المومنین عمر رضي الله عنه هغه ته امر وکړ، چې خلکو ته د روژ ې په شپو کې لمونځ ورکړه، او وې ویل چې خلک ټوله ورځ روژه نیسي، خو ښه قراءت نه شي کولای، که د شپې هغوی ته لمونځ ورکړې او قرأت ورته واوروې، دا به غوره وي، حضرت ابي بن کعب (رضي الله عنه) به له دې وروسته خلکو ته شل رکعته د تراویح لمونځ ورکاوه.[٣٥] دا حدیث صحیح دی او راویان یې ټول ثقه دي.[٣٦]

دوهم حضرت سائب:

حدثنا علي أنا ابن أبي ذئب، عن یزید بن خصیفة، عن السائب بن یزید، قال: کانوا یقومون علی عهد عمر في رمضان بعشرین رکعة وإن کانوا لیقرءون بالمئین من القرآن.

ژباړه: (حضرت سائب رضي الله عنه وایي: د حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت په زمانه کې به صحابه کرامو شل رکعته تراویح کولې، او په هغې کې به یې سل سل ایت لرونکي سورتونه قرأت کول.[٣٧] د دې حدیث شر یف راویان ټول د بخاري شریف او مسلم شریف راویان دي، دغه حدیث شریف د امام بخاري او امام مسلم د شروطو مطابق صحیح ده.[٣٨]

عن السائب بن یزید قال: کانوا یقومون علی عهد عمر بن الخطاب رضي الله عنه في شهر رمضان بعشرین رکعة، قال: وکانوا یقرءون بالمئین وکانوا یتوکئون عصیهم في عهد عثمان بن عفان رضي الله عنه من شدة القیام.

ژباړه: (حضرت سائب رضي الله عنه وایي: د حضرت عمر رضي الله عنه د خلا فت په زمانه کې به صحابه کراموشل رکعته تراویح کولې، اوقاریانو به سل سل ایت لرونکې سورتونه په کې تلاوت کول، ، د حضرت عثمان رضي الله عنه د خلافت په زمانه کې به خلکو د اوږد قیام له امله په امساګانو تکیه کوله)[٣٩]. د دې حدیث راویان ټول ثقه او عادل دي، دا حدیث صحیح دی، د

---

٣٤ صحیح البخاري:٣/٤٥حدیث٢٠١٠باب فضل من قام رمضانس

٣٥ مسنداحمدبن منیع:به حواله اتحاف الخیرةالمهرةبزوئدالمسانید العشرة للبوصیري الکناني الشافعي:٢/٣٨٤حدیث١٧٢٦کتاب النوافل ا الاحادیث المختارة:٣/٣٦٧حدیث ١١٦١اکنز العمال:٨/٤٠٩حدیث ٢٣٤٧١

٣٦ تراویح بیست رکعت سنت مؤکده است، ازمولاناالیاس ګمن: ص٢٥

٣٧ مسند ابن الجعد:ص ٤١٣حدیث ٢٨٢٥ مخلدبن خفاف

٣٨ تراویح بیست رکعت سنت مؤکده است، از الیاس ګمن:ص٢٥

٣٩ السنن الکبري للبیقي:٢/٦٩٨و٦٩٩حدیث ٤٢٨٨اقیام اللیل للمروزي:ص ٨٠:فضائل الاوقات للبیهقي:ص٢٧٦حدیث١٢٧اعمدة القاري للعیني:١١/١٢٧:أدلة الحنفیةمن الاحادیث النبویةللبهلوي:ص٢٢٧حدیث٦١٣باب في التراویح بعشرین رکعات

حديثو د فن امامانو او حفاظو، لکه امام نووي، امام ابن العراقي، امام سيوطي، علامه نيموي، علامه تهانوي، علامه بهلوي او علامه اعظمي (رحمهم الله) د احديث شريف صحيح ګرځولی دی.[40]

حدثني يزيد بن خصيفة عن السائب بن يزيد قال: كنا نقوم في زمان عمر الخطاب بعشرين ركعة و الوتر. ژباړه: حضرت سائب (رضي الله عنه) وايي موږ (صحابه کرامو) به د حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت په زمانه کې شل رکعته تراويح او وتر کول[41]. دا حد يث صحيح دی، امام سبکي، امام علي قاري هروي، علامه بهلوي، علامه تهانوي او علامه اعظمي دغه حديث شريف صحيح ګرځولی دی.[42]

وروى مالک من طريق يزيد بن خصيفة عن السائب بن يزيد عشرين ركعة. ژباړه: حضرت سائب رضي الله عنه وايي، چې د حضرت عمر د خلافت په زمانه کې شل رکعته تراويح کېدې[43]. د دې حديث راويان ټول د بخارې او مسلم راويان دي، دغه حديث د امام بخاري او امام مسلم د شروطو مطابق صحيح دی، هو به هو همدغه سند په بخارې شريف او مسلم شريف کې شته[44].

عن السائب بن يزيد قال: وكان القيام علي عهد عمر ثلاثة وعشرين ركعة. حضرت سائب رضي الله عنه وايي: د حضرت عمر د خلافت په زمانه کې درې رکعته وتر او شل رکعته تراويح کېدلې.[45]

٤٠ اثارالسنن للنيموي:ص ٢٥١حديث ٧٧٨:اعلاء السنن للتهانوي:٦٩/٧حديث ١٨٢١:أدلة الحنفيةمن الاحاديث النبوية للبهلوي:ص٢٢٧حديث٦١٣/ سيراعلام النبلاء للذهبي:٤٠١/١:بذل المجهود في حل سنن أبي داود:١٩/٣تحت حديث ١٣٧٧

٤١ معرفة السنن والاثارللبيهقي:٤٢/٤حديث ٥٤٠٩كتاب الصلاة، قيام رمضان / اعلاء السنن للتهانوي:٦٩/٧حديث ١٨٢١باب التراويح /فتح باب العناية للقاري: ٣٤٢/١فصل في صلاة التراويح

٤٢ اعلاء السنن للتهانوي:٦٩/٧حديث ١٨٢١باب التراويح / أدلة الحنفية من الاحاديث النبوية للبهلو:ص٢٢٧حديث٦١٣باب في التراويح بعشرين ركعة / ركعات تراويح:ص٦٣بحواله درس ترمذي:٦٥٧/٢

٤٣ فتح الباري لابن حجر:٢٥٣/٤: نيل الاوطار:٦٥/٣تحت حديث٩٤٦

٤٤ صحيح البخاري: ١٠٣/٣حديث ٢٣٢٣كتاب المزاعة، باب اقتناء الكلب للحرث /صحيح مسلم: ١٢٠٤/٣حديث ١٥٧٦كتاب المساقاة، باب الامربقتل الكلاب وبيان نسخه

٤٥ مصنف عبد الرزاق:٢٦١/٤حديث ٧٧٣٣كتاب الصوم، باب قيام رمضان

دريم حضرت محمد بن کعب قرظي رحمه الله:

و قال محمد بن كعب القرظي، كان الناس يصلون في زمان عمر بن الخطاب رضي الله عنه في رمضان عشرين ركعة يطيلون فيها القراء ة و يوتر ون بثلاث.

ژباړه: جليل القدر تابعي حضرت محمد بن کعب قرظي (رحمه الله) وايي خلکو به د حضرت عمر د خلافت په زمانه کې شل رکعته تراويح او درې رکعته وتر کول.[46] دغه حديث شر يف هم صحيح دی.[47]

څلورم حضرت ابن رومان (رحمه الله)

عن يزيد بن رومان انه قال: كان الناس يقومون في زمان عمر بن الخطاب بثلاثة وعشرين ركعة في رمضان.

ژباړه: (حضرت ابن رومان رحمه الله روايت کوي، چې خلکو به د عمر رضي الله عنه د خلافت په زمانه کې درويشت رکعته لمونځ کاوه).[48] (شل رکعته تراويح او درې رکعته وتر). دغه حديث شريف قوي مرسل دی، دغه حديث شريف صحيح دہ، د دې حديث شريف د سند تفصيل به ان شاء الله باب في التراويح بعشرين ركعات کې وکتل شي[49].

پنځم حضرت يحي بن سعيد رحمه الله

عن يحي بن سعيد أن عمر بن الخطاب أمر رجلا يصلي بهم عشرين ركعة.

ژباړه: (حضرت يحي بن سعيد رحمه الله وايي، چې امير المومنين حضرت عمر رضي الله عنه يو سړي ته امر وکړ، چې

٤٦ قيام اليل للمروزي:ص ١٥٧ / قيام رمضان للمروزي: ص٢٢٠باب عدد الركعات التي يقوم بها الامام للناس في رمضان

٤٧ تراويح بيست ركعت سنت مؤكده است، ازمولاناالياس گمن: ص ٢٩تا٣١

٤٨ مؤطا مالک:١١٠/١حديث ٢٨١باب وقوت الصلاة، باب ماجاء في قيام رمضان /اثارالسنن للنيموي:ص ٢٥٣حديث ٧٧٩ باب في التراويح بعشرين ركعات /ادلة الحنفية من الاحاديث النبوية للبهلوي:ص ٢٢٧حديث ٦١٥باب في التراويح بعشرين ركعة / بذل المجهود في حل سنن أبي داود:٢٠/٣تحت حديث ١٣٧٧

٤٩ تراويح بيست ركعت سنت مؤكده است، ازمولانا الياس گمن:ص٢٨

خلکو ته شل رکعته تراويح لمونځ ورکړي).[50] دغه حديث قوي مرسل دی.[51] او راويان يې ټول ثقه دي.[52]

شپږم حضرت عبد العزيز بن رفيع رحمه الله:

عن عبد العزيز بن رفيع قال: كان أبي بن كعب يصلي بالناس في رمضان بالمد ينة عشرين ركعة ويوتر بثلاث.

ژباړه: (عبد العزيز بن رفيع رحمه الله وايي، حضرت ابي بن كعب به د روژې په مياشت كې خلكو ته مدينه منوره كې شل ركعته تراو يح او درې ركعته وتر لمونځ وركاوه.[53] دغه حديث شريف قوي مرسل دی او صحيح دی.[54] مشهور قول دی چې أبي بن كعب د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د خلافت په زمانه كې وفات شوی دی.[55] نو ويلی شو چې حضرت عبد العزيز رحمه الله به د عمر رضي الله عنه د زمانې تراويح بيان كړې وي، ځكه مو د هغه حديث دلته ذكر كړ.

اووم حضرت حسن بصري (رحمه الله)

عن الحسن أن عمر بن الخطاب جمع الناس علي أ بي بن كعب فكان يصلي لهم عشرين ركعة.

ژباړه: (حسن بصري (رحمه الله) وايي، حضرت عمر (رضي الله عنه) خلک أبي بن كعب ته راټول كړل (ترڅو خلكو ته د روژې په شپو كې تراويح وركړي). حضرت أبي بن كعب (رضي الله عنه)

به له دې وروسته خلكو ته شل ركعته د تراويح لمونځ وركاوه).[56] د دغه حديث راويا ن ټول ثقه دي، تفصيلات به وروسته راشي.[57]

د ډېرو رواياتوخلاصه: د ډېرواحاديثو خلاصه داده چې د حضرت عمر رضي الله دخلافت په زمانه كې په شل ركعته تراويحو باندې مواظبت قولا، فعلا او تقريرا ثابت دی، او حضرت عمر (رضي الله عنه) د ټولو مهاجرو او انصارو صحابه كرامو په موجوديت كې دا كار جاری كړ او هيچا په هغه اعتراض ونه كړ، نو دا په شل ركعته تراويحو د صحابه كرامو اجماع شوه.

د حضرت عثمان رضي الله عنه د تراويحو بيان د حضرت عثمان رضي الله عنه د خلافت په زمانه كې هم لكه د حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت د زماني په شان شل ركعته تراويح كېدې، او د قرآن كريم حافظانو به سل سل ا يت لرونكي سورتونه تلاوت كول، خلكو به د ستړيا له امله په امساګانو تكيې كولې، لكه چې حضرت سائب رضي الله عنه وايي. عن السائب بن يزيد قال: كانوا يقومون علي عهد عمربن الخطاب رضي الله عنه في شهر رمضان بعشرين ركعة قال: وكانوا يقره ون بالمئين وكانوا يتوكئون علي عصيهم في عهد عثمان بن عفان رضي الله عنه من شدة القيام.

---

٥٠ مصنف ابن ابي شيبة:٢/١٦٣حديث ٧٨٢٢كتاب الصلاة التطوع والامامة وأبواب متفرقة، كم يصلي في رمضان من ركعة /أثار السنن للنيموي:ص ٢٥٣حديث ٧٨٠باب في التراويح بعشرين ركعات

٥١ اثارالسنن للنيموي:ص ٢٥٣حديث ٧٨٠|بذل المجهود في حل سنن أبي داود: ٢٠/٣تحت حديث ١٣٧٧.

٥٢ اعلاء السنن للتهانوي: ٧٠/٧حديث ١٨٢٢باب التراويح

٥٣ مصنف ابن ابي شيبة:٢/١٦٣حديث ٧٦٨٤| اقار السنن مع تعليق الحسن للنيموي:ص ٢٥٣حديث ٧٨١|اعلاء السنن للتهانوي:٧٠/٧ حديث ١٨٢٣

٥٤ اثار السنن للنيموي:ص ٢٥٣حديث ٧٨١ / اعلاء السنن للتهانوي: ٧٠/٧حديث ١٨٢٣ / سيرأعلام النبلاء:١/ ٤٠١ / بذل المجهود في حل سنن أبي داود: ٣ /٢٠

٥٥ تهذيب التهذيب لابن حجر: ١/ ١٨٨

٥٦ جامع المسانيد والسنن لابن كثير ١/ ٨٦حديث ٣١ حرف الألف/ سير اعلام النبلاء للذهبي:٣/ ٢٤٢ / سنن ابي داؤد٢/ ٦٥ حديث ١٤٢٩

٥٧ تراويح بيست ركعت سنت مؤكده است، ازمولانا الياس گ٢من: ص ٣٣و ٣٤

ژباړه: (حضرت سائب رضي الله عنه وايي، صحابه کرامو او تابعينو به د حضرت عمر رضي الله عنه او د حضرت عثمان رضي الله عنه د خلافت په زمانو کې تراويح شل رکعته کولې، د قران کريم حافظانو به سل سل ايت لرونکي سورتونه تلاوت کول، خلک به د حضرت عثمان رضي الله عنه د خلافت په زمانه کې د اوږدو ايتونو له امله ستړي کېدل، بيا به يې په خپلو امساګانو باندې تکيې کولې.[٥٨] د غه حديث شريف صحيح دی،[٥٩] امام بخاري او امام مسلم هم دې حديث ته صحيح ويلي.

د حضرت علي رضي الله عنه د تراويحو بيان:

د امير المومنين حضرت علي رضي الله عنه د خلافت په زمانه کې هم تراويح شل رکعته کېدلې. دغه احاديث درې بزرګانو روايت کړي دي.

لومړی د پيغمبر صلی الله عليه وسلم لمسی، حضرت حسين رضي الله عنه

حدثني زيد بن علي عن ابيه عن جده عن علي أنه امر الذي يصلي بالناس صلاة القيام في شهر رمضان ان يصلي لهم عشرين ركعة يسلم في كل ركعتين ويراوح ما بين كل اربع ركعات فيرجع ذو الحاجة و يتوضأ الرجل، وأن يوتر بهم من أخر اليل حين الانصراف.

ژباړه: (حضرت زيد(رحمه الله) له خپل پلار حضرت امام زين العابدين (رحمه الله) نه او هغه له خپل والد محترم حضرت امام حسين نه روايت کوي، چې امير المومنين علي رضي الله عنه هغه سړي ته چې د تراويحو د امامت دنده يې ورته سپارلې وه، امر وکړ چې خلکو ته دې شل رکعته تراويح لمونځ ورکړي، او له هر دوه رکعته وروسته دې سلام وګرځوي، او د هر څلور رکعته

٥٨ السنن الكبري للبيهقي: ٢/ ٦٩٨و٦٩٩حديث ٤٢٨٨كتاب الصلاة / معرفة الاثار والسنن للبيهقي:٤/ ٤٢حديث ٥٤٠٩ كتاب الصلاة قيام رمضان

٥٩ اثار السنن للنيموي: ص ٢٥١حديث ٧٧٨باب في التراويح بعشرين ركعة / اعلاء السنن للتهانوي: ٧/ ٦٩ حديث ١٨٢١باب التراويح / ادلة الحنفية من الاحاديث النبوية للبهلوي:ص ٢٢٧حديث ٦١٣باب في التراويح بعشرين ركعة / سير اعلام النبلاء للذهبي:١ /٤٠١

وروسته دې دومره دمه وکړي، چې خلک اودسونه تازه کړي، او دا يې هم ورته وويل چې وتر دې په اخر کې خلکو ته ورکړي.[٦٠]

د دې حديث شريف راويان ټول د رسول کريم صلی الله عليه وسلم اهل بيت دي او ټول ثقه دي.[٦١]

دويم: حضرت عبد الرحمن سُلمِي (رحمه الله) عن أبي عبد الرحمن السلمي، عن علي رضي الله عنه قال: دعا القرأء في رمضان فأمر منهم رجلا يصلي بالناس عشرين ركعة، قال وكان علي رضي الله عنه يوتر بهم.

ژباړه: (حضرت ابو عبد الرحمن سلمي رحمه الله وايي، امير المومنين علي رضي الله عنه روژه مبارکه کې د قران کريم حافظان خپل خواته راوبلل او په هغوی کې يې يو کس ته امر وکړ، چې خلکو ته شل رکعته تراويح لمونځ ورکړي، حضرت علي رضي الله عنه به په وترو کې خپله امامت کاوه.[٦٢] دغه حديث شريف د استدلال او حجت وړدی.[٦٣]

دريم حضرت ابو الحسناء (رحمه الله):

عن ابن أبي الحسناء أن عليا أمر رجلا يصلي بهم في رمضان عشرين ركعة.

ژباړه: (حضرت ابو الحسناء روايت کوي، چې امير المومنين حضرت علي رضي الله عنه يو سړي ته امر وکړ، چې خلکو ته روژه مبارکه کې شل رکعته تراويح ورکړي.[٦٤] دغه حديث شريف د حسن په درجه کې دی.[٦٥] دغه حديث شريف روښانه کوي، چې حضرت علي رضي الله عنه به خلکو ته د شل رکعته تراويحو په ادا کولو امر کاوه.

٦٠ مسند الامام زيدبن علي:ص ١٣٩جاپ بيروت وص ١٣٣جاپ لاهورباب القيام في شهر رمضان

٦١ تراويح بيست ركعت سنت مؤكده است ازمولانا الياس گمن:ص ٣٨ تا٤٠

٦٢ السنن الكبرى للبيهقي:٢/٦٩٩حديث ٤٢٩١باب ماروي في عدد ركعات القيام في شهر رمضان / اثار السنن مع تعليق الحسن للنيموى:ص٢٥٤باب فى التراويح بعشرين ركعات

٦٣ تراويح بيست ركعت سنت مؤكده است ازمولانا الياس گمن:ص ٣٨تا٤٠

٦٤ مصنف ابن شيبة: ٢/١٦٣حديث ٧٦٨١ /اثارالسنن مع التعليق الحسن:ص ٢٥٥ / اعلاء السنن للتهانوي:٧/ ٧٧

٦٥ اعلاء السنن للتهانوي:٧/٨٨باب التراويح .

د شهید مولوي نسیم الله صدیقي

ژوند ته کتنه

عبدالرؤف حکمت

مرگ حق دی، له الله تعالی پرته هرشی د مرگ څکه کوي،خو لکه څنگه چې هرنفس له مرگ سره مخامخیدل یو محکم حقیقت دی همدارنگه دا هم یوه منل شوې خبره ده چې د ځینو کسانو له دنیا څخه رحلت په ظاهره مرگ بلل کیږي اما حقیقتا هغوی د تلپاتې ژوند په انعام وياړل شوي وي.

الله تعالی د حق دلارې د شهیدانو په اړه فرمايلي دي : ژباړه: او تاسو د الله تعالی په لار کې په وژل شويو کسانو د مړو گمان مه کوئ، بلکې هغوی ژوندي دي د الله تعالی په نزد رزق ورکول کیږي .۱۶۹سورة آل عمران

د الله تعالی په نزد هر هغه څوک شهید بلل کیږی چې دالله تعالی په لار کې ورته مرگ حاضر شي، که څه هم په مخامخ جنگ کې د دښمن په مرمۍ نه وي لگيدلی،څکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: من نصل (اي خرج) في سبيل الله فمات أو قتل فهو شهيد ، أو وقصه فرسه أو بعيره أو لدغته هامة ، أو مات على فراشه بأي حتف شاء الله فإنه شهيد وإن له الجنة) [أخرجه أبو داوود]

شهید مولوي نسیم الله صدیقي چې د حق دلارې يو مخلص مجاهد و کله چې په جهادي سفر کې زخمي شو الله تعالی ورته شفاء نصیب کړه اما په همدې سفر کې ورته داسې مرض پیښ شو چې دده د وفات سبب شو او خپل روح یې اصلي مالک ته وسپاره،څرنگه چې ددغه مرض حدوث د جهادي خدمت په وخت کې و نوځکه نوموړي ته د شهید ویاړمن لقب ورکولای شو.

مولوي نسیم الله

مولوي نسیم الله صدیقي د مولوي حمیدالله زوی د مولوي عبدالحکیم لمسی په ۱۳۴۸ هـ ش کال د افغانستان د تخار ولایت د فرخار په ولسوالۍ کې دنیا ته راغلی.

نوموړی چې په یوه علمي او دین دوسته کورنۍ کې زيږيدلی و، والدین یې له کوچنيوالي ديني تربيې ته متوجه و چې په دې لړ کې یې نوموړی د ماشومتوب په مهال د فرخار ولسوالۍ په خسده سیمه کې د مولوي حبیب الله اخندزاده په نوم له عالم سره شاگرد کړ تر څو خپلې ابتدايي ديني زده کړې ترې حاصلې کړي .

په افغانستان د شورويانو له يرغل وروسته کله چې په مليونونو افغانان د خپل هيواد پريښودلو او هجرت ته مجبور شول د مولوي نسیم الله کورنۍ هم په ۱۳۵۹ هـ ش کال له خپلې اصلي سيمې تخار څخه د پاکستان د خیبرپښتونخوا د صوابۍ سیمې ته هجرت وکړ او هلته په درگي نومي کمپ کې ځای په ځای شول.

مولوي نسيم الله چې دغه مهال ماشوم و، ديني زده کړو ته يې دوام ورکړ او دپاکستان په مختلفو مدارسو کې يې ديني کتابونه ولوستل تردې چې د فنونو کتابونه يې خلاص او وړې دورې پورې يې خپله تعلمي سلسله ورسوله .

د طالبانو له تحريک سره پيوستون

مولوي نسيم الله صديقي په ۱۳۷۳ هـ ش کال د پاکستان په مردان کې په يوه مدرسه کې د وړې دورې کتابونه لوستل،نوموړی د يوه خواريکښ او د علم د عاشق طالب په حيث يوازې ديني تعلم ته متوجه و او ددنيا په نورو جرياناتو يې کار نه درلود، همدغه مهال د افغانستان په کندهار ولايت کې د طالبانو اسلامي تحريک قيام وکړ، او له بيلابيلو مدارسو څخه د طالبانو د پيوستون بهير ورسره پيل شو.

په همدې شپې ورځو کې د احاديثو او تفسير طالب مولوي نسيم الله په خوب کې رسول الله صلی الله عليه وسلم ويني چې ورته وايي: لاړ شه او د طالبانو د تحريک ملګری شه!

مولوي نسيم الله چې له خوبه راپاڅيږي په هماغه سهار خپل کتابونه کت کوي او له څو تنو نورو ملګرو سره يوځای د کندهار په خوا روانيږي ترڅو د طالبانو له اسلامي تحريک سره ملګری شي،دغه وخت طالبانو د کندهار ښار او په جنوب کې ګني نورې سيمې فتح کړې وې او د کابل په خوا د پرمختګ په حال کې وو.

په اسلامي امارت کې خدمتونه

مولوي صاحب نسيم الله چې د تخار،کندز، بغلان، سمنګان اولغمان ولاياتو يو شمير طالبان ورسره و د طالبانو د اسلامي تحريک سره ملګری شو،دزابل، غزني او ميدان وردګ له تصفيې وروسته دوی کابل ته ورسيدل او د لوګر لخوا د چهاراسياب په خط کې ځای په ځای شول،دلته د مولوي نسيم الله د مسؤليت ساحه د ريشخورو فرقې ته څيرمه وه،همدغه مهال نوموړي ته د عاليقدر اميرالمؤمنين لخوا د تخار ولايت د طالبانو د مشرۍ چاره وسپارل شوه،مولوي نسيم الله صاحب د چهاراسياب په جهادي کرښه کې خپل مسؤليت په ډيره ايمانداری ترسره کړ،همدلته يې دوه تنه تکړه او نږدې ملګري مخدوم لطيف صاحب او ملا موسی جان شهيدان شول،د چهاراسياب او محمدآغې په سيمه کې دجهادي چارو سره هم مهال نوموړي ته د شهيد مولوي احسان الله احسان صاحب لخوا چې هغه وخت د خوست والي ود خوست ښار د امنيت مسؤليت وسپارل شو،چې ددې ښار په امن کولو او د نظم په اعاده کې يې د ياد وړ نقش ولوباوو.

د کابل له فتحې څه موده وړاندې چې کله د پکتيکا په اورګون ولسوالۍ کې د خالد فاروقي او يوشمير نورو مخالفو وسلوالو لخوا تعرض پيل شو، مولوي نسيم الله صديقي له خپلو ملګرو سره اورګون ته لاړ او د شروفساد د ټوپکيانو د تغر ټولولو په عملياتو کې يې برخه واخيسته.

مولوي نسيم الله صديقي لا په پکتيکا کې و،چې د پلازمينې کابل د فتحې لپاره د شهيد ملابورجان په مشرۍ عمليات پيل شول، دغه عمليات چې د پکتيا د سپينې شګې سيمې له نيولو سره پيل شول مولوي نسيم الله ورسره له همدې ځايه ملګری شو، نوموړي او تر قومانده لاندې ملګرو يې د دننګرهار او لغمان ولايت د تصفيې په عملياتو کې عملي ونډه درلوده، د لغمان په ولايت کې د عليشنګ ، علينګار او دولت شاه ولسواليو د تصفيې او د شروفساد له عناصرو څخه د خلاصولو مسؤليت د مولوي

نسيم الله صاحب په غاړه وهچې خپله دغه وظيفه يې په ډېره ښه توګه انجام کړه .

د پلازمېنې کابل د فتحې په تعقيب چې کله دپروان ولايت مرکز هم فتحه شو،مولوي نسيم الله صديقي له لغمان څخه پروان ته راغی او د اسلامي امارت د مشرتابه لخوا د پروان د امنيه قومندان په حيث وټاکل شو.

د مولوي نسيم الله نږدې ملګري مولوي محمد محسن هاشمي چې هغه مهال يي له نوموړي سره د امنيه قومنداني د مرستيال په حيث دنده اجراء کوله وايي: مولوي صاحب په هغو پيچيده شرايطو کې خپله دنده په ډېره ښه توګه ترسره کړه،د نوموړي په هڅو په شمالي کې ددښمن ډېر قومندانان او افراد په سوله ييزه توګه له جګړې لاس په سر شول او له اسلامي امارت سره يوځای شول، زما په ياد چې د مخالفينو يو مشهور قومندان چې آصف نوميده د مولوي نسيم الله صاحب د دعوت په برکت نه يوازې له خپلو وسلوالو سره له مخالفت څخه لاس په سر شو بلکې يو موټر مهمات او وسلې يې هم اسلامي امارت ته تسليم کړې.

د افغانستان د کار او ټولنيزو چارو د لوی رياست پخواني رئيس مخدوم عبدالسلام سعادت صاحب د مولوي صاحب همدې صفت ته اشاره کوي او وايي: مولوي نسيم الله ته الله تعالی ډېر جذاب شخصيت او حسنه اخلاق ورکړي و، د عوامو خلکو د جلب او د خلکو د زړونو د راخپلولو لپاره يو اغيزناک شخصيت و، د نوموړي په توسط ډېر زيات طالبان او عام خلک د اسلامي امارت له صفوفو سره يوځای شول چې بيا يي د اسلامی نظام او جهاد په لاره کې لوی لوی خدمتونه وکړل.

کله چې په شمال کې د طالبانو جنګي خط له ګلبهار او جبل السراج څخه راپر شا شو او دکابل حدودو ته راورسيد دغه وخت نوموړي د شکردرې او ګلدرې په سيمو کې جهادي مسؤليت په غاړه واخيست او د شراو فساد عناصرو په وړاندې يې پرلپسې مقاومت ته ادامه ورکوله.

نوموړي د کابل د شمال د بيلابيلو سيمو سربيره په غوربند او بادغيس ولايت په جنګي خطوطو کې هم جهادي دنده اجراء کړې ده .

وفات يې: مولوي نسيم الله صديقي د شکردرې په جنګي خط کې له دښمن سره په جګړه کې زخمي شو،د جګړې له سيمې د علاج لپاره انتقال شو چې الله تعالی ورته شفاء نصيب کړه،اما څه موده وروسته چې نوموړی په جهادي خدمت بوخت و ناڅاپه په يوه سخته ناروغي مبتلا شو،څرنګه چې د نوموړي علاج د هيواد په داخل کې ممکن نه و د علاج لپاره د پاکستان پيښور ته انتقال شواو هلته په کويټي شفاخانه کې بستر او عمليات شو، خو د مرض د سختوالي له امله ډاکټرانو مشوره ورکړه چې دپاکستان کراچي ته انتقال شي،نوموړي له پيښور څخه کراچي ته د تګ په مهال په طياره کې په نيمه لاره خپل روح اصلي مالک ته وسپاره او د شهادت جام يي نوش جان کړ.

انا لله وانا اليه راجعون .

د مولوي صاحب جنازه کابل ته انتقال شوه د کابل په عيدګاه کې يې د اسلامي امارت د لوړپوړو چارواکو د رياست الوزراء مرستيال مولوی عبدالکبيرصاحب او دفاع وزيرملا عبيدالله اخند په ګډون جنازه اداء شوه او بيا يې جسد د کابل په شهدای صالحين هديره کې خاورو ته وسپارل شو.

رسمي وظايف

مولوی صاحب نسيم الله صديقي د اسلامي امارت په ليکو کې د خدمت په مهال لاندې مسؤليتونه ترسره کړي:

د تخار ولايت د طالبانو مسؤل

د خوست ښار د امنيت مسؤل

د پروان ولايت امنيه قوماندان

د پروان ولايت اداري رئيس

د شکردرې په جنګي کرښه کې د يوه محاذ مسؤل

د شپاړسمې فرقې قوماندان

د ۲۲ مې لواء قوماندان

د مولوي نسيم الله کورنۍ

د مولوي نسيم الله کورنۍ دده له والدينو او څو ورونو او خويندو جوړه وه، د مولوي صاحب مشر ورور چې قاري انعام الله نوميده او مولوی نسيم الله صديقي څخه وروسته دده ځايناستی وټاکل شو دامريکايانو ديرغل په لومړيو شپو کې د خوست ولايت په مته چينه سيمه کې د يرغلګرو په بمبار کې په شهادت ورسيد، مولوي نسيم الله صاحب واده کړی د وفات تر وخته يې د واده دوه کاله وتلي و، له نوموړي څخه کوم اولاد نه دی پاته شوی .

د مولوی نسيم الله صديقي د شخصيت په اړه

د افغانستان د کار او ټولنيزو چارو د لوی رياست پخوانی رئيس مخدوم عبدالسلام سعادت صاحب وايي:

زه د مولوي نسيم الله صاحب سره لومړی هغه مهال شناخته شوم چې د طالبانو خط په چهاراسياب کې و،په لومړي ملاقات کې ما درک کړه چې نوموړي ته الله تعالی په ژور علمي استعداد سربيره، د اخلاص ،تقوی او ديانت شرف هم ورپه برخه کړی دی،نوموړی ډير له خلوصه ډک او محبت کوونکی شخص و چې ټول مجاهدين ترې ډيرې ښې خاطرې لري .

نوموړي د خلکو په جلب او جذب او داسلامی امارت له ليکو سره په وصل کولو کې لوی لاس درلود،نه يوازې يې جهادي تجربه او همت درلود بلکې ښه عالم او په شخصي لحاظ متقی انسان و، د نوموړي له کورنۍ او نږدې ملګرو څخه ډيرو کسانو دفساد او وروسته دامريکايي اشغال په مقابل کې جهاد کې فعاله ونډه اخيستې ،ډيرې قربانۍ يې ورکړې دي او لا هم خدمتونه ترسره کوي.

د تخار ولايت پخوانی جهادي مسؤل او د مولوي نسيم الله صاحب نږدې ملګری مولوي محمد محسن هاشمي وايي :

مولوی نسيم الله واقعا د زهد،اخلاص،نيکواخلاقو، سخاوت او ميړانې نمونه وه،هغه د رفاقت او اخلاص يو ځانګړی خصلت درلود، هميشه به يې په شونډو موسکا خپره وه، په دې سربيره ورته الله تعالی ښه استعداد ورکړی و،او په تقرير کې يې ځانګړی تاثير پروت و.

نوموړی د خپل اخلاص له امله د اسلامي امارت د زعيم ملامحمد عمر مجاهد سره خورا نږدې تعلقات او حسنه روابط درلودل او په ده يې کامل اعتماد درلود نو ځکه يي ورته هميشه مهم مسؤليتونه سپارل، الله تعالی دې په نوموړي رحم وکړي او الله تعالی دې دده خدمتونه په خپل دربار کې قبول وګرځوي .

رحمه الله تعالی

ژ. خبیر

یونان: کاشکي د اروپايي اتحاد برخه نه وای

د یونان د مالیې وزیر تیره اونۍ وویل چې کاشکي یې هېواد د اروپایي اتحاد سره یو ځای شوی نه وای او خبرداری یې ورکړ چې د مالي ژرغورنې پر هیڅ داسې موافقې باندې به لاس لیک ونکړي چې په لړ کې یې یونان د هغه په وینا د مرګ په دام کې ولوېږي.

په داسې حال کې چې د یونان د مالي موافقې د لاس لیکېدو خبره لا لیري ده، دا خطر شته چې په راتلونکو څو ورځو کې د یونان پیسې خلاصې شي.

د یونان د حکومتي راډیو تلویزون په سلګونو پخواني کارمندان خپل د پخواني کار ځای ته وروسته له هغه نه په بیرې ورغلل چې حکومت اعلان وکړ چې دغه راډیو تلویزون به چې ۶۰ کاله مخکې تاسیس شوی و، بیرته فعاله کړي.

د یونان پخواني حکومت دغه راډیو تلویزون په ۲۰۱۳ کال کې وتړی او ۲۶۰۰ کسان یې د خپلو وظیفو څخه پسي۔ واخیستل ترڅو یونان ته د پور ورکونکو غوښتنې پرځای شي چې ویل د یونان حکومت باید په خپلو لګښتونو کې کموالی راولي.

ددغه راډیو تلویزون بیرته فعاله کېدل د سریزا ګوند په مشري د حکومت هغه پلانونه په ډاګه کوي چې د انتخاباتو پر مهال یې ویلي و چې د حکومت پر لګښتونو باندې لګیدلي بندیزونه به لیري کړي.

پناګیوتیس حساپیس چې د دې تلویزون پخوانی کار مند دی او د تخنیک په برخه کې کار کوي، زړه او نازړه معلومیږي. هغه داسې وایي "د ۲۳ ماشتو وروسته مونږ د راډیو تلویزون تعمیر ته بیا ننوځو د کوم ځای څخه چې پولیسو مونږ په زوره وایستلو. زه داسې فکر کوم چې وړونکي یم خو دغه بریا یو ډول تریخ خوند لري".

د یونان اقتصاد په رکوت کې دی

د یونان مالي بحران لا ډیر وختي دی چې ختم شي. ددغه هېواد اقتصاد بیا خراب شوی دی. په لندن کې میشت د آزادۍ اروپا په نامه د پالیسي په برخه کې د یوه څیړنیز مرکز کارپوه، راول روپرل د دې مسلې ملامتي د اروپایي اتحاد او یونان ترمنځ پر مزاکراتو اچوي چې ډیر وخت یې ونیوی.

هغه وایي "په داسې حال کې چې دغه مسایل همدغسې ادامه پیدا کوي د یونان پر اقتصاد باندې اعتماد مخ پر کمېدو دی."

یونان نړیوال وجهي صندوق ته ۸۵۸ میلیونه ډالر پور بیرته تادیه کړی دی خو دغه پیسې یې هم په نړیوال وجهي صندوق کې د خپلې زخیرې څخه راخیستي دي.

د یونان د مالیې وزیر یانس وروفاکیس خبرداری ورکړی دی چې د هېواد پیسې یې کیدای شي په راتلونکو دوو اونیو کې خلاصې شي او دغه هېواد به ونشي۔ کړای

چې خپل پوروونه او لګښتونو ادا کړي. هغه چې د پنجشنبې په ورځ یې خبرې کولې، دا یې توضیح کړه چې هېواد یې ولې نشي کولای چې د اروپایي اتحاد د ژورو اصلاحاتو غوښتنې ومني.

هغه وویل "که چیري زه پر کومې مواقې باندې لاس لیک وکړم نو د نورو مالي وزیرانو په شان به وي چې د مینځنۍ مودې مالي موافقې یې لاس لیک کړې په داسې حال کې چې ښه هم پوهېدل چې دا خبره امکان نلري. چې سم حساب سره وکړي، دا خبره امکان نلري".

یونان باید د مې د میاشتې په پای کې ۲،۲ ملیارده ډالره پیدا کړي چې د خپلو کارمندانو معاشونه او تقاعدیانې برابرې کړي. دغه راز د جولای او اګست په میاشتو کې یونان باید د ۷،۷ ملیاردو ډالرو په بیه اسهام د اروپایي اتحاد مرکزي بانک ته ورکړي.

د اقتصادي چارو کارپوه راوول روبیرل وایي چې که چیري یونان دا ونکړي نو عواقب به یې ښه نه وي.

هغه وایي "که چیري یونان نړیوال وجهي صندوق ته د خپل پور په ادا کولو کې یو واري بیا پاته راشي، کیدای شي چې وجهي صندوق ورسره یو څه نرمښت وښیي دغه راز که چیري خپلو اتباعو ته د معاش په ورکولوکې پاته راشي نو سیاسي جنجالونه به پیل شي خو اقتصادي سقوط به رامنځ ته نشي خو که چیري د جولای او اګست په میاشتو کې د اروپایي اتحاد مرکزي بانک ته د پور په تادیې کې پاته راشي نو پر مارکیټ باندې به د دې مسلې تاثیر ډیر زیات منفي وي".

د لندن د کوینس مري پوهنتون یو پروفیسور، لیونیس کوکاریس وایي چې یونانیان د یوې بدې مرحلې پر لوري روان دي "خلګ د بانکونو څخه خپلې پیسې باسي. ډیرې هڅې روانې دي چې په بانکونو کې بیرته پیسې ولوېږي خو د نامعین وضعیت له کبله دغو هلو ځلو داسې ښه نتیجه نه ده ورکړې څکه موږ په دې نه پوهیږو چې راتلونکې دوشنبې به څه وشي او دغه راز په راتلونکو اونیو کې به څه وشي".

که چیري یونان او اروپایي اتحاد موافقه لاس لیک نکړي نو د یونان د پور بحران به نور هم پسې-غټ شي او په راتلونکو څو ورځو کې به دغه هیواد مفصله شي.

قاري سعید

مــــور د ډېــــرو لـــــه بارانـــــه کـــــډې نـــــه دي کـــــړې
مــــور د هنـــــدارو لـــــه غبـــــاره کـــــډه واخیســـــتله

بیـــا بـــه دهســـک لمنـــې ســـرې کـــړې دشیطان پـــه وینـــو
بیـــا یـــوه ســـتوري لـــه مـــداره کـــډه واخیســـتله

زړه خـــو همـــدا وو څـــه داوښـــکو پـــه ویالـــه وبهېـــد
پـــاتې د آه افســـوس پـــه لاره کـــډه واخیســـتله

داســـې یـــې وګڼـــه چـــې روح وو لـــه کالبوتـــه ووت
ســـعیده درد کـــه لـــه پرهـــاره کـــډه واخیســـتله

وارسا په ګورکې
د ناټو خیال پلوونه

د مۍ په ۱۳ او ۱۴ مه دترکیې په انتالیا ښار کې دناټو دبهرنیو چارو وزیرانو دافغان ماموریت په هکله غونډه درلوده، په دې غونډه کې دناټو سرمنشي ینس استولتنبرګ وویل چې افغانستان به په هیڅ صورت یوازې پرینږدي، د خپل څوارلس کلن ماموریت لاسته راوړني به ساتي، خو له دې وروسته به خپل حضور دملکي مامورینو په واسطه تنظیموي اوضمنا به پوځي شتون هم جاري ورسره ساتي، همدا راز په دغه ناسته کې پریکړه وشوه چې ناټو به له دې وروسته دافغان عسکرو دروزنې، مشورې او کابل حکومت د پیاوړتیالپاره کار کوي .

ناټو چې افغانستان کې یې خپل اوسني شتون ته دغوڅ ملاتړ نوم ورکړی او همدغه ماموریت یې دروان کال ترپایه پای ته رسیږي،اوس یوځل بیا پریکړه وکړه چې دغوڅ ماموریت تر بشپړیدو وروسته به هم دافغان حکومت سره خپلو ملکي او پوځي مرستو ته دوام ورکوي.

د ناټو سرمنشي استولتنبرګ د انتالیا ناسته کې وویل چې « مونږ په افغانستان کې دغوڅ ماموریت تر پای ته رسیدو ورسته هم پاتیږو » .دغه رنګه سر منشي په خپلو احمقانه څرګندونو سره دافغانستان دکشالې دسوله ییز حل هڅې اوهیلې په لغته ووهلې، نوموړي وویل چې که طالبان اساسي قانون او دښځو حقونو ته درناوی ونه لري او دنړیوالو ترهګرو سره اړیکې ونه شلوي (البته ددوی دتعریف له مخې) سوله ناممکنه ده.

د بهرنیو چارو افغان وزیر صلاح الدین رباني چې دافغان پلاوې مشرې یې کوله وویل چې په یاده شوې غونډه کې دافغانستان سره د ناټو په دوامداره همکارۍ او ګډ کار موافقه وشوه، نوموړي دغونډې په تړاو یوې ناستې ته وویل چې د ناټو ماموریت دافغان عسکرو په تجهیز او پیاوړتیا کې پام وړ رول لوبولی دی،رباني په ډیرې خوښۍ سره دناټو ماموریت ته دستراتیژیک مشارکت نوم ورکړ.

اسلامي امارت دناټو ددې اعلان په غبرګون کې چې د ۲۰۱۶ وروسته به هم افغانستان کې خپل پوځي حضور ته دوام ورکوي ویلي چې افغانان دیرغلګرو ځواکونو موجودیت که په هر نوم وي د یوې ورځې لپاره هم نه مني،اسلامي امارت په خپله اعلامیه کې ویلي چې ناټو غواړي په دې ډول اعلانونو سره خپل پوځیان د مجاهدینو له بریدونه وژغوري او خپل غلامان دمرګ کومي ته ورټیل وهي،د امارت په اعلامیه کې ویل شوي

چې داسې پلانونه تر لاس لاندې لري چې خارجیان به که په هر نوم داشغال دبقا لپاره کار کوي په خپلو محفوظو ځالوکي هم ارام نه پرېنږدي،په اعلامیه کې په صراحت سره ویل شوي چې مجاهدین اشغالګر بنه پېژني، دیرغلګرو د حضور سره مرسته کونکي که په هر نامه فعالیت کوي او دافغانانو ضد جګړه کې په هره بڼه برخه اخلي دمجاهدینو دبریدونو هدف به وي.

دناټو داعلان څخه مخکې ددغه سازمان مهم او کلیدي غړي امریکا هم ویلي وو چې نور یې په افغانستان کې نظامي ماموریت پای ته رسولی خو اوس هم وخت ناوخت د هیواد په مختلفو سیمو کې دپخوا په شان چاپې وهي،بمباری کوي،خلک بندیانوي او په عملیاتو کې برخه اخلي .

ناټو چې د ۲۰۰۱میلادي کال راهیسې یې دامریکاپه مشرۍ پر افغانستان یرغل کړی، د ډېرو زیاتو بشري، مالي لوژیستیکي،ترانسپورتي اومحاربوي زیانونو سره مخامخ شوې ده، ددوی داعترافونو له مخې څه کم څلور زره عسکر یې وژل شوي، پنځوس زره یې معیوب شوي او تردې زیات پوځیان یې چې خپلو هیوادونو ته ستانه شوي دروانې رنځ څخه کړیږي.

همدا راز دافغانستان جګړې دناټو څخه په سلهاوبیلیونه ډالر خوړلي،په زرهاوو ټانګونه،زغره وال موټر، ټانکرونه،کنتینرونه او بیلابیل نقلیه وسایط یې دافغانانو بریدونو کې داور خوراک شوي او په سلهاوو چورلکې،الوتکې او بې پیلوټه طیارې یې را نسکورې شوې دي .

ناټو افغانستان کې دبې دریغه زور ازمایني او زر کاروني سره سره ونه توانیده چې افغان ولس اېل کړي او دلته خپل شوم پلانونه تطبیق کړي، د کټونکو په اند چې په څه کم یوه نیمه لسیزه کې ناټو دمخالفت په ټکولو برلاسې نه شوه په داسې حال کې چې د ناټو تړون څخه دباندې ځینو هیوادونو هم همکاري ورسره کوله، نوې دې وروستیو کې چې حتی د ناټو ځینوغړو هیوادونه هم د افغانستان له جګړې پښې سپکې کړي او یو زیات شمېر یې اوس دبسترې په ګولولو بوخت دي، ممکن نه ده چې ناټو د طالبانو په مشرۍ دروان مقاومت په ځپلو کې دبریا چانس تر ګوتو کړي .

ناټو دمعاصرې یو قطبیزې نړۍ هغه یکه تاز نظامي بلاک دی چې رقیب وارسا یې دشلمې پېړۍ په اتیایمه لسیزه کې افغانستان کې سر بایلود، دوخت هر مستکبر او مغرور ته چې الله تعالی په قهر شوی افغانستان یې ورته قبر ګرځولی دی، دسکندر، چنګیز، ګورګین، انګریز او وارسا پر تابوت وروستې مېخونه افغانانو ویشتلي دي، همدغه وجه ده چې نړیوال افغانستان ته دامپراتوریو قبرستان وایې .

دتعجب او تاسف وړ داده چې ناټو اوس لا هم د وارسا په ګور کې دبقا خوبونه ویني او دلته د خپلو موخو دپلي کولوخیال پلونه وهي،وارسا دلته تر ناټو ډیر وفادار غلامان درلودل خو دافغانستان د مستعمره کولو خوبونه یې ګور ته یووړل، نو ناټو چې په مراتبو تر وارسا په کمزوري وضعیت کې قرار لري دافغانستان د مستعمره کولو خیال پلوونه به یې بې له شکه په زوال منتج شي . ان شاء الله

ليکوال: (داسلامي نړۍ مفکرعالږ مولانا سيد ابو الحسن على ندوي رَحِمَهُ‌اللَّهُ) ژ: ابوظهير

په اسلامي هېوادو کې داسلاميت او مغربيت ترمينځ کشمکش

انډونيزيا...

دنړيو ازادو هېوادو دننه د مغربيت اوجديديت په اړه چې کومه عامه رويه شتون لري، په هغې کې دحکومتي چوکاټ د نا اسلاميت او په اوس وخت کې په اسلامي قانون دنه عمل عقيده او دغربي افکارو او اقدارو دخپلولو عام رجحان ليدل کېږي! انډونيزيا (چې نيږدې په سلوکې نوي وګړي مسلمانان لري) په دې اړه هيڅ کومه استثناء نلري، سربيره په هغه اوړده او خونړي کشمکش چې په دارالسلام کې دتحريک په حيث له کلونو راهيسې روان و او اوس يې ساه نيږدې په ختو ده! واکمنه ډله دپخواني ولسمشر ډاکټر احمد سکارنو په رهبرۍ کې کوښښ کوي چې ديو ټاکلي پلان لاندې دغه هېواد هم دترکيې په پل،پل واخلي ، په دې لړ کې مشهور امريکايي کتونکي لوئي فشر(Louis fisher)پخپل کتاب (THE story of indonest) کې په څو لنډو الفاظو کې دهغه مهال نقشه انځور کړې او دواکمنې ډلې دذهنيت يې ښه پوره ترجماني کړې:

يواځې غير اشتراکي(Non – communist) مسلمان هېواد کوم چې ديو ژور کلتوري انقلاب څخه تيرشوی ترکيه ده، چېرته چې کمال پاشا اتاترک دهېواد دين(اسلام) منسوخ کړ، شرعي محاکم يې وتړل، دخلافت پای يې اعلان کړ،په پرده يې بنديز ولګاو او عربي رسم الخط يې ممنوع اعلان کړ، په مقابل کې غربي لباس يې دود کړ، لاطيني رسم الخط يې لازم کړ، عامه زده کړې يې پيل کړې، ميرمنوته يې د رايې حق ورکړ ديکشنبې ورځ يې رسمي رخصتي کړه او ملت پالنې ته يې قانوني بڼه ورکړه.

هرچې انډونيزيا ده، هلته د دغو اصلاحاتو راوستو لپاره يوه بدلون ته هم اړتيا نشته؛ تردغه ځايه پورې په انډونيزيا کې مغربي انقلاب پخپله راغلی دی، دانډونيزيا جمهوريت نا اسلامي دی؛ اګرکه د۱۹۴۵ او ۱۹۵۰ اساسي قانون په جوړيدو په الله ﷻ عقيده ددغه هېواد اساس ګڼل شوې ، ليکن دولسمشر نه نيولې تر يوادنی دولتي څوکيدار لپاره دا ضروري نده چې هغه دي خامخا مسلمان وي؛ اونه دحکومت دکوم مامور لپاره ضروري ده چې دخپلې وفادارۍ لوړې لپاره دې دخدای په نوم يا دمحمد(صلی الله عليه وسلم) نوم واخلي هر سړی کولی شي چې ځانته دخپلې خوښې دين غوره کړې ا و په هغه عمل وکړي داساسي قانون په دوارو مسودو کې ازادې منل شوې ده.

داندونيزيا د نااسلامي او نامذهبي جوړښت په وجه دخلکو يوه لويه او دپام وړ برخه يې مخالفه ګرځيدلې ، چې له امله يې دحکومت په خلاف داسې جنګ پيل شو ، کوم چې ددې جمهوريت ترټولو لوی او ترټولو زيات لګښت

لرونکي غلچکي (GUERILLA WAR) جنگ ثابت شو، په عامه توګه د نامذهبیت دجواز لپاره دا دلیل وړاندې کولی شي چې په هېواد کې عیسایان هندوان اودنورو ادیانو پیرویان هم شتون لري،خو په حقیقت کې ددې اصل دلیل کوم چې په ژبه ډېر کم راوړل کېږي، هغه دادی چې هرنوی حکومت دهغه قرآن داصولو او لاربښوونو ته څان تابع نه بولي، کوم چې دیارلس نیم سوه کاله وړاندې په محمد(صلی الله علیه وسلم)باندې نازل شوی، دویمه خبره داده چې قرآن مجید قانون پاته دی، نو ددې تشریح او استازي تاریک خیال علماء دي څوک چې په سیاست باندې دوراندینو پیریو خبرې نښلول غواړي، داندونیزیا زیاتره سیاسي ګوندونه او دفکر څښتنان دنوي عصر۔ دذهن نامذهبي حکومت ملاتړي او ددې خبرې قایل دي،چې دیو مسلمان لپاره نامذهبیت غوره چوکاټ دی، په دې توګه زیاتره دمغربیت خپلولو فکر کړي.(THE STORY OF (INDONESIA ٢٥٠-٢٦٠

ناځرګند غبرګون:

دتجدد،مغربیت او نامذهبیت (SECULAARISM)دغه څرګند رجحان او فیصلې ترڅنګ اندونیزیا دسوکارنو په قیادت کې په ډېره تیزۍ دکمونیزم په لور ګام اخلي او کمونستو پوځي او انتظامي چارواکیو په پوځ او حکومت باندې دبشپړې قبضې لپاره کوم ناکام کوښښ وکړ، دهغه په غبرګون کې داندونیزیا مسلمان ولس اوپه خاصه توګه زده کوونکو کې د شدید غبرګون څپه راپورته شوه، چې په نتیجه کې یې هغه اشتراکي عناصر دپوځ او حکومت نه وایستل شول او ولسمشر یې دخپلو واکونو څخه بې برخې کړ ، ددې غبرګون یا ردعمل مثبت او ایجابي اړخ هم ښکاره نه دی، نشي ویل کېدای چې تجدد او مغربیت په کومه لار ه چې اندونیزیا په چټکۍ سره درومي ، په هغه کې څه تغیر راتلای شي؟ او داسلامي لرلید له پلوه داسلامي وښتابه تحریکونو ترې کومه ګټه پورته کولی شي؟ دومره خبره ښکاره ده چې عسویت په دغه هېواد کې ځانګړې اسانتیاوې لري، اوهغه هلته په ډېره چټکۍ پراختیا مومي چاچې ددې هېواد په سلو کې نوي وګړو ته ستونزې او خطرونه زېږولي.

نوي آزاد هېوادونه دلویدیځ په لار:

کومو ختیځو هېوادونو چې نوې ازادي ترلاسه کړې، هغوی دتجدد او مغربیت په هغه لار درومي، په کومه چې ترکیه کې کمال اتاترک قدم ایښی، داسې ښکاري لکه چې ټولو مشرانو او لیډرانو دمغرب فکري فلسفه دخپلو ټولو اقتصادي، سیاسي او کلتوري جهتونو سره یوځای منلې او هم یې دهغې د ملت پالنې مفکورې دنافذولو لپاره کلک هوډ کړی دی، هغوی دهغه اسلامي مزاج سره دکوم ښاخونه چې په هره خوا خواره دي،او دهغه اجتماعي، علمي او کلتوري چوکاټ(له کوم څخه چې زیاته ګټه اخستل کېږي، او دهېواد او قوم په ګټه کې له هغه نه فایده پورته کولی شي) سره په جنګ دي او دهغو معنوي او روحاني قوتونو سره یو ځای(کوم چې دسترو قربانیو دیني مصلحینو دبېمثاله اخلاص په مرسته ددې امت دوګړو او نسل په زړونو کې راسخ او ننوتی دي)سره په جګړه بوخت دي، او هغه دخپل طرزالعمل ، تعلیمي نصاب،تربیوي او اعلاناتو له لارې دقوم دهغه ایماني قوت، دیني جذبې په کمزورې کولو پسې دي، کوم چې له کارخانو او فابریکو څخه نه راوزي، او او ولولې پارونکووینا ووڅخه پیدا کېږي،هغه یواځې دانبیاوو، دتاثیر ، صحبت او دهغوی دځواکمن شخصیت او دهغوی دطرز او نمونې مخلصینو او دعوتګرو له زیارونو څخه پیدا کولی شي، که خدای مکړه انساني زړونو کې دهغه ریښې وچې شوي نو

رامنځته خلاء به يې هيڅ ملي شعور، سياسي وښتوب او دعلم او کلتور پرمختګ دکه نکړای شي په تیر وخت کې هم ایماني ځواک محير العقول کارنامې سرته رسولې، دکومو په اړه چې دپیړیو راهیسي بشري عقل حیران ګوته په غاښ دی، او دهغه دننه نن هم د خارق العادت ځواک اعجاز پټ دی، دهمدې ایمانې قوت او دقرباني، جذبې او دشهادت په شوق يې دسويز جګړه هم وکړه، دالجزایر اوږد خونړی جنګ وشو اود لس لکه انسانانو(څوک چې په جهادي جذبه سرشاروو) دهېواد ازادي او عزت ترلاسه کړ.

دا دتاریخ عجیبه غمېزه او دسیاست یو نا اشنا ستم لېږدونکی ظرافت دی چې په هرهېواد کې ترڅو چې دازادی، جنګ ته اړتیا وه، او دخارجي اشغال نه دازادی، ترلاسه کولو دخلکو قربانیو، سرخارولو، جوش او ولولې ته ضرورت و، چې دخدای (جل جلاله) درضا، اخروي اجروثواب او داسلام دسربنلدی، پرته دبل هېڅ مقصد سره دلچسپې نلري ددين دژبې پرته دبلې ژبې سره اشنا نه وي او دمذهبي نارو پرته دهغوی وینې نه ګرمیږي، او دهغوی په مغزو کې نیشه نه راځي،دازادي دجنګ مشران ددغې ژبې پرته په بله ژبه دخلکو سره خبرې نکوي، هغوی ددیني نارې له لارې دالله دنوم لوړولو او داسلام دسربلندی، لپاره دالله(جل جلا له) داحکامو نافذولو په لالچ ورکولو خلکو ته داور نو سره د لوبیدو او په وینو او خارو کې دلت پت کیدو بلنې ورکوي او په همدې ایمانې ځواک (چې دهغه په مقابل کې لړترلږهد مسلمانانو پرته په بل ځواک کې نه لیدل کیږي)دازادي کلا فتح کوي، او ناقابل تسخير دښمن په سرټیټیولو مجبوروي خو څنګه چې ددغه ضروري پړاو طی کړې ، او هېواد اعلی واکمني ترلاسه کړي او دسیاسي مشرانو په وینا:دهېواد او قوم دقسمت چارې دهغوی په لاسو کې راشي، هغوی هېواد دمغربیت او لادینیت (سیکولرزم) په لار روانوي او ژرترژره ددين او تولنې داصلاح او اسلامي قانون دتنسيخ او پکې دترمیم او په غربي چوکاټ کې دهېواد غورځولو کارپیلوي اوپه دې کې له دومره عجلت اوشدت نه کار اخلي چې ځيني وخت هغه خلک چې بيدريغه قر بانياني يې ورکړې داسوچ کوي چې دوی شاید تيروتي دي، او دهېواد ازادې د اسلامي ژوند او مذهبي ازادی، لپاره دګتې په ځای مضر ثابت شي په ۱۹۲۴ زکې دترکيې نه نیولي ۱۹۶۲دالجزایر پورې دایو پرلپسي داستان دی چې پکې کومه استثناء نه ليدل کیږي او عربي هېوادونه په پوره عزم او اراده په جوش اوخروش دترکيې په قدم قدمونه اخلي دچا دواک په خلاف چې هغوی بغاوت کړی و، او دچا له سیاست نه چې اوس عربان بيزار ښکاري.

تونس

په دغو نويو ازادو عربي هېوادونو کې ترټولو مخکې نوم دتیونس هم راځي، کوم چې په ۱۹۵۷زکال کې ازادي او خپلواکې ترلاسه کړېده، دتیونس لومړی ولسمشر الحبيب بورقيبه و، هغه دتیونس پشان په اسلامي جذبو مست اسلامي هېواد کې پخپل ټول توان او کوښښ دکمال اتاترک دجدیدو اصلاحاتو لړی پیل کړه، دهغه ویناوې او میلانات چې وخت په وخت په ورځپانو کې راځي، هغه په ښکاره وايي: چې نومورې په تدريجي توګه خپل هېواد دترکيې په لار بوتلل غواړي، او دخپلې فرانسوي روزنې او کلتور سره سم نوی تیونس جوړول غواړي، په دې لړ کې ديوداسې محتاط فرانسوی، ورځپانې اقتباس وړاندې کولی شي چې هغه ددې شخه انکاردی چې نوی تیونس دلادینیت په لور درومي

دپـارس مشـــهوري ورځپـــاڼې(LE MONDE) دجنوري په ۲۹مه نیټه ۱۹۸۵زکال په ګڼه کې [ازاد تیونس د درېیم کال په درشل کې] عنوان لاندې ولیکل:

ولسمشر حبیب بورقیبه دمیرمنو دشمېر په ازادۍ باندې محدودیتونه ولګول،(داد ۱۹۵۸ حال دا دی دهغـه وروسـته دمیرمنو دتعدد قانون لغوه اعلان کړ)هم یې خاوند ته دخپلې میرمنې لخوا دطلاق ورکولـو قـانون منظـور کـړ، او یـواځې دنارینه لخوا دطلاقو ورکولو واک یې لغوه کړ(داهم د۱۹۵۸ خبره ده وروسته دنارینه څخه یـې دطلاقـو حـق واخیسـت محکمې ته یې ورکړ دهغه وروسـته خاونـد دطلاقـو ورکولـو مجاز ندی) په دې توګه یې دخاوند واکونه محـدود اومقیـد کړل دا کـورنۍ ازادۍ دسـیاسي او ټـولنیزې ازادۍ سره پـه یوځای کېدو دوه چنده کېږي، اوس میرمنوته درایې ورکولـو حق ورکړل شوی دی، او میرمنې دقانون جوړولـو مجلسـونو غړیتوب ترلاسـه کـولی شي دتولـو دولتـي ارګـانونو دروازې دمیرمنو په مخ بیرته دي، اوس مهال له سلو نه زیاتې میرمنې دپوهنې په وزارت کـې کـار کـوي او دوه نـیم زره پـه نـورو دفترو نو کې کارکوي او اووزره په مختلفو مؤسسو اونـورو رسمي ارګانو کې کار کوي.

تونس دترقۍ په دې میدان کې دقیادت او رهنمائۍ پیغام له کمال اتاترک نه اخلي او دهغه په قیادت کـې ترکیـې چـې کومه لار غوره کړې وه، تونس په هغه باندې په قدم ایښـودو سره اوس پرمختګ کوي پـه دغـه هېـواد کـې پـه ښـکاره او تیزۍ سره بدلونونه رامنځته شول پرده (په خاصه توګه نوي نسل کې) کمه شوه، بیرون ته وتونکو میرمنـو شـمېر ورځ تـر ورځې زیات شوی، په سیاسي محفلونو کې هغوی دنارینه وو سره اوږه په اوږه لیدل کېږي البتـه پـه اطرفـو کـې دترقـۍ روان بهیر ډېر چټک ندی

ولسمشر بورقیبه دغه بدلونونه په زبردسـتۍ دمسـلط کولو کوښښ ونکړ هغه دا خوښوله چې پخپله پریک شي او له بدن څخه پریوزي هغه ددې خبرې کلک تردید کـاو چـې هغه ګواکې په لادینیت عقیده لـري، یـا زیـات نـه زیـات پـه ښکاره الفاظو کې اسلام پریښـودل غـواړي، خـو هغـه برابـر دمغربي تمدن او دیني اقدارو ترمنځ دیوالي کوښښ کاو، هغه اکثر ددې ثابتولو کوښښ کاو چې اګرکـه دهغـه اصـلاحات دقراني نصوصو تابع ندي، خو دهغه دروح سره منافي نـدي، له دې وجې دا ویل چې دتونس نوی لوری دکمالي فکـر پـه ځای مصري فکر ته نیږدې دی، څنګـه چـې پـه مصـر کـې جامعه ازهر په ځای پرېښودل شوه په ورته توګه بورقیبیـه پـه تونس کې لویه مدرسه جامع زیتونیه په مخالفـت کولـو کـې هم احتیاط وکړ، خو دوه کاله وروسته یې دهغې دکار سـاحه تنګه او کارونه یې محدود کړل او په دې لګیا دی غور کوي چې هغه یواځې دیوداسې لیسې پـه توګـه یـې پریـږدې چـې دتونس پوهنتـون تـر څـارنې لانـدې دالهیـاتو زده کـړې تـه ځـانګړې وي(وګـورئ کتـاب المغـرب المسـلم ضـد اللادینیة لیکوال ادریس الکتانی ۹۵-۹۶)

فروفیسر جوزف شاخت(Schacht) هم پخپله یوه نوې مقاله کې دنوي اسلامي قانون جوړولو په مسئلو کې دتونس ددغه ترقي خوښۍ او دتجدد په میدان کې پرمختګ په ډېره ښه توګه څر ګند اویاد کړیدي هغه لیکي:

بالاخر تونس په ۱۸۵٦ز کې قـانون منظـور کـړ، خپـل ځان یې هغو هېوادونو دقافلې مخکښ کړ ثابت کړ، کوم چې داسلامي قانوني جدت خوښونې په لور ګامونه اخلي.ترټولو اول یې عامه اوقاف ختم کړل، او هغه یې دحکومت ملکیتونه وګرځول داکار یې دقانوني اهمیت لـه پلـوه دشـام او مصـر داوقافو دختامې نه ډېـر لـوی و، دویـم یوکـال وړانـدې یـې

دمصري قانون څخه په پیروۍ کولو یې دشرعي محاکمو هغه واکونه له منځه ویوړل دکومو لاندې چې روایتي اسلامي قوانین تطبیقیدل، دریم دتونس لپاره شخصي۔ احکامو (personal law) یو نوی قانون مجلة الاحکام الشخصیة TUNISIAN CODE PERSONAL STATUS) (OF دمنظورولو څخه وروسته نافذ کړای شو، اګرکه دتونس دعدلي چارو وزارت په یو لیک کې ددې خبرې دعوه کړیده چې ددې قانون په جوړولو کې داسلامي قانون پوهانو ونډه اخستې ده، او هغوی خوښ کړی دی، اګرچې ددې قانون ځیني داسې اداري بخپل ځای پریښودي دي کومې چې دځیل نوعیت له پلوه خالص اسلامي دي، مثلاً مهر، درضاعت په بناء دنکاح حرمت، سربیره په دې چې دا قانون په فروعي مسایلو کې په تونس کې دواړو مستندو فقهي مذاهبو څخه دیوه اتفاق ضروري دی، خوبیا هم دکوم لرې تاویل دغه دودیز اسلامي قانون چربه ګڼل او دا ویل چې دا روایتي اسلامي قانون یو بدل شکل دی ، ناشونی دی، دتونس دپرولویو علماوو کوم چې په محکمو کې دندې لري ددې قانون په خلاف یو فتوا صادره کړه په کومه کې چې هغوی ددې په کلکه مخالفت کړی دی، له هغو علماوو نه څلورو چې په هغو کې حنفي، مالکي دواړو مذهبونو ستر مفتیان راځي داحتجاج په تو ګه له ستري محکمې څخه مستعفي شول دا سهي ده چې دقانون هغه برخه چې دوراثت په اړه ده هغوی دوراثت په باب اسلامي قانون پرته دکوم بدلون څخه تغیر کړی دی، چې دهغه وجه یقیناً داوه څو وانګیرل شي چې دتونس تولنیز حالات دوراثت قانون په بنه توګه پوره کولی شي خو دنکاح او طلاقو قوانین داسې بدل شوې دي چې دهغو اوس هغه شکل نه پیژندل کیږي دمثال په توګه: تعدد ازدواج ممنوع ګرځول شوی دی، هغه یو جرم ګرځول شوی نکاح اوس دفریقینو په خوښه کیږي دطلاقو ورکولو واک یواځي محاکم لري، هغه په درې صورتونو کې ۱- دفریقینو څخه یو دهغو شرایطو په بناء دطلاقو غوښتنه وکړي کوم چې په قانون کې تعین دي ب – فریقین په طلاقو راضي وي ج – یواځې یوفریق دطلاقو غوښتنه وکړي په دې صورت ک به قاضي هغه پیسې تعینوي کومې چې دجبیرې په توګه دویم فریق ته ورکول کیږي په دې سره نه یواځې یو زوجیت او دطلاقو په باره کې میرمن دنارینه سره برابره شوه بلکې په ضمني تو ګه دملکیت دهغو معاملاتو په باره کې هم کوم چې دنکاح نتیجه وي دا بعیده له قیاس نه لرې نده، چې دتونسي۔ قانون دمسودې جوړونکوته به دخدابخش داندونو علم وي خو په دې کې شک نشته تونسي۔ قانون ددغه ډول خیالاتو نه متاثر دی دتونس دحل وعقد څښتنان که هراعلان هم وکړي دهغوی یاد شخصي۔ قانون که په معروضي ډول وکتل شي د دودیز اسلامي قانون څخه دومره جلا دی څومره چې دترکیې دسیکولر شخصي قانون دی.

نوربیا ...

وقتت به کجا سپری می شود

و چه کسی در آن تصرف می کند؟

نوشته: د. طارق السویدان
ترجمه: عبدالرحمن عزّام

واژه ی تنظیم وقت معنی درستی را افاده نمی کند چون به معنی اصطلاح انگلیسی ORGANIZATION TIME است. وقت طبیعتا از جانب پیدا کننده ی خود منظم است. کسی که سال، ماه، هفته و شب و روز را بوجود آورده است وقت را تنظیم نموده است. وقت از همه ی موجودات هستی منظم تر است. واحد های وقت مانند: ساعت، دقیقه و ثانیه؛ بلکه اجزاء ثانیه که امروزه تحقیقات به تجزیه ی ثانیه پرداخته و انسان را با یک هزارم و یک ملیونم (۱/۱۰۰۰۰۰۰) ثانیه آشنا می سازد؛ نیز به صورت کامل دقیق و حساب شده به پیش می روند.

مفهوم مدیریت و تنظیم وقت:

اداره در اصطلاح علم مدیرت به تنظیم و نظارت بر پدیده های مربوط به انسان یا متعلق به منابع مالی، اطلاق می شود. اگر این تعریف را درست بدانیم: آیا کسی توانایی تنظیم وقت را دارد؟ خیر، وقت قابل تصرف نیست؛ فلهذا قابل مدیریت، کنترل، اجاره، توقف و تبدیل نیز، نمی باشد.

چگونگی تعامل با وقت :

یگانه کاری که در تعامل با وقت می توانیم انجام دهیم، وفق دادن خود با وقت است نه وقت را به خود؛ انسان توانایی اداره و کنترل خود را دارد، می تواند با بیکاری وقت خویش را سپری نماید همچنانکه می تواند با بکار گیری توان و نیروی خویش از وقت بهره برداری نماید. یا به عبارتی دیگر می تواند وقت را با فعالیت و تلاش یا با کسالت، غفلت و خواب، سپری نماید.

قوه ی اداره، مدیریت و توانایی جسمی در خلال مدت زمانی مشخص که عمر نامیده می شود جهت انجام امور زندگی به انسان داده شده که می تواند با استفاده از آن به انجام کارهای مورد نظر خویش پرداخته و در طی آن مدت قادر به انجام امور ذیل باشد:

۱- در ظرف مدت عمر خود، کار و تلاش نموده و از وقت خویش به نحو احسن بهره برداری نماید تا سعادت دنیا و آخرت را بدست آورد.

۲- با ضایع نمودن عمر و گذراندن وقت به کسالت، تنبلی، کارهای لهو و لعب و دیگر امور منکر و نابجا، پشیمان دنیا و آخرت شود؛ خداوند متعال می فرماید: «حَتَّى إِذَا جَاءَ أَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ رَبِّ ارْجِعُونِ. لَعَلِّي أَعْمَلُ صَالِحًا فِيمَا تَرَكْتُ« ((آن ها همچنان به راه غلط خود ادامه می دهند) تا زمانی که مرگ یکی از آنان فرا رسد، می گوید: پروردگار من! مرا باز گردانید! شاید در آنچه ترک کردم و کوتاهی نمودم عمل صالحی انجام دهم) (المؤمنون/۹۹-۱۰۰)

در حالی که این پشیمانی بحالش سودی ندارد.

امام شعبی رحمه الله تعالی می گوید: »ما بکیت من زمان إلا بکیت علیه.« (هیچگاه در خلال مدت زمانی گریه نکردم مگر اینکه بر خود زمان گریه نمودم؛ (نیز با ندامت و پشیمانی، اشک ریختم)) گریه سودی ندارد زیرا وقت از دست رفته است و ضیاع آن بر حسرت و ندامت آن می افزاید.

چگونه به روشی فعال کارهای خود را برنامه ریزی نماییم؟

انسان بیشتر با کارکردهای عادی و تکراری خود روبرو بوده و با

آنها در زند گی دست و پنجه نرم می نماید؛ به عنوان مثال: به اداره اش رفته و بعد از انجام وظیفه به کارهای خانه باز می گردد دوباره به دیدن خانواده، اقارب و دوستان می رود، سپس وقتش را به دفتر و قهوه خانه یا در کنار تلویزیون و روزنامه خواندن و دیگر کارهای روزمره ی زند گی می گذراند؛ این زند گی تکراری سپری می شود؛ اما آنچه مهم است اینکه: با انجام این امور چه چیزی بجا گذاشته؟ چه چیزی برای خود، ملت و وطنش انجام داده؟ و در زمینه ی رشدش چه اقدامی نموده است؟

مرام و مقصد زند گی انسان این است که به مقام و جایگاه والای خود پی برده و شخصیتش را بشناسد، تلاش کند تا اثر و یاد گاری از خود بجا بگذارد که یادش را جاوید و پاداشش را دوامدار نماید.

منظور ما موقعیت، جایگاه و عملکرد انسان نیست؛ بلکه آنچه مورد نظر است، انسانیت انسان است.

بیست در صد از وقت نسبت به دیگر اوقات مهمتر است، پژوهشگران به این نتیجه رسیده اند که تقسیم وقت به اساس اولویت بندی کارها به قاعده ی (۲۰/۸۰) یعنی بیست در صد کار، سبب هشتاد در صد نتیجه می شود یا به عبارتی دیگر هشتاد در صد نتیجه با استفاده از بیست در صد وقت بدست می آید.

در این حال این نسبت کوچک دارای بزر گ ترین اثر در زند گی است؛ اگر انسان بتواند به این باور برسد، بیست در صد از وقت در بهره دهی نمونه ی غیر عادی است، تا جایی که نتیجه ی تحقیقات نیز به این موضوع تاکید نموده و به قانونی غیر قابل تغییر، تبدیل شده است.

در این هنگام باید دانست که فقط از جمله اعمال انسان بیست در صد بسیار حساس و مهم اند که باید این قسمت به واقعیت ملموس تبدیل شود.

تو با وقتت چه می کنی؟

گاهی یک شخص با استفاده از شصت در صد وقتش به نتیجه ای دست پیدا می کند که دیگران با چهل در صد به آن نتیجه می رسند. آیا می خواهی مانند دیگران زند گی کنی؟ یا چنانچه خودت می خواهی؟

وقت ما برای مردم اختصاص یافته است، چقدر از وقت ما ضایع می شود؟ عده ای از زن ها به پیمانه ای زیاد، وقت را ضایع می کنند. ناگفته نماند، هر چند تعداد مردم در جاهای کم درآمد افزایش یابد، تاجران خبره جهت بدست آوردن ثروت به راه های جداگانه و منحصر به فردی دست می زنند.

فلهذا متوجه باش که وقتت به کجا سپری می شود؟ چگونه ضایع شده و چه کسی آن را اداره می کند؟ هدف ما در این بحث، ایجاد راه هایی است که تو را متصرف وقتت بگرداند.

تقدیم کارهای مهم بر امور دیگر:

نکته اساسی در تنظیم وقت تقدیم نمودن کارهای مهم و ضروری بر دیگر امور است؛ زیرا از روی طبیعت پاره ای از علوم دارای عاید و فایده ی کم اند که متعلم جز اندکی بدان نیاز ندارد و گاهی هیچ گاه مورد استفاده قرار نمی گیرد؛ اما از طرف دیگر بعضی از علوم وجود دارد مانند ارتباط انسان با خداوند تعالی و ارتباط و علاقه ی انسان با انسان های دیگر، که متعلم منحیث یک انسان لحظه به لحظه به آن نیاز دارد و نمی تواند از آن بی نیاز باشد؛ و قابل ذکر است که بعضی از اعمال نیز وجود دارند که زیاد قابل پذیرش نبوده و دارای فواید کم و اندک اند که چندان نیازی به آن نیست؛ زیرا مشغولیت به خوب، گاهی انسان را از رسیدن به بهتر و مهمتر باز می دارد، به همین خاطر شخص حریص بر تنظیم وقت و کسی که از وقت به نفع خود کار می گیرد، همیشه در علم و عمل بهترین ها را بر دیگر امور مقدم می دارد.

فلهذا انسان عاقل هر گاه امتیاز و برتری چیزی را دانست باید آن را انتخاب نموده و خاطرش را به آن مبذول بدارد.

خطیب بغدادی رحمه الله می گوید: »خود را در عرصه ی علم و عمل به موضوعات مهمتر و ارزنده تر مشغول دار؛ زیرا کسی که خود را به موضوعی کم اهمیت مصروف بدارد، موضوعات مهم را از دست می دهد؛ چون قسمتی از وقت را گرفته و توان و تلاشش را به خود مبذول می دارد، فلهذا باید برای کارهایش وقتی را در نظر گرفته و کارهای مهم و مهمتر را به میزان ارزش آن درجه بندی نماید، بنابر همین ترتیب بندی و اولویت در کارها، ثمره و

بهره ای بهتر را به دست می آورد.«

ابوعباس علوی نکته ای ارزنده و جالب بیان می دارد: »عزیزم بدانکه فهم وعقل تو گنجایش درک همه اشیاء را ندارد؛ فلهذا توان عقلت را به موضوعات مهم اختصاص ده، و همچنین مال تو کفایت انفاق به همه مردم را نمیکند بنابرآن، مال خود را به مستحقین آن اختصاص ده.«

ویژگیهای فردی انسان:

هر مسلمان دارای ویژگی های خاص و منحصر به فرد خودش می باشد که ممکن نیست دو نفر در ذات خود به یک خصوصیت تطابق داشته باشند؛ از اینرو باید برای هر فرد بطور مستقل تقسیم اوقات روزانه و هفته واری جهت توزیع و تنظیم کارها و وظایف، با اولویت دادن نماز و کارهای مهم ولازم، و گنجانیدن امور دیگر مانند قرار ملاقات ها، درس ها وامور مشابه- که در زندگی انسان مسلمان به وفور یافت می شود-، وجود داشته باشد تا هر شخص بنابر ظروف و شرایط خود، کارهایش را به اساس آن تنظیم نماید.

قواعد عمومی:

پاره ای از قواعد عمده، اساسی و عمومی تنظیم وقت که قابلیت استفاده برای هر علاقه مند به تنظیم وقت را دارد، اینک قرار ذیل تقدیم می گردد:

۱ - متوجه باش تا وقتت مطابق به پلان روزانه و هفته وار به پیش برود و حتی لحظه ای هم ضایع نشود.

۲ - پیش از همه کارها به انجام فرایض و واجبات بشتاب و آنها را در صدر جدول برنامه هایت قرار ده!

۳ - همیشه نوافل را بعد از فرایض قرار داده و بر انجام آن مبادرت ورز.

۴ - برنامه های خود را با آزمندی زیاد بر غنیمت شمردن وقت و بدست آوردن منفعت، و مناسب با موقعیت خویش تنظیم و جابجا نما!

نکته اساسی و مهم در انجام قواعد مذکور، توزیع درست و دقیق وقت نسبت به بعضی کارها است که به ترتیب اهمیت شان، به اوقات مناسب تنظیم گردد.

آنچه از جمله قواعد مذکور می توانیم بشمار آوریم توزیع دقیق و درست وقت است؛ چون پاره ای از کارهای علمی نیاز بیشتری به ذهن فعال، تمرکز زیاد و مکانی مناسب دارند که سازگار با آن باشد؛ زیرا بعضی از کارهای علمی مانند: نوشتن، مطالعه های خفیف، قرائت های گذرا، و دیگر موارد مشابه که نیاز به دقت زیاد و تفکر عمیق و بیداری تمام عیار ندارند؛ ممکن است در هر زمان و مکانی انجام داده شوند. اما برخی دیگر از کارهای علمی، جهت بهره برداری بهتر و نتیجه ای خوبتر به زمان مناسب نیاز دارند که انسان در آن با نشاط و کمال علاقه مندی با ذهن و روانی آرام و آماده آن را فرابگیرد؛ فلهذا لازم است که این اوقات ناب غنیمت شمرده شوند تا بتوان از آن استفاده ای بهتر و بیشتر نمود، طوری که این اوقات مناسب برای حل مشکلات دشوار، تهذیب مسایل در هم آمیخته و مختلط، تصحیح اصطلاحات غلط، نتیجه گرفتن از عبارات سخت و پیچیده، حفظ نصوص معتمد و مانند آن اختصاص داده شود.

پایان:

در پایان سخن ابراز میدارم: آنچه زیاد بر آن اهمیت قایل بوده و بیشتر تمرکزم بر آن است اهمیت وقت و جلوگیری از ضیاع آن است، تا به شکلی بهتر تنظیم شده و مورد استفاده بیشتر قرار گیرد. به نظر من انسان موفق، مثمر و مورد اعتماد کسی است که از وقت خود به نحو احسن استفاده نماید.

کلوریني پاڼي

رازونه

نظام خندهاري

چي مي په زړه کي پټ ساتلي وه د غم رازونه
و ټول جهان ته کړل ښکاره د سترګو نم رازونه

دا کهکشان راسره درسته شپه په ساندو ژړل
لا هم پراته دي پر زړګي د صبحدم رازونه

لړ وکړه صبر اسرافیله شپېلۍ مه پو کوه
زه عرصات ته هم له خانه سره وړم رازونه

دا بې تنې تکړې تکړې ګریوان ته سپک مه ګوره
پکي پراته به وي د میني یو عالم رازونه

لیوني نه یم چي ترمه د باروتو احرام
ما ته معلوم دي دا د میني د حرم رازونه

دا زولنې او دار لا څه دي چي ګواښېږي راته
زه خو لرمه د منصور غوندي محکم رازونه

شهید آشنا په آخیري سلګو کي داسي ویل
چي هېر مو نشي- زموږ د وینو د زم زم رازونه

یو ورځ به نه وي دا (نظام) وي به میلمه د لحد
یو د کاغذ پر مخ بې وینې د قلم رازونه

شهادته!

نعمان الرحمن بیدار

زما زړه او زما ځان یي شهادته
تر هر څه را باندي ګران یي شهادته

ته زما د ژوند د لاري یو مشعل یي
هر مومن د زړه ارمان یي شهادته

لکه اوښکه د ښو در پسي مات شم
لا په هیلو کي مي ځوان یي شهادته

لا خلمي در پسي ګرځي تورو غرو کي
لوړ او چت لکه اسمان یي شهادته

زما روح دا ستا په غېږه کي رب واخله
ته محبوب لکه جانان یي شهادته

چا ته تریخ او چا ته خوږ یي بختوره
د بلال د زړه درمان یي شهادته

عین او غین

عبدالستار سعید

نن مازدیگر د ښار په لوی جامع کې
چې ملا سلام واړاوو
او زه د نورو مسبوقینو ترڅنګ
وروستي رکعت ته لاړم
ناڅاپه کرنګ شو مسجد ولړزېدو
له دروازې سره د سوې کریکې غږ پورته شو
یوې مور سلګۍ وهلې
مسلمانانو یَوَزرۍ زوی مې ورک دی رانه
امریکایانو رانه نیمه شپه له کوره وړی
نه یې بل ورور او نه یې پلار شته دی
دغه نجلۍ چې مې ترڅنګ ده دا یې مشره لور ده
نور نه غمخوار او نه پایوازی لري
پخوا یې کله کله حال راتللو
خلکو ویل پل چرخي کې دی او خلاص به شي زر
وخت یې پوره دی ، محکمې یې شوې
مګر د اڅو میاشتې یې بیا حال او احوال ورک دی
نه یې د ژوند نه یې د مرګ درک شته
نه یې کوم خط نه یې د بل چا په خوله حال راغلی
زامنو . . .
(مورکۍ سلګو واخیسته)
زامنو څه وکړم سوالګره نه یم
خو د ژوندي زوی یتیمان راپاتې
بې له الله نه بل یې هیڅوک د پوښتنې نشته
چې څه یې حال دی؟
مریضان دي؟
که نهر بیدیږي ؟
د مورکۍ کریکه نه وه ، سمه لکه صور شپیلۍ وه
مسجد یې ولړزاوو
زه یې له خانه بیګانه کړم ناخبره له دې
چې په لمانځه یم دالله په لوړ حضور کې ولاړ
ژبه مې بنده او سینه مې شوه له غرېوه ډکه
نږدې و عین و غین بدل شي رانه

* * *

د عین او غین حکومت دی
تیاره اطاق کې د لیپ ټاپ رڼې شیښې ته ناست یم
د پاچاهۍ له کیسو ځان خبروم
خبریال نوې سرېنده غړوي
وایي چې نوي پاچا
له پخواني پاچا د غچ د اخیستو په خاطر
او د بادار په دربار
د قبلیدو په خاطر
بګرام زندان یوځلې بیا په امریکا پلورلی
د ډکېدو لپاره
یې له څرخي پله د خلاصون په تمه ناست زلدانیان
په ډلو ډلو دې وروړي بګرام بیا ډک شوی
بګرام پخوا چې په کلو په میاشتو نه ډکېده
دا ځل په څو ورځو کې
آن تر حلقومه په معصومو زلمو وپرسېده
زندان خپلې ،بې ګناه او برأت شوی زلمي
دا ځل د کور په ځای له سره بیا بګرام ته لاړل
بګرام په خیټه موړ دی
بادار خوشال دی
غلام هم لکۍ په ناز اړوي
خو یوه سپین سرې مورکۍ
د جوماتونو له درګاوو سره چیغې وهي
او د پوړني په غلبېل پلو کې
د ژوندي ورک زوی یتیمانو ته خیرات غواړي . . .

د رجب اتمه ۱۴۳۶ هـ ق

لهانګریز نه د ازادۍ لپاره

مفتي راشد

د شیخ الهند او مدني رح درې کارونه

مولوي محمد میا صاحب چې یو ستر مؤرخ دی، د دوی تفصیلي تاریخونه یې لیکلي دي، ده د خپل کتاب اسیران مالټا په سپېڅلیو پاڼو کې له تاریخ سره سره د هغه مهال د عالمانو درې مهمې پرېکړې رااخستې چې تاسو قدرمنو ته یې وړاندې کوم. هره یوه یې د دې حالاتو حق غوښتونکو ته مشال دی

اول- د تَرکِ موالات فتوا « یعني له انګریزانو سره دوستي او مرسته بندول

مولوي محمد میا صاحب (اسیران مالټا ۶۹ ۷۲ مخونه) کې فرمایي: په هندوستان کې له انګریزانو سره د اړیکو پرېښودلو (تَرکِ موالات) مسأله تر بحث لاندې وه، د خلافت کمیټۍ غړ د وخت له اړتیا سره سم حضرت شیخ الهند ته دغه استفتاء وړاندې کړه. شیخ الهند د دې جواب په خپله ولیکلو، بیا وروسته همدغه فتوا د هندوستان د عالمانو د جمعیت له لوري په متفق ډول د پنځه سوه عالمانو له لاسلیکونو سره خپره شوه. د شیخ الهند فتوا دا وه

بسم الله الرحمن الرحیم

نحمده ونصلي علی رسوله الکریم

قال الله تعالی :ولا تنازعوا فتفشلوا وتذهب ریحکم واصبروا إن الله مع الصابرین

الله تعالی فرمایي : او په خپل منځ کې اختلاف مه کوئ، چې بې زړه به شئ، او رعب به مو ختم شي، او تاسو باید له ډېر صبر نه کار واخلئ، الله له صبر کوونکو سره دی

وتعاونوا علی البر والتقوی ولا تعاونوا علی الإثم والعدوان - او تاسو باید د نېکۍ او تقوا مرسته وکړئ، او د ګنا او تجاوز مرسته مه کوئ

ومن یتولهم منکم فإنه منهم ان الله لا یهدي القوم الظالمین - له کافرو سره د دوستۍ په بیان کې د الله تعالی فرمان دی :او چاچې د هغوی دوستي او مرسته جاري وساتله، هغه سړی به هم له هغوی څخه شمار ېږي

په اورونو کې ور لوېږي دا کمزوري پروانکړي که نور نه وي هر سړی خو دې د مینې اظهار وکړي

امابعد: نن په شرق او غرب کې په مسلمانانو باندې دقیامت په څېر د مصیبتونو غر رالوېدلی، تر دې چې دا اندېښنه کېږي چې : د اسلامي خلافت بېړۍ به د رالوتي طوفان له څپو سره ټکر او (خدای مکه) توټې توټې شي. دهر مسلمان روح د مرګ ګواښونکو حوادثو له امله په رپېږي. بلکه که پایلو ته بنه فکر وشي، نو دآسیا هر اوسېدونکی خصوصا هر هندوستانی خپل اخلاقي جرأت او آزاد مستقبل په سخت خطر

کې ويني. د هند دعالمانو اکثر تعداداو دهندي ماهرينو تر ټولو لويه طبقه پدې کوښښ کې دي چې خپل جائز حقوق او ضروري غوښتنې پرېنږدي چې تر پښو لاندې شي . کامیابي هر وخت د خدای په لاس کې وي، خو کومه فریضه چې په شرعي قومي او وطني حیثیت سره په کوم کس راځي نو ددې فريضې په ادا کولو کې لږ تاخیر هم ستر جرم دی . زه په اصلي فطرت کې کوم سیاسي سړی نه یم ، اولکه څنګه چې زما داوږد ژوند شاهد دی چې زما نظر تل مذهب وي، او دا هماغه هدف دی چې زه یې له هندوستان نه تر مالټا (بندیخانې) اوله مالټا نه یې بېرته هندوستان ته راورسولم. له همدې امله زه د يوې شېبې لپاره هم له يوه داسې تحريک (غورځنګ) څخه ځان نه جدا کوم چې د ټول اسلام د کامیابۍ لپاره کار کوي ، یا د اسلام د دښمنانو د حربو په ځواب کې د خپلواکۍ د ساتلو لپاره کارېږي

چې له مالټا نه بېرته راغلم نو راته معلومه شوه چې : د هندوستان د مسلمانانو مشرانو د خپلې فريضې دادا کولو ، او د خپلو جذباتو او حقوقو د ساتلو په نیت وروستۍ لاره غوره کړې ده، هغه دا چې دوی د قرآن شريف په يو صحيح او صريح تعليم او د رسول کريم صلی الله علیه وسلم يوه روښانه تګ لاره په کلک عزم سره رانیولې ده ، او د دوی هوډ دی چې : د قوم د ګټې او تاوان له موازنو او عواقبو ته په پوره کتنې سره به دا کار آخر ته رسوي - هغه کار دا دی چې : د اسلام له دښمنانو سره مرسته او دوستي عقیدتاً او عملاً پرېږدي

د دې مسئلې له شرعي حيثيت څخه انکار نشي کېدای ، او پدې حالاتو کې د يوه رښتوني مسلمان د غيرت غوښتنه باید همدا وي چې

۱ —حکومتي وظيفې او القاب پرېږدي
۲ —د هېواد په نويو ټولنو کې له ګډون نه انکار وکړي
۳ —يواځې د خپل هېواد مصنوعات دې کاروي
۴ —په حکومتي مکتبونو او پوهنتونو کې دې خپل بچيان نه داخلوي

پدې شرط چې

۱ —په شريعت باندې عمل وي

۲ —له افراط او تفريط څخه ځان وساتل شي ، او په اعتدال سره دې کار تر سره شي

۳ —د حضرت عثمان رضي الله عنه دا خبره په هر کار کې مفيده اوضروري وګڼل شي چې : (إذا حسن الناس فأحسن معهم, وإذا ساؤوا فاجتنب إساءتهم) چې کله خلک ښه کار کوي ، نو په ښه کار کې یې شریک اوسه ، او چې ناسم کار کوي نو له بدی څخه یې ځان ساته . والله الموفق والمعین

العبد محمود حسن عفی عنه ديوبندي
۳ ذي قعده ۱۳۳۸ه

دوهم : د جلا تعليمي ادارو پیل

! اسیران مالټا ۱۳۳ مخ) : د تېر شوي ستر جنګ (جنګ عظیم) چې د۱۹۲۴م د جون په ۲۸ پیل تر ۱۹۱۸م ۱۱ نومبر پورې یې دوام وکړو، پدې ناورين او په دې کې د انګليسانو له بري نه وروسته، د انګليسانو ظلم اوستم دهندوستان په سياسي فضا کې خوزښت پيدا کړی وو، د خلافت مسئلې دا خوزښت نور هم تېز کړو، او ۱۳۳۹ه په روژه کې چې کله شيخ الهند رحمة الله عليه د مالټا له بندي خانې نه هندوستان ته راغی او له انګرېز سره د دوستۍ او مرستې د پرېکون فتوا یې صادره کړه نو دې خوزښت د زلزلې په څېر هندوستان ولړزولو

د همدې زلزلې له امله د علي ګړه د پوهنتون ډېرې برخې ونړېدې، طالبانو (شاګردانو) پدې پوهنتون کې له درس ويلو څخه ډډه وکړه، او په مقابل کې يې د مسلم نيشنل يونيورستي په نوم بل پوهنتون جوړ شو، چې د پرانستلو د اولې غونډې مشري يې شيخ الهند په خپله وکړه

د مسلم نيشنل پوهنتون د پرانستلو په مراسمو کې د شيخ الهند وينا

(اسيران مالټا ۷۴، ۷۵، ۷۶ مخونه) : د علي ګړه د پوهنتون طالبانو د پوهنتون ته له ورتللو څخه ډډه وکړه، او ديوه بل پوهنتون د جوړولو اراده يې کړې وه، شيخ الهند يې د پرانستلو د غونډې مشرۍ ته غوره کړی وو، د شيخ الهند مرض ډېر زيات شوی وو، خادمانو يې له دې مشرۍ او علي ګړه ته له تللو څخه په وار وار منع کړو، خو شيخ الهند ځواب ورکړ چې: که په غونډه کې زما له مشرۍ نه انګرېز ته تکليف رسي نو زه به غونډې ته خامخا حاضرېږم داغونډه په ۱۲ صفر ۱۳۳۹ه ۲۹اکتوبر ۱۹۲۰م کې په علي ګړه کې تر سره شوه، د شيخ الهند د مشرۍ (صدارت) ليکل شوې بيانيه (خطبه) مولوي شبير احمد عثماني رحمة الله عليه ولوستله

پدې وينا کې ځو خبرې ډېرې د پام وړ وې

۱. ما پدې بوډاتوب، د مرض او کمزورۍ په حال کې ستاسو بلنې ته ځکه لبيک اوويلې چې : زه دلته د خپلې يوې ورکې متاع د پيدا کېدو په هيله يم، ډېر نېکان خلک وي چې : په مخونو کې يې د لمانځه نور او د الله د ياد رڼا ځر کېږي - خو چې هغوی ته اووايې چې : دخدای لپاره پاڅه او امت د کافر و له منګولو څخه وژغوره نو د هغوی په زړونو باندې وېره اوترهه راشي. دخدای وېره نه بلکه د څو ناپاکو هستيو وېره، او د هغوی د جنګ او ضرب د وسايلو

۲. ای د وطن ځوانانو! ما چې وليدلو چې زما د دې درد غمخواره (چې زما هډو کې داده پکې رژېږي) په مدرسو او خانقاوو کې کم او په مکتبونو او پوهنتونو کې زيات دي نو ما او زما څو مخلصو ملګرو يو قدم د علي ګړه خواته را واخست، پدې سره مونږه د هندوستان د دوه تاريخي مرکزونو :ديوبند او علي ګړه تر منځ تړاو پيدا کړو

۳. په تاسو کې چې کوم خلک محققين او باخبره دي، هغوی به پوهېږي چې : زما مشرانو کله هم د کومې پردۍ ژبې يا د نورو قومونو د علومو او فنونو په زده کړې د کفر فتوا نده لګولې. هو، بې شکه چې دومره يې ويلي دي چې: دانګرېزي تعليم آخري اثر دغه وي چې عموماً په ستر ګو کېږي چې: خلک د (انګرېز) نصرانيت په رنګ رنګېږي، يا په ملحدانه بې حرمتيو د خپل مذهب يا مذهب والو ټوکې کوي، يا د وخت د حکومت پيروي کوي، نو له داسې تعليم حاصلولو نه يو مسلمان ته جاهل پاتې کېدل ښه دي

۴. رښتيا چې زمونږ د قوم مشرانو د اسلامي امت د يوه مهم ضرورت احساس کړی دی، پدې کې شک نشته چې که د مسلمانانو په عصري تعليم ځايونو کې شاګردان د خپل دين له اصولو او فروعو څخه بې خبره وي، او خپل قومي احساسات او اسلامي فريضې هېرې کړي، او په هغوی کې د خپل ملت او د خپلو قومونو حميت په ډېره کمه درجه پاتې شي - نو دا داسې احساس کړئ چې دا تعليم ځايونه د مسلمانانو د قوت د کمزورۍ کولو لپاره يوه آله ده. د دې لپاره دا اعلان شوی دی چې : يو ازاد پوهنتون دې پرانستل شي، داسې چې : د کار ټول نظام يې په اسلامي خصلتونو او قومي احساساتو باندې ولاړ وي

دريم : له انګرېز سره په پوځ او پوليسو کې د کار په هکله فتوا

دا له نن نه ۹۷ کاله مخکنۍ فتوا ده، دا دهغه مهال فتوا ده چې : انګليسان په هندوستان واکمن وو، او افغانستان کې يې ماتـه خوړلې، خو د استعمار فکر يې لا ژوندی وو

دغه مهال په هندوستان کې د انګليسان پر ضد تر ټولو لوی تحريک د هندوستان د ستر عالم شيخ الهند مولانا محمود الحسن رحمة الله عليه او دهغه د شاګرد شيخ الاسلام حسين احمد مدني رحمة الله عليه تر مشرۍ لاندې روان وو دافغانستان پر محاذ چې کوم غازيان د انګرېز پر ضد په جهاد او د خپل وطن په دفاع بوخت وو ، هغوی هم له شيخ الهند او د ده له ملګرو سره يو مذهبي تړاو درلود، ځکه چې دواړه د يوه دين د دفاع لپاره د يوه دښمن پر ضد جهاد کولو خو سيمې يې بېلې وې

د دوی تر منځ تړاو دومره وو چې : کله شيخ النهد رحمة الله عليه وفات شو، نو امان الله خان په پغمان کې د ده د مړينې په هکله ستره غونډه جوړه کړه او په غونډه کې يې اوويل چې : کوم کار چې شيخ الهند شروع کړی وو، مونږ به يې پوره کوو

د افغانانو او داوسنۍ ملي اردو د ځينو ځوانانو کړنو ته چې ګورم نو حيا راځي چې داسې يوه فتوا ورته نشر کوو، خو دا فتوا کيدای شي هغو نورو ځوانانو ته لارښود شي چې: په ليکو کې شتون لري او له انګرېز يا کوم بل خائن نه د کسات کومه اراده نه لري او مسلمانان وژني

د کندهار په ميوند کې چې کله د انګليسانو او ايوب خان لښکرې سره مخ شوې د جنګ لپاره صفونه ودرېدل نو دغلته د انګرېز په لور کې د شير علي خان په مشرۍ د ملي اردو کندک هم ولاړ وو ، دې ځوانانو چې وليدل چې وطنوال او مسلمانان ورونه يې هغه بل لور ته دي او دوی له انګليس سره ولاړ دي ، نو دافغاني او ايماني غيرت رګونه يې وښورېدل، هغه وو چې ټولو دانګرېز صف پرېښود او له ايوب خان سره ودرېدل

دا فتوا پدې اراده نشروم چې : مسلمانان پوه شي چې دانګليس په لاس په جوړ شوي پوځ يا پوليس کې دنده اخستل حرام دي، بايد ځوک ورنشي، او که ځوک ورغلي وي ، نو د خپل کار په حرمت به پوه شي، يا به فورا او يا به له يوې سترې کارنامې وروسته را اوځي

شيخ الهند د هندوستان د دار العلوم ديوبند ستر عالم او مشر وو، او مدني رحمة الله عليه د ده شاګرد او له ده نه وروسته د ده پر ځای د ديوبند په ستر منصب فائز وو

په اردو او پوليسو کې د کار په هکله د شيخ الهند فتوا

سيد محمد ميا، اسيران مالټا ۱۳۳ مخ) : د هند د عالمانو د جمعيت د دوهمې غونډې مشري په خپله شيخ الهند وکړه، دا درې ورځنۍ غونډه په دهلي کې د۱۳۳۹ه د ربيع الاول په ۶ ، ۷ ، ۸ تاريخونو چې د ۱۹۲۰م کال د جولايي له ۱۹ ، ۲۰ ، او ۲۱ سره يې سمون خوړ تر سره شوه. د دې غونډې د پرېکړو د دوهمې مادې په پنځمه برخه کې دا خبره هم تاييد شوې وه چې : د دين د دښمنانو په پوځ (اردو) کې کار نه کول، او هيڅ قسم پوځي مرستې هم نه ور رسول

له دې غونډې نه يوه هفته وروسته ۱۸ ربيع الأول ۱۳۳۹ه شيخ الهند رحمة الله عليه وفات شو، اوس نو د دې خبرې وضاحت کول چې : د دين هغه دښمنان ځوک دي چې په اردو کې يې کار کول حرام دي؟ د شيخ الهند د ځای ناستي فريضه وه . د شيخ الهند ځای ناستی مولوي حسين احمد مدني رحمة الله عليه وو، هغوی په ډېر جرأت سره دغه فريضه تر سره کړه

د شيخ الهند د فتوا وضاحت

سيد محمد ميا، اسيران مالټا ۱۳۳، ۱۳۴ مخونه) : په کراچۍ کې(۱ ، ۲ ذي قعده ۱۳۳۹ه ، ۸ ، ۹ ، جولايي ۱۹۲۱م) د مولوي محمد علي جوهر تر مشرۍ لاندې د ټول هندوستان په سطحه د خلافت غونډه وشوه، چې په يوه قرار داد کې يې : په اردو او پوليسو کې کار کول حرام ګڼل شوي وو

د یو شي د حلال او حرام کېدو فتوا ديني عالم ورکولای شي، دغه مهال ديني عالم مولوي حسين احمد مدني رحمة الله عليه وو، د دوی له لوري دغه وړانديز شوی وو، دا د دې غونډې شپږم قرارداد وو، مولوي محمد علي رحمة الله عليه دغه ليک خلکو ته ور واورولو، او وېويل چې: دا د غونډې د ټولو کړنو خلاصه ده . پير غلام مجدد سندي دا سندي ژبې ته وژباړلو، او دا قرارداد د فتوا په صورت هم نشر شو، چې د مولوي حسين احمد مدني، پير غلام مجدد، مولوي نثار احمد لاسليکونه هم ورباندې وو دانګرېز حکومت له لوري دغه فتوا له دقانون خلاف وګڼل شوه، او د دې فتوا صاردوونکي او تاييدوونکي ټول ونيول شو

د کراچۍ د بند سړک (بند روډ) په خالق دينا صالون(خالق دينا هال) کې د دوی محکمه ۲۶ستمبر ۱۹۲۱م پيل شوه، او په ۲ نومبر ۱۹۲۱م فيصله واورول شوه چې: جګت ګرو دې پرېښودل شي، او نورو ټولو ته د دوه کاله بند سزا واورل شوه

له فيصلې اورولو نه مخکې انګرېز قاضي (جج) مسټر کينډي اوويل

شايد په مونږ کې داسې څوک وي چې د ترکانو په هکله زمونږ پرېکړه سخته او غير منصفانه ګڼي، او هغوی دې ته ګوري چې ترکان (عثماني خلافت) له ډېرې مودې راهيسې د اسلام د مقدسو ځايونو ساتونکي وو، او دا هم امکان لري چې مونږ به له دې خلکو سره يو څه خواخوږي لرو، خو مونږه بايد د تصوير بل اړخ هم اوګورو توري چې څه ورکړي وو، اوس يې توره بېرته اخلي، او يو قسطنطين چې څه له لاسه ورکړي وو، بل قسطنطين يې لاسته راوړي

د فيصلې پر وخت د مولوي حسين احمد مدني رحمة الله عليه د انګرېز قاضي په مخکې په خپل ليکل شوي بيان کې وويل !د مولانا عبدالعزيز دهلوي د فتاوی په دوهم ټوک کې او د مولانا عبدالحي د فتاوی په دريم ټوک کې په ښکاره توګه ويل شوي چې: په انګرېز پوځ کې کار کول حرام دي. د دې زمانې په عالمانو کې د مولوي اشرف علي تهانوي فتوا هم د هغه په کتاب کې همدا ده چې: په انګرېزي اردو کې وظيفه کول حرام دي. دا دهندوستان د ټولو عالمانو پرېکړه ده، او دا کومه نوې خبره نده

دوهمه وجه داده چې: د بيت المقدس د فتحې پر مهال د اګلستان وزير اعظم مسټر لائډ جارج ويلي وو چې: دا يو مذهبي جنګ دی، او مسټر چرچل هم دا صليبي جنګ ګڼلی وو. پداسې حال کې که هر مسلمان د عيسايانو ملاتړ وکړي هغه يوازې ګناهکار نه بلکه کافر کېږي

د اسلام حکم دی چې: د مسلمان بادشا اطاعت د اسلام په چوکاټ کې دننه کولای شي، تر اوسه چې ما څه ويلي هغه ټول په اسلامي چوکاټ کې داخل دي، او ستاسو د ملکې وکتوريا په اعلان کې هم، (هغې اعلان کړی وو چې: رعيت به مذهبي ازادي لري) نو که مونږ ته د اسلام له امله تکليف را رسول کېږي نو ضامن به يې حکومت وي مونږه نه، او که د حکومت اراده وي چې مذهبي ازادي سلب کړي نو ښکاره اعلان دې وکړي، څو اوه سوه لکه مسلمانان پدې خبره فکر وکړي چې: هغوی د يو مسلمان په حيث ژوند غواړي که د حکومت د رعيت په حيث، همداسې دوه ويشت سوه لکه هندوان هم فکر وکړي چې هغوی به څه کوي، ځکه چې که مذهبي ازادي سلب کېږي نو د ټولو به سلب کېږي

او که لارډ ريډنګ د دې لپاره راغلی وي چې: قرآن وسوزوي، حديث شريف ختم کړي، او د فقهې کتابونه برباد کړي، نو له ټولو نه مخکې په اسلام باندې ځان قربانوونکی زه يم پدې وروستي جمله باندې مولوي محمد علي ورته جزاک الله اوويل، او بيا يې د مولانا حسين احمد مدني رحمة الله عليه پښې ښکل کړې، او د پرېکړې د اورېدلو لپاره صالون ته ټولو راغليو حاضرينو ورته: جزاک الله او مرحبا اوويل "مولوي سيد محمد ميا، اسيران مالټا ۱۳۳ ۱۵۲ مخونه# ۱۵رجب ۱۴۳۶ه

پر اعدام د محمد مرسي محکومېدل او د مصر راتلونکی

شهید زوی

د مصر د کودتايي رژيم د قاهرې فوځي محکمې د مصر په تاريخ کې تر ټولو رومبی منتخب ولسمشر دوکتور محمد المرسي د مرګ په سزا محکوم کړ؛ په ۲۰۱۱ کې د زندان ماتولو په تور ښاغلي مرسي ددې سزاوړ ګڼل شوی.

د تيونس نه پس چې په مصر کې د سترو ولسي پاڅونونو په نتيجه کې د حسن مبارک رژيم رانسکور او بيا د ۲۰۱۲م په اګست مياشت کې په ترسره شويو ولسمشريزو او پارلماني دواړو انتخاباتو کې د الاخوان المسلمون په نوم هغه اسلامي ګوند واک ته ورسېدلو چې نږدې له ۸۰ کلونو راهيسې د دولت د سخت جبر او تشدد ښکار و نو د هېواد ولسمشر د محمد مرسي په نوم هغه شخص وګرځېد چې زده کړې يې تر دوکتورا رسېدلې وې او آن د امريکا په پوهنتونونو کې يې هم استاذي کړې وه؛ په مزاج کې يې ډېره عاجزي وه، د نړۍ د تر ټولو کم معاش اخستونکي ولسمشر و؛ د ولس د مشکلاتو ختمول، د فساد له منځه وړل، د عدل او پرمختګ راوړل يې ىواځني هيله وه؛ د سيکولر مصر پر ځای يې اسلامي مصر غوښتلو او د لويديځ او اسرائيلو نه يې د مصر لرې کول او اسلامي نړۍ ته د ور نږدې کولو لپاره عملي اقدامات پيل کړي وو ډېره مهمه دا چې کابينه يې کابو سل په سلو کې متخصصه وه.

داستر بدلون نه امريکا، نور لويديځ او اسرائيلو ته د منلو وړ و اونه هم د اسلامي نړۍ شاهانو او ديکتاتورانو ته نو ځکه د همدې امريکا، اسرائيلو او دسيمې شاهانو او ديکتاتورانو په لسون او مالي مرستو په انتخاباتو کې ماتې خوړلې ډلې؛ قبطي عيسويان او دغربي اين جي او ګانو کار کونکي د ښاغلي مرسي د دولت پر ضد لاروکوڅو ته راووتل او لاکال نه وپوره چې د مرسي اداره يې په بې کفايتۍ او په کړوژمنو نه و دربدلو تورنه کړه چې د امريکا او د اسرائيلو د صهيونستي رژيم د اسلام او مسلمانانو پر ضد ديوې پلان شوې طرحې د عملي کولو په موخه جنرال السيسي په ډېرې بېړۍ د ولس د قاطع اکثريت د خوښې او رايې په نتيجه کې رامنځته شوی د اسلامپال دوکتور محمد المرسي قانوني دولت د ۲۰۱۳ ميلادي کال د جولائي په ۳مه نېټه ديو کال واکمنۍ وروسته رنګ کړ او پر ځای يې د مسلمانانو د وژلو او ځپلو لپاره پخپله د واک په ګدۍ کېناست.

واک ته ديهودی النسله جنرال عبدالفتاح السيسي د رسېدو له هماغې رومبۍ ورځې راهيسې هغه د مسلمانانو په نيولو، بنديانولو شکنجه کولو او وژلو پيل کړی چې تر اوسه دوام لري؛ دده کودتايي اوپردي پالې اداري په زرونو مسلمانان شهيدان کړي؛ په لسګونو زره يې ټپيان کړي او په لسګونو زره نور يې يواځې د مسلماني اوداخوان المسلمون سره د تړاو او يا د خواخوږۍ په جرم زنداني کړيدي.

د مصر اجيري محکمې هم د مسلمانانو د ځپلو په جنايت کې برابره ونډه اخستې ده؛ په پرلپسې ډول د مصر فرعوني رژيم د ځپلو اسلام د ښمنو تش په نامه قاضيانو په واسطه د اخوان المسلمون په مشرانو، غړو او پلويانو يا د اخوان المسلمون سره يواځې د تړاو لرلو او يا له

دې امله چې تېر کال یې د السیسي د کودتا پر ضد دمصر دمسلمان ولس په اعتراضیه لاریونونو کې برخه اخستې وه داورد وموده لپاره دزنداني کولواواعدام حکمونه صادروي ؛چې په همدې لړ کې یې دمصر اصل قانوني اوپواځني منتخب ولسمشر ډومبی پدې تور چې دخپل واکمنۍ پرمهال یې دمظاهرینو دنیولو اوسکنجه کولوحکم کړی وپه ۲۰ بندمحکوم کړ او اوس یې پرې دادی دزندان ماتولو په تور داعدام دسزاحکم صادر کړ.

له دکتورمحمد مرسي وړاندې داخوان المسلمون روحاني مشرپروفیسوردکتورمحمد بدیع ، دده نائب دکتورخیرات الشاطر ، داخوان المسلمون مرکزي مشر دکتورمحمد البلتاجي ، دمحمدمرسي داداري دپارلمان منتخب ویاند دکتورسعد الکتاتني اوداسلامي نړۍ ددیني عالمانو دتنظیم مشرپروفیسوردکتورمحمد یوسف القرضاوي په ګډون ۱۰۶ مسلمانان داعدام په سزامحکوم کړیدي.

دکتورمحمد یوسف القرضاوي چې په ۱۹۲۴م کال کې په مصر کې زېږېدلی دی ۵۰ کلونه وړاندې دمصرپوپخواني ولسمشر ناصر له هېواده ویستلی و؛ بیا دانور السادات اوحسني مبارک دواکمنیوپرمهال هم هغه ته مصر ته دراتلواجازه نه وه ورکړل شوې ؛ اوس چې په ۲۰۱۲م کې دمحمدمرسي په مشرۍ کې داخوان المسلمون واکمني راغله نوور ته دخپل پلارني ټاټوبي ته دلیدنې اجازه ورکړل شوه اوهغه ته ایله ۵ لسیزې پس دخپل ټاټوبي لیدل نصیب شول ؛هغه ددولت په اجازې دخپل ټاټوبي نه لیدل کړي و اوس ،شاید همدابه داسې سترجرم وي چې له امله یې السیسي دپخوانیوحاکمانونه هم لس قدمه وړاندې ولاړ اودا ۹۰ کلن سپین ږیری عالم یې دمرګ په سزامحکوم کړ ؛ انالله وانا الیه راجعون.

دمصر دعدلې وزارت معین عادل الفهمي رسنیو ته ویلي دي چې دمصر محاکمو یوسف القرضاوي په مرګ محکوم کړیدی اوزموږدباندنیوچارو وزارت دقطر نه دوه ځلې موږ تـه دده دراسپارلوغوښـتنه کړیـده ، دااوس دقطر اخلاقي مسئولیت دی چې هغه اوداخوان المسلمون ټـول هغــه مشـران چـې مـوږیـې غوښـتنه کوومورتـه راوسپاري.

ددې سپین ږیري نړیوال دیني شخصیت پرضد شوې دوحشت نه ډکه پرېکړه امریکا اودارو پاالواسلامي نړۍ نېږدې ټولوهېوادونو غندلې ده اودایې دانصاف له غوښتنوډېره لرې ګڼلې ده خوبیاهم دمصر اداره له خپلې پرېکړې نه وروسته کېږي اواصرار یې دی چې دقضاپرېکړه به تطبیقېږي .

په زړه پورې داده چې داعدام په سزا په محکومو شویو تنانو کې ۵هغه فلسطیني ځوانان هم شامل دي چې کلونه وړاندې پرغزې داسرائیلوپه هوایي بمباریو کې په شهادت رسېدلي دي ؛ له دې ۵ له جملې نه حسام الصائغ په ۲۰۰۸م کې شهید شوی ؛ تیسیر ابوسنیمه په ۲۰۰۹م کې اورائد الطیارپه ۲۰۱۴م کې په شهادت رسېدلی دی .

نودمصر دمحاکمو دظلم اوجبر تر ځنګ دېې خبرۍ اوجهل داحال دی چې یوکې مړي هم داعدام په سزامحکومېږي ؟!

له دې هم زیاته عجیبه اودخنداوړخبره داده چې په محکوم شویومصري مسلمانانوکې یوشمېرهغه بې چارګان هم شامل دي چې جرم یې د السیسي داداري پرضد دتېرکال په اعتراضیه غونډوکې ګډون

ګڼل شوی حال داچې هغوئ کلونه وړاندې له دې نړۍ سترګې پټې کړیدي ؛ نومصردنړۍ یواځنی هغه هېواد دی چې یکې مړي جرمونه هم کولای شي اودمرګ په حالت کې دګروجرمونوله امله یې ددې هېوادمحاکم په اعدامونوهم محکومولای شي .

دسینا ۶ اوسیدونکي تېره اونۍ دمصرپه یوفوځي زندان کې پدې تورپه دار وزړول شول چې په سیناکې فعالې دلې ((انصاربیت المقدس)) سره یې تړاو، واوپه فوځ یې په یو تازه شوي برید کې لاس درلود .

ددې اعدامونوپه هکله دبشر دحقوقودساتنې نړیوالی اداري ((ایمنستي انټرنیشنل)) ویلي دي چې داعدام شویو تنانودوسیې ډېرې کمزورې وې اودزور اوسختوسکنجو له لارې ترې اقرارونه اخستل شویدي اوبیاپه دارزړول شویدي نوځکه باید دادعدلې قتل وګڼل شي

ددې پېښې په اړه هیومن رایټس واچ اوایمنستي انټرنیشنل دواړونړیوالو ادارو ویلي دي په فوځ باندې دکومې حملې په تورچې دا ۶ تنان اعدام شول په دوئ کې ۳ تنان لا ددې پېښې نه ۳ میاشتې وړاندې زنداني شوي وونوځرنګه کېدای شي چې هم دې دوئ په زندان کې وو اوهم دې یې په فوځ حمله کړې وي ؟

ایمنستي انټرنیشنل اداره وایي چې دمرسي پر ضدجوړه شوې دوسیه هم دې ته ورته اوسراسرپه بې انصافۍ ولاړه وه .

محترمولوستوالوګورئ ! مصرداسې یوهېواد دی چې یکې څوک په زندان کې شپې ورځې تېروي په همدې وخت کې یې دولت دزندان نه بیرون دترسره شوي یوسترجرم مرتکب ګڼي ؛ که څه هم داسې کېدل ناشوني وي خوبیابه هم ددولت خبره سمه ګڼل کېږي اودده پورې دتړل شوي همدې جرم له امله به هغه اعدامولی هم شي ؟!

بناغلی مرسي چې په کومو دوه جرمونو تورن کړای شویدی هغه دواړه هم پېښې داسې دي لکه ددې ۴ زندانیانوجرم .

ترکومه چې په ۲۰۱۱م کې دزندان ماتولوخبره ده نوپه هکله یې ایمنستي انټرنیشنل داسې وایي : دحسني مبارک دواکمنۍ پرمهال دکتورمرسي په زندان کې و؛ دتیونس نه پس په مصر کې ملي پاځون رامنځته شواوچې زوریې واخسنت اوپاځون کونکي غالب شول نودزندان عمله وتښتېده ؛یواځې زاندان نه بلکې دقاهرې په شمول په ټولو هغوښارونو کې چې پاځون کونکي یکې غالب وو پولیس یکې په ستر ګونه لیدل کېدل نوکله چې زندانیانو دزندان عمله ولیدله چې تښتي دمحمد مرسي په شمول ټول زندانیان هم له زندان نه راووتل؛ نه مرسي ، نه اخوان المسلمون اونه هم بل چا زندان مات کړیدی یانې دزندان ماتېدلو پېښه له سره رامنځته شوې نده نوپه کوم دلیل پرې مرسي داعدام ور ګرځول کېږي ؟

نوداهم دحیرانتیا ورخبره ده چې جرم پېښې وجود نه لري خودمصرمحاکمو کمال وګوره چې همدا معدوم جرم موجود ګڼي ؛مرسي یې مرتکب ګڼي اودومره یې لویوي چې مرسي پرې داعدام وړبلي ؟!

بناغلی مرسي په ۲۰ کلونوبند هم محکوم شویدی اوجرم یې داویل شوی چې مظاهرین یې تاوتریخوالي ته هڅولي و.

د تاوتریخوالي دکومو پېښویادونه چې شویده دادا ۲۰۱۲م په دسمبر کې هغه مهال رامنځته شوې وې چې ولسمشرمرسي دصدارت ماڼۍ کې و اودصدارت ماڼۍ نه فوځ راتاو وچې له امله یې دمرسي روابط له ټولې نړۍ سره شلېدلي وو؛بیاچې کله فوځ ددولت همدې مخالفومظاهرینو کې مرسي ته دتاوان رسولوتوان ولیدلونودصدارت له ماڼۍ وروسته شواومرسي یې هغه لاریون کونکوته پرېښودلوچې

له څانوسره يې وسلې اولاسي بمونه راوړي وونومجبوراً داخوان المسلمون غړي په تشولاسونودمرسي اوصدارت ماڼۍ دفاع ته راووتل چې وړاندې مخالفينودزړې وکړې او ګڼ تنان پکې شهيدان اوټپيان شول.

نوعجيبه ده چې تاوتريخوالي دمرسي دمخالفومظاهرينوله لوري رامنځته شوی وچې مرګ ژوبله هم پټوله دمرسي پلويانو ته رسېدلې وه خوبياهم مجرم مرسي ګڼل کېږي اوددې ناکړي جرم له امله په ۲۰ کاله بند هم محکومېږي ؟!

ايمنستي انټرنيشنل وايي چې دسيسي اداري محکمې ته هيڅ داسې ثبوت وړاندې نکړ چې مرسي خپلو پلويانو ته دتاوتريخوالي حکم کړی وي اويادده دپلويانو له لورې تاوتريخوالي رامنځته شوی وي.

دروان ميلادي کال داپريل مياشت کې دايمنستي انټرنيشنل له لورې په خپور شوي راپور کې راغلي دي چې دمرسي پرضد جوړه شوې دادوسيه له شرمه ډکه ده اوپکې دانصاف شکل په کلي ډول مسخه شويدی.

دیادولو وړده چې دمصرپه زندانونو کې دالاخوان المسلمون مشران او غړي اونور اسلام خوښي زندانيان سخت سکنجه کېږي چې دسختوسکنجولو امله په زندانونو کې دمسلمانانودشهادتونولړۍ هم اوس تېزه شويده؛ تېره اوونۍ دمحمدمرسي دوخت دپارلمان غړی محمد الفلاحي په زندان کې دسختوسکنجو له امله په شهادت ورسېد؛ له دې وړاندې دروانې مئ مياشتې په ۱۵مې نېټې داخوان المسلمون يومهم مشراودمصر نامتوڅېړونکی اومحقق فريداسماعيل دزندان عملې په وهلو وهلوپه شهادت رسولی و.

دوطن نيوزپه يو تازه خپور شوي راپور کې راغلي دي چې دمصرپه زندانونو کې پر اسلام خوښوله حده زيات ظلمونه روان دي اودتېر کال دجون نه تراوسه پورې دمصرپه زندانونو کې دظلم اووحشت په نتيجه کې داخوان المسلمون ۱۳۵دلوړی اوټيټې پايې مشران په شهادت رسول شويدي خوددوئ په اړه هيچاته دڅېړنې اجازه نه ورکول کېږي.

دبشر دحقوقو نړيوالې اداري هيومن رايټس ويلي دي: دمصر زندانونو کې په زندانيانونودېر لوی وحشت روان دی خودوحشت کونکونه هيڅوک دپوښتنې نشته؛ له دې داسې ښکاري چې داد السيسي د اداري يوه منظمه سياسي کړنلاره ده.

په يو تازه خپور کړي راپور کې هيومن رايټس داهم ويلي دي چې دمصر امنيتي اداري په زندانونو کې دښوونځوپه زده کونکو تنکوځوانانو اوميرمنوپه لوړه پيمانه جنسي تېري هم کوي؛ پدې بد اخلاقيو دالسيسي داداري دمجرمانه چوپتيانه داسې ښکاري چې داهم دخپلو مخالفينوپرضد دسياسي پلان برخه ده

بس دالسيسي فکر دادی چې په لوړه کچه دخپلو مخالفينو په وژلوپه لوړه کچه يې دزنداني کولو اوپه لوړه کچه يې په اعدامولو کې دقدرت پڅانغښتې ده نوځکه يې دهمدې فکر عملي کولو ته متې رانغښتې دي

دالسيسي داداري اومحاکموعملي اسلام دښمني يواځې ترمصره نده محدوده بلکې تر کومه ځايه چې يې توان اوطاقت وي ترهغه ځايه خپله اسلام دښمني ښکاره کوي نوهماغه وچې کله يې دمصرپې ګناه مسلمانانو ته په سزاګانو ور کولو زړونه يخ نه شول نودخپلو بادارانو دخوشالولوپاره يې دخپلې اسلام دښمنۍ لمن ترهغې غزې هم وروغزوله چې له هر لورې اسرائيلو محاصره کړی اودامید ستر ګې يې يواځې دمصر دمسلمانانو پرلوردي.

دالسيسي اداري داجيرو محاکمو دامريکا او اسرائيلو دخوشالولو لپاره دحماس غورځنګ ترهګره ډله وبلله اوله نړۍ نه يې وغوښتل چې دترهګروپه لست کې دې شامله کړي نو همدالامل دی چې دمصرهوايي ځواکونه وخت ناوخت دفلسطيني مسلمانانو د رفح دسرحدي سيمې په خلکو چې په غزې پورتړلی ده بمباري کوي چې

تراوسه پکې په سونو مسلمانان شهیدان یا ټپیان شویدي ؛ پردي سربېره مصري ځواکونو په رفح کې دمظلومو مسلمانانو دهستوګنې ۲ سوه کورونه ړنګ کړیدي او د ۵ سوونورو د ړنګولو پلان لري.

غزه چې یو اخې د اسلامي هېواد مصر سره ګډه پوله لري او نورله ټولو اړخونو د اسرائیلو په محاصرې کې ده نو دا ړتیاز یاتره توکي د رفح له لارې د مصرنه راواردوي ؛ السیسي د اسرائیلو په لمسون دیادو اقداماتو له لارې غواړي چې دغزې په باغیرته اوسېدونکو او خصوصا په حماس د محاصرې او اسارت کړۍ را تنګه او له دې لارې یې د اسرائیلو پر ضد د مقدس جهاد نه لاس په سر کړي ؛ څرګنده ده چې امریکا او اسرائیلو السیسي دهمدې هدف لپاره واک ته رسولی.

دا هم څرګنده خبره ده چې په مصر او غزې دواړو کې د ظلم او جبر یواځنی هدف د اسلام پالو دمبارزې ځپل دي خو مصري جابره اداره باید پدې پوه شي چې د جبر او تشدد له لارې د حق او صداقت دمبارزې مخنیوی نه شوی او نه به وشي لکه چې د مصرنورو جابرو واکمنانو دا ارمان له ځانونو سره خاوروته یوړو السیسي به یې هم یوسي ؛حق او صداقت به د ظلم او جبر په مقابل کې سرټیټ نکړي او یوه ورځ نه یوه ورځ به دا قربانۍ رنګ راوړي

دکتور محمد مرسي اګرچې دغلامو محاکمو له لورې د اعدام په سزا محکوم شویدی او ورته دمدافع وکیل نیولو اجازه هم نده ورکړ شوی خو علما د اسزا هغه مها ورکو |کېدای شي چې د مصر مفتي اعظم یې تصویب کړي ؛ د مصر مفتي اعظم چې دولتي مفتي دی شاید د بدنامی نه د ځان ساتنې لپاره د اسزا تصویب نکړي خو دا هم له امکان نه لرې نده چې دولتي مفتي د دولتي قاضیانو په پل قدم کېږدي او د السیسي د خوښې سره سم د اسزا تصویب کړي چې بیا به ایله محمد مرسي ته د رحم دطلب بې ګټې خواست پاتې وي چې شاید ویې هم نکړي.

خوپوښتنه داده چې که ریښتیا هم مرسي ته د اسزا ورکړ شي پایلې به یې څه وي؟

زیاتره شنونکي ددې پوښتنې په جواب کې د طبیعي عکس العمل خبره کوي یانې دا چې د اخوان المسلمون سره به یې تراو وي او که نه وي د مصرټو |اسلام خوښې به لاروکوځوته راووځي چې د مصر د سیکولر او ظالم فوځ له لورې به د سخت ظلم ښکار شي او شاید دلسګونو زرو مسلمانانو وینې توی شي نو که دیکتاتور باندې دنړۍ فشار زیات شو او استعفاته ژر تیار شو بیا به د عبورې اداري او وریسې د انتخاباتو خبرې وي خو دا سې نه ښکاري چې د قدرت له حد نه زیات وږی السیسي به ګینی ژر واک پر ښېنودو ته تیار شي بلکې دده د ظلم او جبر لړۍ شاید ډېره اوږده شي چې پایلې به یې د ټولې نړۍ د تمو خلاف وي.

دا طبیعي خبره ده نو د شنونکو دا خبره بیخي پرځای ده خو ددې کاریوه بله حتمي نتیجه چې څوک ترې یادونه نه کوي څه یې یادونه ضروري بولم چې هغه په مصر کې د دولت ضد دوسلوا |مقاومت پیلېد |دي

محترم لوستوالوته به معلومه وي چې اخوان المسلمون یو عالمي دیني سیاسي تنظیم دی یانې دنړۍ په زیاترو اسلامي هېوادونو کې په مختلفو نومونو دې فکر ته نېږدې تنظیمونه شتون لري چې ټو |دمصر د اخوان المسلمون بانیان خپل سیاسي او فکري امامان ګڼي ؛ د اسلامي نړۍ په ځینو هېوادونو کې دوئ د انتخاباتو له لارې په قاطع اکثریت سره واک ته هم رسېدلی دي او په یو شمېر هېوادونو کې دې تنظیمونو د خپلو هېوادونو د دولتونو پر ضد وسلې ته هم لاس کړیدی خو مصر چې ددې نهضت رهبنې ترې ټولې اسلامي نړۍ ته خپرې شویدي

اودتېروکابو ۸ لسیزوراهیسې یې دهېواد دهررژیم له لورې له حده زیات سخت ظلمونه لیدلي دي تراوسه یې ددولت پرضد وسلې ته ندی لاس کړی اویواځې په سیاسي ډګرکې خپله مبارزه مخ په وړاندې بوځې

خواوس داسې ښکاري چې سیاسي مبارزه به نور په ځوان کو کې دوام ونکړي ؛ دامبارزه به یواځې ځوانانو ته پاتې شي ځکه چې له یوې خوا دمصرددولتونو ظلم جبر اودنړۍ جفا دمصرځوانان دسوله ایزې سیاسي مبارزې نه ناهیلي دي اوبل لورته دمنځني ختیځ حالات هم اوس دتېرنه ډېربد دي

دمصر په ځنګ کې به فلسطیني ځوانانود اسرائیلي جبرپرلور ایله ډېرې ورویشتلای شوې خواوس دهمدې فلسطیني مسلمانانو جهادي غورځنګ حماس په خپلو لاسونو په جوړوشویو توغندو داسرائیلو ډېرې ښارونه په نښه کولای شي اوداسرائیلو په مقابل کې نه یواځې داچې ترکابو دوه میاشتو جنګ روان ساتلای شي بلکې ورته پدې اوږد جنګ کې شکست هم ورکولای شي اود ۲۰ نه زیات فوځیان یې هم وژلی شي ؛ زما اشاره دتېرکال دمئ اواګست میاشتو کې پرغزې داسرائیلو وحشي حملې ته ده چې تر۵۱ ورځو روانه وه؛ پکې دکوچنیانو او مېرمنو په شمول په زرونو بې ګناه مسلمانان ټپیان اوشهیدان شو تولهغزه په کنډوالې بدله شوه خوحماس ددې اتومې ځواک پرضد په ډېرې میړانې دفاعي جنګ جاري وساتلو چې پکې داسرائیلو په وینا تر ۲۰ پورې اسرائیلي فوځیانو خپل ژوند له لاسه ورکړنو شاتګ ته اړشو

اوهمدا منځنی ختیځ چې به پکې چاد دکوم دولت پرضد دډزکولو تصورهم نه شو کولای اوس پکې جهادي غورځنګونه دومره قوي شویدي چې دامریکا اوبرتانې په څېرستروزبرځواکونو ته یې په عراق کې په اوږد لس کلن جنګ کې تاریخي شکست ورکړ؛ په عراق اوسوریې کې دسترو ولایتونو په نیولو توانېږي ؛ په یویو یرغل کې تر ۵سوو پورې خپل مخالفین وژلای شي اونېږدې ده چې په لاس یې دعراق اوسوریې په څېر هغه دولتونه سقوط وکړي چې ترشا یې سترزبرځواکونه ولاړ دي

که خدای مکړه دکتورمحمد مرسي رښتیاهم اعدام شي نوماته داسې ښکاري چې دقیادت باقي پاتې مشران به بیاهم ددولت پرضد جنګ اعلان نکړي خودځوانانودصبرکاسه به نوره ډکه شوې وي ؛سیاسي هلې ځلې به نورې بې ګټې بولي ؛ دمنځني ختیځ دجهادي غورځنګونو کامیابیو ته چې ګوري نودخپلې ستونزې حل به هم په مسلح مقاومت کې ویني اوهمدا لاربه تعقیبوي

په منځني ختیځ کې نویوو راپیدا شویو جهادي نهضتونو چې د اشغالګرو او لاسپوڅو دواړو په مقابل کې لوی بریالیتوبونه ترلاسه کړ نو اخوان چې په ولس کې د پرېږ پخې اوزړې رېښې لري د پره ګرانه به وي چې د ولس د حمایت نه بې برخې د السیسي رژیم به یې په مقابل کې تینګ شي

داهم باید له یاده ونه باسو چې دوسلوا پاڅون داخبره به یوازې دمصرپورې محدوده نشي بلکې ټولې سیمې ته به خپره شي ځکه چې داخوان المسلمون سره، تېرو ،روانو اومتوقعو ظلمونو اووحشتونو دټولې عربي نړۍ سیاسي اعتباردخاوروسره خاورې کړیدی ؛ یوازې داسلامي یاعربي نړۍ خلک نه بلکې دنړۍ تو باشعوره وګړي باورلري چې دواک نه داخوان المسلمون لرې کولو اوداعدام تختوته رسولو کې دټولې عربي نړۍ پوره لاس دی ؛ دمصرپه قصاب جنرا السیسي باندې چې ددې دومره ظلمونو سره سره هم دنوروعربو دولتونو مهرباني دوام لري دې دټولې اسلامي نړۍ اوخصوصاً دعربي هېوادونو مسلمانان سخت ناراضه کړیدي چې دیمن په قضیې کې دنړۍ مسلمانانو ددې نارضایت عملي ثبوت وړاندې کړ؛ پدې قضیې کې عربي اتحاد دمسلمانو ولسونو حمایت ته سخت محتاج وو اوددې حمایت راجلبولو لپاره یې د پرېږ هڅې هم وکړې خو پکې ناکام شو اودعامو مسلمانانو له لورې دحمایت اوملګرتیا هیڅ څرک ترسترګو نه شو ؛ دمراکش نه ترانډونیشیا په یو اسلامي هېوادکې هم چا ونه لید چې دعربو دحمایت په موخه دې عامو مسلمانانو مظاهرې کړې وي اویادې لاروکوڅوته راوتي وي ؛ په کوم هېوادکې چې کوچنۍ مظاهرې ترسترګو شویدي هغه هم د دولت پلوو دلوله لورې رامنځته شوې اودحرمینو د ساتنې خبره پکې رامخې ته شوې وه ؛ که دحرمینو ددفاع خبره پکې نه وای چابه داکوچني لاریونونه هم په سترګو نه وای لیدلي

حقیقت دادی چې دعربو اکثروحاکمانو اودولتونو ته عام مسلمانان دسخت نفرت په نظر ګوري ؛عرب حاکمان باید داخیال له خپلو ذهنونو وباسي چې ګیني خلک ټول دغفلت په خوب ویده دي ؛ دوئ باید پدې پوه شي چې مسلمانانو دشعور اوبیدارۍ پړاوونه پیل کړیدي اود شعور اوبیدارۍ پدې زمانه کې هر باشعوره مسلمان پدې پوښتني کې حق په جانب دی چې دیمن دخور افاسدې ادارې ولسمشر منصور هادي که له واک نه لرې کول جرم وي اوحوثیان باغیان وي او بیر ته دمنصور هادي واک ته رسول دومره اړین وي چې دعربو اتحاد جوړول اوپريمن هوايي بريدونه ور ته ضروري وونودمرسي داسلام دوستې ،صالحې اوقانوني ادارې بې رحمانه ړنګول دلسګونو زروبې ګناه انسانانو وژل بندیانول مظلوجول اوتریتم کول ولې جرم نه ګڼل کېږي ؟اودېیار اوستلو لپاره یې کمزورې هڅې ولې نه کېږي ؟ که دحوثي باغیانو مرسته کونکي هم مجرمین دي نودلسګونو زروبې ګناه انسانانو قاتل جنرال السیسي حمایت کونکي اوورسره مرسته کونکي عرب حاکمان ولې پدې جرم کې شریک نه ګڼل کېږي؟

که امریکا اونور لویدیځ دالسیسي نه په حمایت ددوه مخي توب ښکار کېږي نولامل به یې اسلام دښمني اودالسیسي په شتون کې دخپلو ګټو خوندیتوب وي ؛عرب حاکمان ولې پدې اړه دبې انصافۍ ښکار دي ؟

داوس ددې وخت دی چې عرب حاکمان پدې خبره ربښتینې غوروکړي ، له خپلو تېروکړنو توبه وباسي ،اسلام ته عملاًخپله ژمنتیا ښکاره کړي اودټولوبې انصافیو ازاله وکړي ؛له دې پر ته به نه دمسلمان ملت اوخپلو ولسونو حمایت ترلاسه کړي اونه به هم دخپلو واکمنیو په بقا وتوانېږي .

دیـــن

(عقاید، عبادات ، تصوف)

داسلامي نړۍ ثقه عالم دوکتور محمد حمید الله رحمه الله

ژباړه: شهاب منصور

درسول الله (صلی الله علیه وسلم) مبارک ذات یواځې د خوش اعتقادۍ له لحاظه نه، بلکې له واقعاتي حیثیت نه هم ډېر زیات جامع شخصیت دی، دمغه د شخصیت وضاحت لپاره مؤرخ او سوانح لیکونکی دیته اړ دی چې مختلفې خواوې یې وڅېړي آنچه خوبان همه دارند تو تنها داری د ټولو پخوانیو پیغمبرانو خصایل اوصفات د رسول الله (ﷺ) په مبارک شخصیت کې مندل کېږي

که مونږ د [نبي] لفظ دمعنی له لحاظه محدود کړو، چې نبي ددین ښودنه کوي، رسول الله (ﷺ) مونږ ته ددین ښوونه هم کوله اوکه یې پراخه معنی واخلو نومغه ټولې کارنامې چې رسول الله (ﷺ) سرته رسولې دي، مغه ټولې دنبوي منصب ځانګې یابرخې دي، دنبوت ټول ښاخونه یا برخې که مونږ جلاجلا راوړو ، نو په مغو ټولو باندې په یو مجلس کې رڼا اچول ناشوني ده، ښکاره ده چې په مغو ټولو کارنامو کې ددین تعلیم ته اولیت په برخه دی، ولې چې دمغې لپاره رسول الله (ﷺ) دبعثت نه تر وفات ټول عمر کوښښونه کول له نیکمرغه چې مونږ ته د دین په لړ کې دا یوه اسانتیارا په برخه شوې چې پخپله د رسول الله (ﷺ) په وینا (یوحدیث) کې یې لنډیز راغلی دی: په یو روایت کې په صراحت سره راغلي چې دا پېښه د رسول الله (ﷺ) د ژوند په وروستي کال وه، مغه داچې: یوه ورځ یو داسې اجنبي تن نبوي مسجد ته راغی، چې مغه میچا نه پېژانده، د مغه په تن سپین کالي و، او دسر ویښتان یې بیحده تور و، مغه راغی د رسول الله (ﷺ) دزنګنو سره یې دخپلو زنګنونه و نښلول او کیناست ، وې پوښتل: ای محمده! (ﷺ) ایمان څه شی دی؟ رسول الله (ﷺ) یې تشریح وکړه! بیا مغه وویل تا ډېر رښتیا وویل، راوي وایي: مونږ ټول خلک حیران شو چې داسړی څوک دی چې هم پوښتنه کوي، او هم دځواب توثیق پخپله کوي؟ بیا مغه دویمه پوښتنه وکړه: اسلام څه شی دی؟ رسول الله (ﷺ) اسلام تشریح کړ، په ورته توګه یې وویل: ته! سهي وایي! بیا یې وپوښتل: احسان څه شی دی؟ رسول الله (ﷺ) احسان تشریح کړ، مغه وویل: ته رښتیا وایي! بیا مغه وروستی پوښتنه دا وکړه، قیامت به کاله راځي؟ ددې په ځواب کې رسول الله (ﷺ) وفرمایل: دې باره کې ماته (ﷺ) له سایل نه زیات علم نشته، یعنې نه زه نه پوهیږم چې قیامت کله راځي اونه ته دقیامت راتلو په نیټه علم لرې! یواځې خدای (جل جلاله) ته معلومه ده چې کله به قیامت وي؟ ددې وروسته مغه سړی پورته شو او بیرون ووت ... رسول الله (ﷺ) یوه صحابي ته وویل: ته ورشه وګوره داڅوک و؟ مغه صحابي ترشا پسې ورغی، لږه شیبه پس مغه بیرته راغی، وې ویل: له مانه ورک شو! معلومه مې نکړه چې مغه په زمکه ننوت او که اسمان ته وخوت، دمغه وروسته چې کومه واقعه وشوه، مغه په مختلفو روایتونو کې په دوه مختلفو طریقو راغلي ، په یو روایت کې دي: چې رسول الله (ﷺ) فوراً وویل، په بل روایت کې دي چې څو ورځې وروسته یې وویل: دا سړی جبریل (علیه السلام) و، چې تاسو ته ستاسو ددین ښودو لپاره راغلی و، په کوم روایت کې چې دادي: چې [څو ورځې وروسته رسول

الله(ﷺ) وويل]په مغه کې دا جمله هم اضافه ده، چې رسول الله وويل [تر ننه دجبریل(علیه السلام) په پیژندلو کې دستونزې سره نه یم مخ شوی چې مغه ما نه وي پیژندلی] په هرصورت په دې حدیث کې د درې څېزونو په اړه وضاحت شوی دی ایمان څه دی؟ اسلام څه دی؟ احسان څه دی؟ دې درې خبرو ته په نور و الفاظو عقاید، عبادات او تصوف ویل کېږي، په ښکاره دا موضوع جالبه نه بریښي، ځکه هر سړی پوهېږي چې دایمان څخه مرادی څه دی؟ الله یو منل رسول الله منل هم داسې دعباداتو په باره کې هر سړی پوهیږي چې لمونځ، روژه، حج، زکات څلورواړه څېزونه په مونږ فرض دي، ځینې خبرې دتصوف په باره کې هم هر سړي ته معلومې دي، خو که مونږ ددې څخه هر څېز را واخلو دنورو مذهبونو سره یې پرتله کړو نوپکې جالبیت پیدا کیږي.

اول ایمان او عقاید واخلئ، ددې ګڼ اړخونه، اجزاء او عناصر شته ،مثلاً: په الهي توحید باندې ایمان ، دالله له لوري په نازل شویو کتابونو ایمان،دمغه په رسولانو ایمان،په فرښتو ایمان، آخرت او دجزاء په ورځ ایمان، دخیرو شر په اړه چې دواړه دالله له لخوا دي ایمان؛ که مونږ دغه عقاید دنورو مذهبونو دعقایدو سره پرتله کړو نو داسلام امتیازي شان په نظر راځي،او داسې نکتې راښکاره کېږي چې واقعاً مغو ته انسان حیران پاتې کېږي، دعقایدو په لړ کې لومړی څېز په الله(ﷻ) ایمان دی، ځینې ادیان په دې قایل دي چې الله یو دی، او داخبره ښه په صراحت کوي ، حتی عیسویان هم؛ دچا په اړه چې عامه تصور دادی چې مغوی په تثلیث باندې د ایمان لرلو په وجه یو نه بلکې درې خدایان مني؛ هم داسې فارسیان مغوی هم په یوه خدای دایمان اظهار کوي،په هندوانو کې هم ځینې فرقې شته چې مغوی په توحید ایمان لري، که مونږ غور وکړو نو ګورو چې دتوحید په اړه داسلام نظریه په نسبت دنورو ادیانو لاړښوونو ته زیاته معقوله، اسانه، او ډېره ښه ده، دمثال په توګه :عیسایان څنګه چې ما اوس وویل په تثلیث عقیده لري، خو که دهر عیسایي څخه وپوښتي او ورته ووایي: چې ته په درې خدایانو ایمان لرې؟نو مغه سره به په جنګ واوړي، مغوی وایي مونږ یوخدای منو : پلار ، ځوی او روح القدس! دا دریواړه دیوه خدای مظهر دي! زه تفصیل ته نه زم، یواځې څو اشارې کوم چې دمغوی داوینا چې دتثلیث نه مراد توحید دی، دداخلي تضاد په وجه دمنلو وړ نده، په دې لړ کې یونیم کال وړاندې ماته دیوې عیسایي ټولنې لخوا داسلامي عقایدو په باب دلیکچر لپاره بلنه راکړل شوه،ملته زما دپیژندګلوی په ضمن کې یوه تن په ظاهره زما دپوهولو کوښښ کاو، چې عیسایان درې خدایان نه بلکې یومني؛ دمغه وروسته ما خپله وینا شروع کړه،او زمالپاره مغه ته ځواب ویل ضروري وه، نو ما ورته وویل: که واقعاً عیسایان یوخدای مني؛ نوپه سرستر ګو، خو عیسایان خپله په زیات ټینګار ادعاء لري چې خدای یودی؛ او بل پلومغوی چې دامنت بالله په ځای کوم کلمات وایي په مغو کې داسې څېزونه بیان شوي دي چې مغه ددې تاید نه کوي بلکې تردید یې کوي غالباً تاسو ته به علم وي چې څنګه مسلمانان په [آمنت بالله وملائکته وکتبه ورسله] کې په ټولو ایمانیاتو باندې دایمان لرلو اقرار کوي، په ورته تو ګه عیسایان هم یوڅه شیان یادوي او په مغو ایمان لازمي بولي چې مغه دا دي: زه په خدای ایمان راوړم، او دخدای په یو سرخوی عیسی(علیه السلام) ایمان راوړم ،چاته چې دفلاني پاچا په زمانه کې سخت تکلیف ورکړای شو ی او سولی شوی، بیا مغه جهنم ته لاړ، درې ورځې ملته و، دمغه وروسته اسمان ته لاړ، ملته دخدای ښې لاس ته کیناست او په راتلونکې زمانه کې به مغه بیا راځي، څو په زمکه کې دژوندیو او مړو حساب واخلي بیا دمغه وروسته ځینې نور داسې الفاظ دي: دغوښې او پوستکي سره یوځای به زمونږ حشر وي، ابدي ژوندبه مو په برخه وي، نو ما اشاره وکړه که دغه عقیده وي چې عیسی(علیه السلام) اسمان ته دختلو څخه وروسته دخدای په ښې لاس ناست دی! هیڅ شخص پخپل لاس نشي کینستلی! ددې معنی داده چې عیسی(علیه السلام) جلا دی او الله پاک جلا؛ مغه دخدای عزتمن میلمه کېدای شي چې دخدای په ښې لاس کیني خو پخپله خدای نشي کېدای؛ په دې توګه تاسو ګورئ چې دعیسایانو په اند دتوحید تصور ددې باوجود شته دی، خو دمغه په اړه چې کوم اظهار کوي مغه دمنلو او قبلولو وړندی بلکې پخپله خپل تردید کوي.

غرض داچې دتوحید په اړه دمسلمانانو تصور دومره اسان او دومره قوي دی چې په بل دین کې نه لیدل کېږي. همدا اوس ما دفارسیانو یادونه وکړه، زردشت هم دیوه خدای قایل و، خو ددې سر بیره مغه دثنویت یعنې د دوه خدایانو تصور درلود،

زردشت وايي: دبدی نسبت خدای ته نشي کېدای، نه يواځې داچې خدای پخپله بد کار نکوي، بلکې دبدو پيدا کونکی هم خدای نشي کېدای، دا دخدای دذات سره منافي ده، چې خدای پاک بد پيدا کړي، له دې وجې مغه وايي: دبدو پيدا کونکی جلا دی، او د ښو پيدا کونکی جلا ، په دې توګه مغه جلا خدای يا خالق دی، خو پوښتنه داده چې په دنيا کې زياتره وخت بدو ته غلبه په برخه شي، او نيکې شکست وخوري ګواکې دنيکی خدای مغلوب شي، ايا مونږ مغه خدای منلی شو؟ دعلمي لرليد له پلوه دغه ډول ستونزې چې ددغه ډول تصور اتو څخه پيدا کېږي مغه داسلامي توحيد په لارښوونو کې نشته، اسلام دتوحيد په عقيده ټينګار لري، چې دالله (ﷻ) پرته بل ميڅوک معبود نشته، يولورته کامله نفي ده، بل پلو داستثناء له لارې محدود کړی هم دی، چې يواځې يو الله دی؛ دا ټينګار په بل ميڅ دين کې نه ليدل کېږي، حتی ديهودانو په نزد صرف دومره ده چې خدای يو دی، خو دا کلک باور چې [لا اله الا الله] دالله نه پرته بل ميڅوک معبود نشته، دا مغه ځانګړتيا ده چې ديهودو په دين کې هم نشته.

ددې وروسته دوهمه عقيده دفرښتو په اړه ده چې مغه هم زياترو اديانو قبوله کړې مسلمانان، يهودان عيسايان او فرسيان ټول په دې ايمان لري، چې دوخت دکموالي په سبب ورباندې بحث نشو کولی

ددې وروسته دعقايدو درېيمه برخه کتابونه دي، يعنې زه دالله (ﷻ) په رالېږلو کتابونو ايمان راوړم! دا دومره اممه کلمه ده چې مثال يې مونږ ته په نورو اديانو کې په نظر نه راځي، ولې که دلته داويل کېدای چې [زه په يو کتاب ايمان راوړم!]يعنې په قرآن مجيد ؛ نويو اځې يو کتاب و، خو مونږ ته دابوونه شوې ده، چې په يو کتاب نه بلکې دخدای په ټولو نازل کړو کتابونو ايمان راوړل ضروري دی، په دې عقيده کې يولورته دنظر او زړه پراخې شته او بل لورته داسلام دنړيوالو التوب اود پيل څخه تر قيامته دپاته کېدو تصور هم شتون لري، ولې که مونږ په کتابونو ايمان لرو، نو ددې معنی داده چې دادم (ﷺ) نه نيولي تر محمد (ﷺ) پورې څومره کتابونه چې نازل شوي دي، مغه ټول دمختلفو خلکو ندي، بلکې زمونږ خپل کتابونه دي، مثلاً تورات ديهودو کتاب ندی، بلکې زمونږ کتاب هم دی؛ انجيل دعيسايانو کتاب ندی؛ بلکې زمونږ کتاب هم دی؛ دغه درس مونږ په نورو اديانو کې نه مومو، په عامه توګه دنورو اديانو منونکي وايي: چې نور ټول اديان غلط دي؛ مغه پرېږدئ، صرف زمونږ دين رښتيا دی،زه هم دمسلمان په توګه دا وايم چې زما دين رښتيا دی؛ خونور اديان هم دالله له لورې راغلی رښتيني دين دی، اګر که اوس په مغو پخوانو اديانو عمل نه کېږي اسلامي حکم دادی چې دخدای (ﷻ) له لورې ليږل شوي کتابونه دخدای احکام دي، او په دې وجه زمونږ لپاره داحترام وړ دي،خو ددې اصولو په بناء چې په وروستي کتاب عمل کوو، او دمغه نه په وړاندينو کتابونو عمل نه کوو،خو منويې ضرور او ورته احترام لرو، ددې کار رواني ګټه دادهم ده، که زه يو عيسايي يا يهودي ته ووايم چې ستا دين غلط دی! ستا نجات په دې کې دی چې ته اسلام ومنې! تاسره چې کوم کتابونه دي، مغه ټول لغوه او دسيزلو وړ دي، نو په دې سره به مغه ټکان وخوري، غالباً دومره به دقهر او غوسې نه مغلوب شي چې داسلام دحقانيت په باره کې زما يوې خبرې اوريدو ته به هم غوږ ونه باسي خو ددې برعکس که زه مغه ته دا ووايم چې ستا دين رښتينی دی، ستا سې کتاب هم الله پاک رالېږلی دی، مغه الله چې تاسې ته دا کتاب درکړی دی، مغه يو وروستی کتاب هم رالېږلی ، ته مغه ولوله! او پکې غور وکړه! مغه شايد په نسبت ستا وړاندينې وينا ته په خوښۍ سره دقرآن لوستو او پکې غور کولو ته تيار شي ممداسې الله(ﷻ) په ټولو رسولانو باندې دايمان راوړو حکم کړی دی، چې ددينه هم دنظر دوسعت، تحمل او زغم سبق ورکول کېږي، ما په مسند احمدبن حنبل کې يو حديث لوستی دی کوم چې په نورو کتابونو هم شته چې يوځل رسول الله (ﷺ) وفرمايل: چې دادم (ﷺ) نه واخله تر ارسول الله (ﷺ) پورې الله (ﷻ) يولک څلورويشت زره انبياء رالېږلي دي، په مغو کې ۳۱۵ رسولان، ګواکې ۳۱۵ صحيفې يې نازل کړيلي، پاتې نور يولک درويشت زره شپږسوه پنځه اتيا پيغمبرانو دخپلو وړاندينو انبياوو په کتابونو عمل کړی دی، ښکاره ده چې دټولو پيغمبرانو زمانې او ملکونه له يوبل سره توپير لري يعنې دغه پيغمبران دنړۍ په مختلفو مېوادونو او مختلفوختونو کې رالېږل شوي دي دمغوی ژبې ديوبل نه جلا او مختلفې وې وما ارسلنا من رسول الا بلسان قومه (قرآن ۴:۱۴)

دپیغمبر منصب او مقصدپه باره کې که په لنډ ډول څه عرض کړم ښه به وي، څکه چې په دې باره کې دمختلفو ادیانو تر منځو یو څه توپیر لیدل کېږي، دځینو عقیده داده چې الله دانسان په قالب کې حلول کوي دکوم سړي دننه چې الله حلول وکړي دمغه سړي هر قول او فعل دالله قول او فعل وي، دویم تصور دادی چې الله خپل کوم غوره بنده ته خپل پیغام لیږي داپیغام مغه ته دمختلفو لارو څخه رسي کله مخامخ دالله اواز ترمغه نبي ترغوږ ونو رسي لکه حضرت ادم (عليه السلام) او موسی (عليه السلام) په اړه راغلي چې الله (جل جلاله) دمغوی سره خبرې کړې کله داسې وې چې مغه پیغام یوه فرښته راوړي او انسان ته یې رسوي. دفرشتې لفظ فارسي مصدر دی فرستادن اسم مفعول دی یعنې لیږل شوې ددې نه مراد مغه نوري مخلوق دی کوم چې دالله پیغام تر انسان پورې رسوي. په مغو فرښتو کې دا خامې نشته چې دپیغام کوم جز ترې له یاده ووزي، یا په مغه باندې په پوهېدو کې ترې خطاء راشي. فرښتې چې دخدای کوم پیغام راوړي مغه ته مونږ اصطلاحاً وحي وایو، پوښتنه داده چې وحي څه شی ده؟ کوم خلک چې مسلمانان ندي او په اسلام اعتراضونه کوي مغوی په وحي هم نیوکې کوي وایي: دایوه ناروغې ده، دتېرې پېړۍ یو مشهور جرمنی مستشرق اشپرنګر دبرتانوي حکومت په مهال هند کې اوسیدلی و، مغه په طب کې زده کړې کړې وې، اوعربې یې هم زده وه، مغه په سیرة النبي (صلى الله عليه وسلم) باندې جرمني کې کتاب لیکلی دی، مغه دعربي ماخذونو څخه استفاده کړیده، خو دوحي په اړه مغه یوه ډېره خطاء او ناسمه رایه وړاندې کړېده دمغه په اند: وحي (معاذالله) یو ډول ناروغې ده، دوحي راتلو په اړه چې عربي کتابونو کې ځومره روایتونه او معلومات راغلي چې کله به وحي راتله درسول الله (صلى الله عليه وسلم) مخ مبارک به سور واوښت او رسول الله به په خولو کې ډوب شو، او دسکتې حالت به وربانډې راغی، اشپرنګر چې په الهي وحي باور نلري ویلي: دا دمیرګي ناروغي نښې دي، خو ښکاره ده چې دمغه دغه رایه میڅکه دیا نتدرانه او پرځای رایه نده، میڅکله سمي نده، او نه یې دوحي دکیفیت په اړه ټول معلومات رایوځای کړیدي، بلکې ځو ځېزونه یې چې را اخستي دي، او دمغو په اساس وایې چې داد میرګي ناروغي نښه ده، چې دعلم او تحقیق دمعیارونو په رڼا کې دا رایه میڅکله علمي او ددیانت رایه نده، مو! ما مغه رایوځای کړیدي په کومو کې چې دوحي دنزول په وخت کې دمختلفو صحابه وو څخه روایت شوي دي، مثلاً: یو صحابي وایي: مونږ لیدل چې فلانی ورځ ناڅاپه درسول الله (صلى الله عليه وسلم) حالت تغیر شو او دوحي نزول شروع شو، مم مغه وخت مغه کیفیت دځو دقیقو وروسته ختم شو، او رسول الله (صلى الله عليه وسلم) پخپل معتاد بشري حالت ته راغی، داسې نور... داسې احادیث چې ما رایوځای کړیدي په مغو کې یوه غیر معمولي خبره داده چې ورته اشپرنګر اشاره قلدرې مم نده کړې څه دا چې دمغې توجیه یا یې وربانډې داستدلال کوښښ کړی وای مغه دادی چې هر کله به وحي نازلېده نو مغه ټول صحابه چې مغوی یې مشاهده کړیده وایي: چې دغه مهال به رسول الله دومره درونډ وچې دمغه دبوږ ته کولو تحمل تقریباً ناشوني و، نو که رسول الله (صلى الله عليه وسلم) به په کومه اوښه سپور و، مغې درسول الله (صلى الله عليه وسلم) وزن نشو زغملی او مجبوره به شوه چې کینې؛ که نه به کیناسته دمغې پښې به نیغې شوې او لړزه به یې پیل کړه، ګواکې نیږدې به و چې ماتې شې په یوبل روایت کې دي: چې یوه ورځ رسول الله (صلى الله عليه وسلم) په مسجد کې ناست و، دخلکو ګڼه ګوڼه وه، حضرت زیدبن ثابت (رضي الله عنه) وایي: چې د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) زنګون زما په زنګون ایښی و، په دې خت کې په رسول الله (صلى الله عليه وسلم) دوحي نازلېدل پیل شول ما دومره بوج محسوس کړ چې ودار شوم چې ملوکی مې مات شول، که رسول الله (صلى الله عليه وسلم) نه وای نو ما به چیغې ویستې وې خپله پښه به مې لرې کړې وه ما ته تقریباً ناشوني وه چې درسول الله (صلى الله عليه وسلم) دزور لاندې تاب راوړای شم. څنګه چې ما وویل: ددې توجیه اشپرنګر په عبارت او وینا کې نشته ددې څخه علاوه نورو لیکوالو خیالات جنګولي لیکن مغوی په دې نکته چوپهخوله نیسي او ددې څخه دکومې نتیجې راویستو کوښښ نه کوي.

نوربیا

از ماه رحمت چگونه استقبال صورت میگیرد؟

محمد اکبر موحد

ما در استقبال ماهی هستیم که بدون شک رحمت خداوندی از هر جانب آنرا پوشانیده است , از رحمت بی پایان و بی حدو حصر خداوندی است که در طول سال هرگاه انسان به سویش رجوع مینماید شامل رحمت و مورد مغفرت خویش قرار میدهد و هیچ انسانی راکه با خلوص نیت به درگااش نیاز آورده نومید و مایوس باز نگردانیده است ,

خداوند(ج) با همه ای برکات فروانش در جریان ۱۲ ماه ، بازهم ماهی را مختص به ماه رحمت ، مغفرت و خلاصی از آتش جهنم قرار داده است که هر شب وروز و هر ساعت ودقیقه و هر لحظه آن آگنده با مهربانی ولبریز از بخشش حق تعالی است , ولی آن ذات مهربان بر این همه بسنده نکرده بلکه شبی راکه بهترو افضلتر از هزار ماه است نیز در همین ماه پر برکت جاه داده است در حالیکه هیچ لحظه و ساعتی در طول شب وروزی و یا در جریان سال ، قرن و هزاره ی سراغ نمیگردد که مختص به غضب و قهر خداوند باشد وخداوند در آن لحظه عذاب عمومی را به روی زمین بفرستد که مانند رحمتش عام و بدون مداخله اراده وخواست انسان باشد , و چنانچه پیامبر (ص) میفرماید : خداوند (ج) هنگامی که مخلوقات را آفرید ، با دست خویش نوشت (ان رحمتی غلبت غضبی) رحمت من بر خشم من چیره است , به اساس همین رحمت است که با وجود کردار های زشت و زیادی بدکاران در روی زمین باز هم برای اهل زمین مهلت داده و دروازه های رحمتش را باز نگه داشته است ,

خداوند (ج) این ماه را همچو لقمه آماده برای استفاده ما انسان ها مهیا نموده است فقط وظیفه ما است تا آن را گرفته و صرف نماییم اما سیاهی گناه و آفت که درنتیجه پذیرش دستورات شیطان دل ها را تباه و عقل ها را مکدر نموده است نمیگذارد تا چنانچه شاید وباید از این ماه استفاده نماییم , و با وجود آنکه خود را بیشتر مستحق رحمت خداوند ج میدانیم ولی در ساحه عمل به همان اندازه از نزدیک شدن به این رحمت فرار مینماییم , چنانچه استقبال از این ماه به اشکال مختلف صورت میگیرد ، استند بسیاری از جوانان ومردان کهنسال که فقط جهت گذشتاندن روز و فرار

رسیدن موقع خورد ونوش اوقات گرانبها وارزشمندشان رادر دهن دکان ها ، سر راها وسایر اجتماعات مبتذل و بیهوده سپری مینمایند ,کسانی نیز استند که نیمه روز را به گشت وگذار در شهرها وجاهای دیدنی گذشتانده و نیمه باقیمانده را در خواب غفلت به آخر میرسانند , به همین صورت ، جوانان و نوجوانانی دیده میشوند که به همرایی دوستان ورفیقان اجتماع نموده به اعمال چون :قطعه بازی وانواع مختلف قمار ، غیبت ، مزاح های فحش امیز پرداخته وبعضا با رفتن به سینما وتماشای فلم ها وسریال های غیر اخلاقی روزشان رابه آخر رسانده وبا شنیدن صدای اذان دیوانه وار به دسترخوان حمله برده و مراد انتظار خود را با بلعیدن و نوشیدن درمیابند ,

در حالیکه ما شاهد تدویر چندین دوره های تفسیر قرآن کریم درجریان ماه رمضان در نقاط مختلف کابل استیم که همه این افراد بیکار میتوانند درین محافل شرکت نموده هدایت ، رحمت و مغفرت را بدست بیاورند , این هم ممکن است تا با خواندن قرآن ، سیرت پیامبر(ص) ،کتب فقهی و سایر منابع دینی و یا الااقل با تکرار نمودن اذکار و دوام بر جماعت نمازهای پنجگانه و حفظ زبان ،چشم ،گوش و سایر جوارح از منکرات و منهیات این اوقات بیهوده و نابکار خود را باکسب بهترین پاداش به اوقات پربها تبدیل نمایند ,

نوع دیگر انسان ها به چشم میخورند که نسبتا خوب و با ادب جلوه میکنند وگاه وناگاه به ادای نفل و قرائت قرآن میپردازند اما در خوردن و نوشیدن به حد اسراف مینمایند که باقی مانده دسترخوان شان میتواند چند فامیل بیچاره و دربدر خیمه نشین و خرابه نشین را سیرنماید ،آنانیکه برای پیدا نمودن لقمه نانی به اطفال گرسنه خویش ، تهیه غذای افطاری و خوردن سحری شان را فراموش نموده اند و روز را جهت ادای فریضه خداوند (ج) و شب را برای زنده ماندن اطفال شان ،گرسنه و با حلق خشک پشت سر میگذرانند ,

از این فقراء ونادارن استند بلند همتانی که نمیخواهند دست گدایی را دراز نمایند اما چه بساکه به هر دراز پول داران مسلمان و هموطن ونزدیکان رجوع مینمایند ، اما هیچکس درین عصر که محور و مرکزیت داد وستد و اقتصاد را سود تشکیل میدهد ، حاضر نیستند بدون اخذ سود و موافق به دستور شرعی پول خود را در دست رس این محتاجین به طور قرض حسنه بگذارند , چه رسد به صدقه و خیرات که عوض مادی نیز ندارد , در حالیکه همین مردم پول دار در پر نمودن شکم به حد حریص اند که در شوق تهیه انواع خوردنی ها ولذایذ ، هدف اصلی ازگرفتن روزه را بکلی از یاد برده اند , ودرین مسابقه خورد و نوش نمیتوانند کیفیت و تحول روحانی که سبب درک حالت گرسنگان و همدردی با ناداران و بی سرپرستان میگردد دریابند ,

البته خوردن غذای حلال که در حد اسراف نباشد ممنوع نبوده ، اما هدف اصلی رمضان نیز خورد ونوش نمیباشد , زیرا هدف اصلی چنانچه خداوند (ج) در قرآن کریم بیان نموده هدایت یافتن و با تقوا شدن است و پیامبر(ص) آن را به ماه رحمت ، مغفرت و خلاصی از دوزخ تقسیم نموده است , و تمام این اهداف و توقعات با رجوع خالصانه به درگاه آن ذات رحمان و پرداختن به اعمال که درخورشأن این ماه است برآورده میگردد , و خدای نخواسته نگردد که مصداق این حدیث قرارگرفته و در زمره هلاک شدگان محسوب گردیم , چنانچه پیامبر (ص) فرموده اند : جبرئیل (ع) فرمودند (خداوند هلاک بسازد کسی راکه رمضان بگذرد و وی هنوز در گناه باشد ، و من آمین گفتم) ,

کفري نړۍ

د مسلمانانو جرئت چلنج کړی!!!

کفري نړۍ د مسلمانانو جرئت چلنج کړی او هر کال یې د ایمان فیصدي معلوموي. له آره او پخوا د مسلمانانو او غیر مسلم کسانو ترمنځ دیني او مذهبي کرکه او نفرت شتون درلود، لري یې او تر قیامت ورځې پورې به دوام کوي. خو نن سبا وخت ناوخت کفري نړۍ مسلمانانو ته حیلې او بهانې جوړوي او په بېلابېلو نوموونو او لاملونو یې زوروي او د مسلمانانو پر هېوادونو سیاسي، اقتصادي او نظامي او بالاخره عقیدوي یرغلونه کوي، چې ښکاره بېلګه یې زموږ ګران هېواد افغانستان، سوریه، عراق او داسې نور هېوادونه دي، چې تر کفري تسلط لاندې دي او دغه لړۍ به تر هغې دوام کوي، څو مسلمانان د دوی د دین او ملت پوره تابعدار شي او د دوی هر اړخیزه غوښتنې ومنې، خو په دې کې مسلمانانو ته ډېر لوی ایماني او وجداني خطر دی، چې هغه د دین بدلول په دنیا دي. کافران هر کال د مسلمانانو د ایمان او اسلام فیصدي کچه ازمائي او د مسلمانانو جرئت چلنجوي، هغه داسې، چې هر کال د اسلام او مسلمانانو پر ضد یوه نوې برنامه پلې کوي، لکه کله د قرآن کریم سپکاوی، کله د پیغمبر کاریکاتور رسمول او کله د مسلمانانو په مال، ځان او اولاد ظلم کول. لکه نن سبا چې برما کې کوم بد حال د مسلمانانو دی. عزتونه یې لوټ شول، مسجدونه او مدرسې یې ړنګې شوې، ژوندي جسدونه یې تر خاورو لاندې او وسوځول شول، واړه ماشومان یې د دوی په مخکې اور ته واچول شول، په تېرو وویشتل شول، ګوتې یې په تبرونو پرې شوې او داسې نور ظلمونه. خوله بده مرغه کم شمېر مسلمانانو د همدردۍ اواز پورته کړ او د ایمان او اسلام فوت یې کفري نړۍ ته وښود، چې باید له دغه ظلم څخه لاس په سر شي، چې هغه هم د ښځو په نوم مسلمانانو له لورې رټل کېدل، چې د غفلت په خوب ویده او چوپه خوله لاس تر زنې ناست دي د خپلو مسلمانانو د بدبختیو ننداره کوي او وایې

زموږ غمونه کم دي، چې اوس وار د برما شو، خپل غمونه چاته یوسو او د زړه غوټې چاته وسپړو! دوی هم د نړیوالو رسنیو په څېر د بودیانو او غیر مسلم کسانو په جرمونو ځادر هواروي، د کفري نړۍ په پیسو مست بشري حقوق پالونکي چپ دي، مذبذبه مدني فعالان لادرکه دي، ملګري ملتونه او نور بشري سازمانونه غبرګون نه ښیې. خو آی مسلمانانو! نن ستاسې د ایمان او اسلام د ازمایښت شېبې دي، اسلام سرحد او پوله نه لري او پورته شئ د خپلو مسلمانانو ورونو او خویندو د عزت او حیا شمله او پړونی مه پرېږدئ، چې د خاورو سره خاورې شي او دا بې عزته قوم پرې لوبې وکړي. لږ فکر وکړئ، چې ولې د مسلمانانو حالت ورځ تر بلې مخ پر خرابېدو دی؟ لامل یې څه دی؟ لږ فکر وکړئ، چې یو مسلمان پر بل مسلمان څه حق لري؟ د مسلمانانو د اتحاد او اتفاق لارې چارې لټول او هڅې کول د چا دنده ده، حکومت، رعیت، امي، عالم او که د ټول مسلمه امت؟ څوک د اسلام ټیکه داران دي او څوک پر اسلام او مسلمانانو سر ورکوي؟ په برما او ټوله اسلامي نړۍ کې وحشت او ظلم د چا له لورې کېږي او څوک یې ترشاه لاس لري؟ د دغه وحشت او ظلم مخنیوی څنګه امکان لري؟ که موږ مسلمانان په خپلو خویندو او ورونو غیرت ونه کړو، نو څوک به یې کوي؟ کله مو هم د

اسلام او مسلمانانو په اړه فکر کړی؟ که ټول عمر د خپټې غم دی او موږ او تاسې یو؟ که دغه ټولې پوښتنې خپلې مخې نه کېږدئ، شاید په خواب موندلویې برلاسې شئ!. زما په نظر د دغه ټولو مصیبتونو، غمونو او اندېښنو ختمولو لپاره په واقعي توګه په اسلام عمل کول دي او قرآن خپله تګلاره او ستراتېژي جوړول دي، نه د غربي ډیموکراسی. د نړی د هر ګوټ مسلمان ته د خپل ورور او خور په سترګه کتل، د هغوی غم او ښادي خپل غم او ښادي ګڼل، د معنوي پولو او سرحدونو ورانول، ځکه په اسلام کې سرحد نشته، نو د نړی د ټولو مسلمانانو ځخه به یو قوي او غښتلی قوت داسې جوړ شي، چې:

۱ – یو شمېر اسلامي هېوادونه شتمن دي، لکه سعودي عربستان او ټول متحد عرب امارات، شتمني دې د دوی وي.

۲ – یو تعداد اسلامي هېوادونه اټمي قدرت لري او پرمختللې عصري وسلې لري، لکه پاکستان او ایران، وسلې دې د دوی وي.

۳ – یو شمېر اسلامي هېوادونه غوره نظم او دسپلین او عسکري نظام لري، لکه ترکیه، نظم او عسکري سیستم دې د دوی وي.

۴ – او افغانستان په ځېر هېواد بیا که وسلې، شتمني او عسکري سیستم نه لري، خو پیاوړي، زړور او با شهامته خوانان او جنګیالي لري، جنګیالي دې د افغانستان وي.

په دې کې نور اسلامي هېوادونه هم کولای شي بېلابېلې برخې واخلي لکه عسکري برخه، اقتصادي برخه، صحي برخه او یا د وسلو له پلوه، نو هغه دی، چې د نړی په کچه به یوه پیاوړې قوه جوړه شي او هېڅوک به بیا د مسلمانانو او اسلام د تخریب او اذیت لپاره هڅه ونه کړي او حتی فکرونه به له سره وباسي، ځکه مسلمانان به دا مهال تر بل هر چا زړور وي.

دظلم سیلی

شاعر: اسدالله رزین

۱ -دادکوم ظلم سیلی ده دادکوم وحشت غوراده
دادچا په کلي ګډه دا له کوم لوري درباده

۲ -لاېې نه ده زړه سوړ سوی چې غرمبېږي
راوتلې دبربرله کوره بیا کومه بلا ده

۳ -بس کېده نه لری سترګې یې چپه دي
په هر لوري کې ماتم وېرده ژړاده

۴ -دلته نه ده په هر لور غم غوړېدلی
په انسان راګرزېدلي خوریداده

۵ -داچې ولې او په څه ګناه یې وژني
دصلیب زړه کینه دیهودانو په سلاده

۶ -ددهشت ډول تری ورک ده چې څه وکړي
رااېستلی د هر څه کړلو فتوی ده

۷ -استنادیې د ترورپه کارنامو ده
لیکل سوې په سرورونو کربلاده

۸ -دا بیادوی خوري دا انجام د هر جنون ده
د تاریخ دا فیصله بیخي رښتیا ده

۹ -له نمرود ه رارهې سه ځوچې تلای سي
دغوماسې نیش کې زورداژده هاده

۱۰ -لیږ فرعون او ابوجهل در په یاد کړه
دا انجام د هر جابرد ناروا ده

۱۱ -چې دعقل لاس ورو تړی نشه سې
انسانیت سره بدی ده او جفاده

(۱۲) -رزین) نه وایې رښتیا دغسې وایې
دظلمونو داستان لنډ ذلیل رسواده

رزین

سلام واهمیت آن ازدیدگاه اسلام

محمد عثمان (علمی)

قرآنکریم میفرماید: (واذا حییتم بتحیته فحیوا باحسن منها اوردوها – ان الله کان علی کل شیء حسیبا) (ایه ۸٦ سوره نساء) معنی لفظ تحیه به کسی (حیاک الله) گفتن است، یعنی الله تورا زنده نگهدارد. پیش ازاسلام عادت عرب چنان بود که وقتی یکدیگررا ملاقات میکردند به همدیگربوسیله الفاظ (حیاک الله) یا (انعم الله بک عینا) یا انعم الله صباحا وغیره سلام میدادند. اسلام این طرزتحیه راتغییرداده طریقه گفتن (اسلام علیکم) راجاری ورایج کرد که معنی اش اینست که: شما ازهرنوع رنج وتکلیف ومصیبت، سالم باشید.

ابن عربی در (احکام القران) گفته است که لفظ (سلام) ازاسماء الحسنی است ومعنی (اسلام علیکم) اینست که: (الله رقیب علیکم) یعنی الله تعالی محافظ شما باد.

فرق میان سلام اسلامی وسایرملل دیگر:

درهمه کشورها رایج است که وقتی مردم با یکدیگر ملاقات میکنند کلمه ای برای موافقت واظهارمحبت فیمابین اظهارمیدارند، اما اگرآن کلمات با (اسلام علیکم) مقایسه شود، معلوم میگردد، که آنقدرسلام اسلامی ازجامعیت برخورداراست که احوالپرسی های دیگرنیست. زیرا که الفاظ سلام تنها اظهارمحبت نیست بلکه ادای حق محبت نیزهست. ازخداوند چنین میخواهند که شما راازتمام افات وآلام نگهدارد. این کلمه درعین حال یک عبادت هم هست ووسیله ای برای تذکربرادرمسلمان به یادخدانیزهست. وهمچنین کسی که ازخداوند (ج) میخواهد که دیگری ازتمام آفات وتکالیف حفظ شود گویا که اودرضمن این وعده میکند که: شما ازدست وزبان من درامان هستید ومن محافظ جان، مال وآبروی شما نیزهستم.

خلاصه اینکه تحیه اسلامی جامعیت جهانی دارد:

درآن ذکرخداوند (ج) هم هست.

تذکرهم هست.

نوعی اظهارمحبت بابرادرمسلمان هم میباشد.

برای اوبهترین دعاست.

وبا اواین معاهده رانیزاظهارمیدارد که ازدست وزبان من بتوهیچ آزارورنجی نخواهد رسید. (المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده) یعنی مسلمان کسی است که ازدست وزبان اوهمه مسلمانان محفوظ باشند. وبکسی گزندی نرسد.

ازهمین رورسول گرامی اسلام (ص) برای ترویج سلام بین مسلمانان بسیارتاکید فرموده وآنرا افضل الاعمال قرارداده وفضایل وبرکات واجروثواب آنرا بیان فرموده است درصحیح مسلم ازحضرت ابوهریره رض حدیثی است که رسول کریم ص فرمود: (شما تاوقتی مومن نباشید نمیتوانید درجنت داخل شوید،

وتاوقتی که باهم محبت نداشته باشید نمی تواند ایمان شما کامل باشد، من شمارا چنین چیزی نشان میدهم که اگر شما برآن عمل نماید محبت درمیان شما برقرارمیشود، آن اینکه درمیان یکدیگرسلام را رواج دهید یعنی برای هر مسلمان چه اورا بشناسید یانشناسید)

حضرت ابن عباس رض میفرماید: که شخصی ازرسول خدا (ص) پرسید که دراعمال اسلام کدام یک افضل است؟ رسول الله (ص) فرمود: شما به مردم خوراک بدهید وسلام راعام بگردانید چه شما اورا بشناسید ویانشناسید. صحیحین، اما احمد ترمذی وابوداود ازحضرت ابو امامه رض نقل کرده اند که رسول صلی الله علیه وسلم فرمود: ازهمه نزدیکتربه خدای تعالی آن کسی است که درسلام گفتن پیش دستی کند.

درمسند بزاز ومعجم کبیرطبرانی حدیثی ازحضرت عبد الله ابن مسعود آمده است که رسول الله (ص) فرمود: که سلام ازاسماء الحسنی الله تعالی است که خداآنرابرزمین ارسال فرموده است بنابراین شما درمیان یکدیگرسلام راعام گردانید زیرا هرگاه مسلمان وارد مجلسی میشود وبرآنان سلام میگوید آن شخص نزد خداوند تعالی بمقام بلندی دست میابد زیرا که اومقام سلام یعنی یاد الله ج تذکرداد واگراهل مجلس بسلام اوجواب نگفتند پس کسانی به اوجواب خواهند داد که ازاهل مجلس بهتراند یعنی فرشتگان خدا ج.

درحدیث دیگری رسولخدا (ص) فرموده است که: بزرگترین بخیل کسی است که درسلام دادن بخیلی کند. (طبرانی معجم کبیربه نقل ازابوهریره رض) حضرت عبدالله ابن عمربه این نیت به بازارمیرفت تابا مسلمانان ملاقات کند وبه آنان سلام گفته وثواب عبادت را دریابد.

تشریح بهترسلام وجواب آنرا رسول گرامی اسلام درحدیثی چنین بیان فرموده است، باری شخصی بخدمت ایشان آمده وگفت: (اسلام علیک یارسول الله) آن حضرت ص درجوابش یک کلمه رااضافه کرده وفرمود: (وعلیکم السلام ورحمت الله) وبازدیگری آمد واودرسلام خود گفت: (اسلام علیک یا رسول الله ورحمت الله) آن حضرت ص درجوابش یک کلمه اضافه کرده وفرمود: (وعلیکم السلام ورحمت الله وبرکاته) سپس دیگری آمده وگفت: (السلام علیک یا رسول الله ورحمته الله وبرکاته) آن حضرت (ص) فقط درجواب اویک کلمه (وعلیک) فرمود دردل اوشکوه آمدهوعرض کرد یا رسول الله مادروپدرم فدایت شوند! آنان که قبلا آمدند شما درجواب شان چند دعا فرمودیدمن بتمام آن الفاظ سلام عرض کردم شما تنهابر(وعلیک) اکتفاکردید آن حضرت (ص) فرمود که توبرای من هیچ کلمه ای نگذاشتی تا که من آنرا درجواب تواضافه کنم توتمام کلمات را درسلام خود جمع کردی بنابرین من درجواب تومطابق تعلیم قرانی اکتفاکردم. (ابن جریروابن ابی حاتم)

خلاصه مضمون آیت این است که هرگاه به مسلمانی سلام گفته شود جواب دادن براو واجب است اگربدون عذرشرعی جواب نداد گناهگارمی شود. البته درجواب دادن به دوچیز مختاراست، یکی انیکه به الفاظ بهترجواب گوید دوم اینکه به عین الفاظ جواب گوید.

درمسند احمد وترمذی وابوداود ازرسول خدا ص منقول است که ازهمه مقربتربه نزد خدا کسی است که درگفتن سلام پیش دستی کند. سلام نخستین نزد اکثرعلما سنت موکده است. وحسن بصری رض گفته است که (السلام تطوع والرد فریضه) یعنی درسلام گفتن ابتدا مختاراست اما جواب دادن آن فرض است.

درحدیث صحیح امده است که کسی که برسواری است باید پیاده راسلام گوید، وراه رونده برنشسته سلام گوید، گروه قلیلی که برگروه کثیری میبگذرد باید به سلام ابتدا کنند. درحدیث ترمذی آمده است که هرگاه انسان وارد خانه میشود باید به اهل خانه سلام گوید، که ازاین سلام هم برای اوبرکت است وهم برای اهل خانه. درحدیثی ازابوداود آمده است که اگربا مسلمانی باربار ملاقات شوددرهرمرتبه باید سلام کند وهما طورکه دراول ملاقات سلام گفتن مسنون است هم چنین به وقت رخصت هم سلام گفتن مسنون وباعث ثواب است. حالات ذیل درسلام مستثنی است:

کسی که نمازمیخواند جواب دادنش واجب نیست بلکه مفسد نمازاست.

کسی که خطبه میخواند یابه تلاوت قرآن مشغول است.

یاآذان واقامه میگوید یابه تدریس کتب دینی مشغول است.

یادررفع ضروریات انسانی ازقبیل رفع حاجت واستنجاء وغیره مشغول است براوسلام گفتن جایزنیست. ونیزبراوجواب سلام واجب نیست.

د ترکیې راتلونکې حکومت

ننګونې او احتمالات

محمد شفیق صادق

د ترکیې په هېواد کې د عدالت او ترقۍ د ګوند چارواکو ته درلوده چې د تېرې ورځې د ټولټاکنو په پایله کې به ترکیې ته د نړۍ په سیاسي انډول کې نوی مقام ورکړي او به توانېږي په راتلونکو سیاسي کشمکشونو کې خپل ټاکلی ځای او خپله خبره ولري خو بهرنیو او کورنیو مخالفینو چې د ترکیې د پخواني برم د اعادې څخه په ویره کې وو د بهرنۍ لویې میډیا او خواکمنو قدرتونو په مرسته د عدالت د ګوند دا لوی آرمان چې د اسلامي نړۍ د یو میلیارد مسلمانانو برخلیک او آرمان ورسره تړلی تریوې مودې شاتګ ته مجبور کړ او د ښاغلي اردوغان سیاستونه یې د دکتاتورۍ د تر لاسه کولو په تور ونګول. دا چې په راتلونکي کې به د عدالت او ترقۍ ګوند څه ډول وتوانېږي د ترکیې د خلکو باور بېرته تر لاسه کړي، دا به د عدالت د ګوند راتلونکي رهبري ثابته کړي، خو په اوس کې د ټولټاکنو په نتیجه کې د ترکیې د راتلونکي حکومت برخلیک له لاندې پوښتنو او احتمالاتو سره مخ دی:

د ترکیې د ټاکنو وروستۍ نتیجې دا په ډاګه کړه چې هلته یو ګوند هم په یوازې سر د حکومت جوړولو توان نه لري نو په دې صورت کې د لاندې احتمالاتو امکان شته:

۱- د عدالت او ترقۍ ګوند به د اقلیت په بنسټ داسې حکومت جوړ کړي چې تل به د نورو ګوندونو تر فشار لاندې او د پرېکړو په مهال به د هغو مرستې ته اړ وي، په نتیجه کې به حکومت ددې توان نه لري چې خپل پرمختیایي پلانونه پلي کړي او په کمزوري حالت کې به خپل واک ته دوام ورکوي.

۲- . په دوهم احتمال سره، د ترکیې عدالت ګوند به د یوه ائتلافي حکومت په جوړولو مجبور شي، په دې صورت کې باید له دوه ګوندونو څخه یو انتخاب کړي، لومړی د خلکو دیموکراتیک ګوند دی، چې تر ډېره د کردانو سره د تفاهم او مصالحې په هکله د عدالت او ترقۍ له ګوند سره متفاهم پاتې شوي، خو دا ګوند بیا د عدالت د ګوند د بهرني سیاست سره جوړ نه راځي نو د ائتلاف شونتیا یې کمه ده، دوهم ګوند نشنلست قومي ګوند دی چې په ترکیې قومي مسایلو کې له عدالت سره نژدیوالی لري، خو دا ګوند بیا د عدالت د ګوند سره د کردانو په هکله د مصالحې د پالیسۍ سره په مخالفت کې دی اونه غواړي په راتلونکو ټولټاکنو کې د کردانو د نشنلستو مخالفینو رایه له لاسه ورکړي.

۳- دریم احتمال دادی چې د واکمن عدالت ګوند مخالف ګوندونه په یوه ائتلاف کې سره راټول شي او خپله دوی د اکثریت په اساس حکومت جوړ کړي، چې دا کار ددې ګوندونو تر منځ د سیاستونو د لوی واټن له امله ناشونی بریښي خو کیدی شي چې ځینې بهرني (قوي لاسونه او کړی) دا ګوندونه یوه ائتلاف ته سره مجبور کړي تر څو په اوس کې خود عدالت ګوند د بیا واک ته رسېدو مخه ونیسي خو بیا به هم د عدالت ګوند په پارلمان کې د نږدې نیمو څوکیو په لرلو او د ښاغلي اردوغان په ریاست سره خپله خبره لري، او څوک به یې په مخ کې خند نشي جوړیدی.

۴- څلورم احتمال دادی چې د عدالت او ترقۍ ګوند به په لېر تاوان سره فاینل ته راووزي او کیدای شي ځینې له لاسه ورکړې چوکۍ

بیرته ترلاسه کړي، هغه دا چې دعدالت ګوند دحکومت له جوړولو ډډه وکړي ، اونورهم پرې نږدي چې حکومت جوړ کړي، ټول ګوندونه په دې مجبور کړي چې له سره نوې ټاکنې ترسره کړي، نو په دې سره به لاندې لاسته راوړنې ولري؛

الف: ددې ګوند د لاسه ورکړو څوکیو لامل دا و چې د ګوند څخه خپنې مرورو خلکو د سیاسي مخالفتونو او سزا ورکولو له لامله رایه ورنه کړه خو دوی په دې نه پوهېدل چې ددوی رایه نه ورکول به ګوند داسې شاتګ سره مخ کړي نو کیدای شي په دوهم پړاو کې دا مرور خلک د ګوند په طرفداری رایه ورکړي او له لاسه وتلې څوکی بېرته تر لاسه کړي.

ب: دې ټاکنو د ترکیې د عامو خلکو په ذهنونو کې د یوه مجهول راتلونکي حالت ترسیم کړی چې ډیری ترکان دا حالت نه خوښوي او دعدالت او ترقی د ګوند د بریا څخه مخکې کلونه وریه یادوي چې ترکیه یې د یوه بې ثباته او بحراني حالت سره مخ کړې وه، نو دا خلک د ترکیې د نجات په موخه (که د عدالت د ګوند سره سیاسي او ګوندي مخالفت هم لري) بیا د عدالت ګوند ته رایه ورکوي.

ج: خپنې پانګه وال او کاروباري خلک چې د ترکیې د اقتصادي ناورینونو څخه ویره لري او د عدالت د ګوند په حکومت کې یې ښې اقتصادي لاسته راوړنې درلودې هڅه به وکړي چې د پخوا په شان د خپل کاروبار د دوام په موخه د عدالت ګوند ته رایه ورکړي.

د: هغه خلکو چې کوچنیو اسلام پاله او متدینو ډلو ته یې رایه ورکړې په طبعې ډول خپلې رایې د عدالت په ګټه استعمالوي ځکه دوی پوهیږي چې ددوی د نه ګډون اویا د رایو د وېش په پایله کې د عدالت ګوند له شاتګ سره مخ شو.

نو کیدای شي د ترکیې د سیاست په دې حساس پړاو کې چې د اسلامي نړی او لویدیځ پالو ترمنځ د توازن کرښه جوړوي په راتلونکو ورځو کې نور پرمختګونه او احتمالات هم راڅرګند شي، ځکه دې هیواد ته د نړي ټول لوی قدرتونه او حرکتونه د اندول د ساتلو او اوښتون په موخه د انتظار شیبې شمیري ، او په بې صبری یې سیاسي حالات څاري

غزل – محمدي

پـــردوزمـــونږه کـــورکلـــي تـــه جنـــګ راوړی دی
نـــن بیـــاځکـــه حـــالاتونـــوی رنـــګ راوړی دی

زمـــاپـــه کلتـــورلـــوبې دي خنـــدا ده اعتـــراض ده
هرچـــا دخپلـــې خوښـــې خپـــل فرهنـــګ راوړی دی

زمـــونږه زلمکیـــو چـــه اخســـتې دننـــګ تـــوره
مغـــرورو تـــه یـــې تـــل دخطـــرزنـــګ راوړی دی

دښـــمن چـــې خزانـــې درښـــکاروي چـــې خطانشـــي
خاښـــاریږي هم لـــه ځـــان ســـره ترخنـــګ راوړی دی

دوخـــت تقاضـــا داده چـــې راووزي لـــه خپـــل تیکـــي
ښـــکاریږي دبابـــا تـــوري مـــوزلـــګ راوړی دی

شـــاباش شـــه محمـــدی ســـتا پـــه ملګـــرو دي شـــاباش وي
ســـرغـــوځ کـــورتـــه راوړي دســـتاریـــې دنـــګ راوړی دی

معضله خونین برما وبی چارگی

"سازمان همکاری اسلامی"

نویسنده: حبیبی سمنگانی

"سازمان همکاری اسلامی" در سنه ء نوزده صد و شصت ونه میلادی یعنی چهل و شش سال قبل از امروز به صفت بزرگ ترین نمائنده ء کشور های اسلامی بنیان گذاری شد، این سازمان با داشتن پنجاه و هفت عضو در چهر قاره ء جهان دومین بزرگ ترین سازمان بین المللی در جهان پنداشته می شود، این سازمان که در واکنش به حمله ء یهودیان بر مسجد بیت المقدس تاسیس شد ادعا دارد که برای دفاع از یک و نیم ملیارد مسلمانان جهان می کوشد، دفتر مرکزی این سازمان در شهر ساحلی "جده" در عربستان سعودی قرار دارد.

نام این سازمان در زبان انگلیسی "آرگنائزیشن آف اسلامک کوآپریشن" است که مخفف آن در الفبای انگلیسی "او آی سی" میگردد، عجیب یک اتفاق است که "او آی سی" یک جمله ء مستقل در زبان انگلیسی نیز است که به معنای "اوه، من می بینم" می باشد، و این جمله در هنگام یک حادثه از روی تعجب گفته می شود ویا هم در دوران خشم از روی تهدید استعمال می گردد، چنانکه در زبان دری نیز در حالت غضب گفته می شود "من ترا خواهد دیدم"، امروز بدون شک "او آی سی" یعنی مخفف "سازمان همکاری اسلامی" نیز جز همان دو معنای جمله ء انگلیسی دیگر مفهومی ندارد

حاصل اینکه اگر امروز واژه ء "او آی سی" را به زبان آورده شود هیچ کسی معنای "سازمان همکاری اسلامی" را اخذ نمی کند بلکه لازم این معنی را که صرف تعجب کردن و نگریستن است درک می کند، زیرا از روز نخست تا اکنون این سازمان جز "تعجب کردن و نگریستن" هیچ گامی در صحنه ء عمل نبرداشته است.

مثلا در طی پانزده سال گذشته یعنی از آغاز قرن بست و یک میلادی تا این ساعت چه روزهای تلخی نبوده است که در کشورهای مسلمان نشین نگذشته باشد، از فلسطین، افغانستان، عراق، شام، سودان، لیبیا تا یمن تحولات خونین و سنگین رخ داد که باعث قتل و معلول وآواره شدن ملیون ها مسلمان شد و ولیکن این سازمان درین مدت روح فرسا ساکت بماند، بیش از صد ملیون مسلمان در کشورهای غیر اسلامی همچون چین، روسیه و هند و کشورهای اروپای و امریکای بی جا تعزیر شدند و از انجام دهی فرامین بنیادی دین اسلام منع کرده شدند و این سازمان همچنان سکوت بر لب بماند، امروز صد ها هزار مسلمانان روهنگیای در برما نه صرف اینکه حق شهروندی محروم میگردند بلکه با اجبار از کشور رانده می شوند وآن ها برای سر پناه آشیانه ئ ندارند، حتی اگر به امید کشور مسلمان نشین بنگلا دیش ویا اندونیزیا در بحر سفر می کنند رژیم های مستبد این دو کشور نمی گذارند این آوارگان بی خاک و وطن از کشتی های کوچک و پر خطر فرودآمده در سواحل بنگلا دیش و اندونیزیا سکونت بکنند، لهذا نا گزیر اند هر نوع شکنجه ء وحشیانه ء بودای ها را متقبل شده تا آخرین رمق حیات درمیان شعله

های آتش بسوزند ولیکن این بار نیز " سازمان همکاری اسلامی " جز نگریستن دیگر کاری انجام نداد. سازمان فوق الذکر معمولاً هر سه سال بعد نشست سربراهان کشورهای مسلمان نشین را دائر میکند و می تواند قبل از سه سال نیز نشست اضطراری برپا بکند، چنانکه در سالهای " نوزده صد و نود و هفت میلادی "، " دو هزار سه میلادی " و " دو هزار و پنج میلادی " سه نشست اضطراری بر گزار نمود، آیا این سازمان نمی تواند برای حل یابی معضله ء مسلمانان روهنگیای یک تجمع اضطراری تشکیل بدهد؟ ولیکن سوال اینست آیا آخرین نشست اضطراری که ده سال قبل درباره ء حل بحران فلسطین و عراق صورت گرفته بود مثمر و منتج واقع شد؟ هرگز نه .... پس چگونه توقع داشته باشیم که اگر (فرضاً) یک نشست سربراهان صورت پذیر گردد در زندگانی مسلمانان برما یک تحول مثبت و حیات بخش خواهد آورد، به همگان عیان است به دلیل بی اعتمادی و نا باوری بزرگ که درمیان اعضاء این سازمان وجود دارد هرگز به یک اتفاق نمی رسند، بلی اتفاق که درد های مسلمانان روهنگیای را مداوای شافی بکند.

بدون تردد، چنانکه دولت مردان رژیم کشورهای مسلمان نشین از سرمایه ء دین پروری و مسلمان دوستی حروم اند همچنان زمام داران این سازمان نیز از درد های بیکران مسلمانان جهان نابلد اند، بلکه واشگاف باید گفت این سازمان جز چند ساختمان مجلل، چند دانشگاه، یک اندازه پول خیراتی و صد ها دیپلمات آسوده خاطر دیگر چه در اختیار دارد؟ بلی، این اختیار را نیز دارد که کشوری را به عضویت سازمان سرفراز بکند و عضویت کشوری دیگری را معطل بکند، ولیکن در برابر کشور " برما " که نه خواهان شمولیت در این سازمان است و نه هم هراس از معطل شدن دارد این " سازمان بی چاره " چه کرده می تواند؟

خوږ آهنګ - الهام

سید احسان الله الهام

د شهید په وینو رنګ یې شهادته
چې خوشبویه تر لونګ یې شهادته

دا چې دغسې په زړونو نه سوزې
مست غزل یې خوږ آهنګ یې شهادته

تاکي نغښتي دی رحمت د رب رضا یې
ته غیرت، میړانه، ننګ یې شهادته

تخت و تاج شاه او ګدا دي په ارمان دي
د بریا د شپېلۍ ژنګ یې شهادته

د هستیو ستر مقام یې رب ښودلی
آن تر عرشه رسې دنګ یې شهادته

ته نیک بخت پسې نیک بخت په تاپسې دی
هم دیوه یې هم پتنګ یې شهادته

تر هغو به وي میلمه د بدبختیو
څو الهام څخه په څنګ یې شهادته

د يمن بشري ناورين...

حسن زوی

داسلامي نړۍ مشهوراوتاريخي اوپه جغرافيايي لحاظ دنړۍ لپاره خورامهم مسلمان هېواد يمن چې دمودو راهيسې دداخلي ګډوډيواوبهرنيو لاسوهنوښکاردی ؛پاک ،ديندار، صالح ، دولس خيرخواه ، په وطن مين اودوطنوالودخدمت احساس لرونکی قيادت ورته تراوسه ندی په برخه شوی نو سره له دې چې داهېواد په منځني ختيځ کې پروت دی خودمنځني ختيځ دنوروهېوادونوپه څېرداسی هېواد ندی بلکې دنړۍ په داسې غريبو او وروسته پاتې هېوادونوکې شمېردی چې دولت يې دبل چاله مرستو پرته نه شي چلېدای .

دهېوادپه جنوبي اوشرقي برخوکې دطبعي منابعو غني زېرمې شته خونه تري تراوسه ور استفاده شوېده اونه تری هم ولس ته کومه ګټه رسېدلې ده .

اوداچې داهېواد داوبودزيات قلت سره مخامخ دی نودهېواد مالداري اوکرهنه هم دزوال ښکارده اوتر ۲۵ ميليونه نفوس لرونکی داهېواد دخپلې اړتياپوره کولولپاره ۹۰سلنه غنم له بهرنه راواردوي . نوپولورته ددې هېواد اوسېدونکې په اقتصادي لحاظ ښه کمزوري دي اوبل لورته پدې هېوادکې دخوراکي توکوقيمتونه ښه لوړدي ؛ داروښانه خبره ده چې په يوهېوادکې چې دخلکوداخستلو قوت کمزوری وي اونرخونه لوړ وي نوپه هغه هېوادکې ژوند تېرول ګران وي اوبياچې پرې جنګ هم مسلط شي.

لـه بـده مرغـه چې ديمـن اوسېدونکي اوس پـه همداسې حالـت کې قرارلري .

پـه يمـن کې چې دتېرکال پـانې ۲۰۱۴م داګسـت مياشـت کې حـوثي باغيـانوديمن پـرواک دقبضـې راوستلولپاره تحريـک پيـل اوبـالآخره دصـنعاء پرواک په بشپړې قبضې راوستلوکې کامياب اوديمن دولت رنګ شو نوپدې هېوادکې بېکاري مخ په زياتېدوشوه اودغنمواونوروخوراکي توکيو راواردول چې بند شول نودلته دخوراکي توکيوسخت قلت رامنځته شو خوبياچې پر يمن دروان مـيلادي کـال دمـارچ پـه ۲۶مې نېټې دسـعودي پـه مشرۍ کې دعربـو داتحادهوايي بريدونه پيل شول اوتر دوه مياشتوپې دوام وکړنو داوسېدلوکڼې سـيمې پـه کنډوالوبـدلې شـوې ؛ ديوشمېرسړکوسـيمواو ولايتونـو نـه خلـک دخپلوکورونوپرېښودلوته اړشول ؛دزياتو سيمو دآبياری اوآب رسانی نظام له منځـه ولاړ؛ څـاروي يکـې دولـړې اوتنـدې لـه املـه هـلاک اوددول دول مرضونوښکارشـول اودغنمـو ،دواګانواونورو خـوراکي توکيـو نرخونـه دومـره لوړشول چې اوس دغريبويمنيانوداخستلونه وتي دي ؛پرهېواد قحط ته ورته فضاراخپره ده اوديوستر بشري ناورين د رامنځته کېدوخطرمخ په زياتېدو دی.

دملګروملتونـودکرهنې اوخـوراک اداري دروم څـانګې مشـردهېوادپه دېروسـيموکې داوبواوخـوراکي مـوادو دقلـت ا... خطرناکه نقشه وړاندی کړېده ؛ هغه وايي يمن دخپل ۲۵ ميليونه نفوس لپـاره غـنم دبهرنـه راواردول چې دجنګ لـه املـه اوس دغنمـو راواردېـدل ودرېدلي دي ؛داوبوزخيري اودآب رسانی اوآبياری نظام له منځه تللی دی چې لـه املـه يې څـاروي دسختومرضونوښکاردي اوپـه لـوړه کچـه مـړه کېـږي ؛دتېيانولپاره ددوادنشتوالي له امله هم سخت تشويش شتون لري .

هغـه زياتـه کـړې چې لـه بمبـاريو دمتضرروتناتوااصل تعداد خونـدی معلوم خوسعودي دسعاده ولايت ټولواوسېدونکوته دسيمې نه دوتلوحکم کړيدی اوداولايت يې چې دبمبارستر هـدف ګرځـولی نورښتيا يې هـم ددې ځای تـول اوسـېدونکي دخپلـو ځايونوپرېښـودلو تـه اړکړيـدي ؛ داوړلوی مهاجرت دی اودهغو خلکو لپاره چې کورونه يې په کنډوالوبدل شوي وي دېر سـتر مصيبت دی ؛پـه دومـره لړوخـت کې پـه دومـره زياتوانسـانانوته سـرپناه لـه کـوم ځايـه برابـره شي پـه داسـې حـال کې چې هرښـاراوهرکلی دبمبارښکار شوېدی .

دبشردحقوقونړيوالی اداري هيومن رايتس واچ دوسلودڅانګې مشر((ستيفن ګوز)) ويلي دي چې دسعودي په مشرۍ کې داتحاديانوطياري په سعاده ولايت باندې خوشه يې بمونه غورځوي چې له امله يې په مرګونوکې دېرزياتوالی راغلی دی .

ديـادولووړده چې پـه ۲۰۰۸م کې د۱۱۶ هېوادونـو تـرمنځ درامنځتـه شـوي تـرون لـه مخې پـه جنګونـوکې دخوشـه يـې بمونوکـارول دبشـريت ضـداومنع اعـلان شـوېدي ؛ داسـمه ده چې سـعودي اودسـعودي اوسـنو اتحاديـانوکې يوهېوادهم داتـرون نـدی لاسليک کـړی لکـه چې امريکانـدی لاسليک کـړی خودنـه لاسليک کولولـه املـه دوئ لـه دې قانون نـه وتلی نشي بلکې کـه داکارېې ربشـتياهم کـړی وي نوپقينـاً بـه جنګي مجـرمين ګڼلی کېـږي ځکـه چې پـه جنګونـوکې خـودواړه اړخونـه خامخادبشـردحقوقونـه سرغړاوی کوي خودقانوني مسؤليت نه ځان نشي ساتلای .

نولنده دا چې ديادبشري ناورين اصل لامل خوحوثي باغيان دي خوپر يمن دسعودي په مشرۍ کې د اتحاديانو حملو هم دعام ولس لپاره له خانه سره ستر تاوانونه لرلي دي .

حـوثي باغيـان دسـيمودنيولو لپـاره لـه همـاغو تکتيکونـو کـاراخلي دکومونه يې چې اسدي ملېشې په شام کې اخلي ؛ياني کومه سيمه چې نيول غـواړي دهغې سـيمې دخـوراکي مـوادو اودڅښـاک داوبودرسېدو تـولې لارې بندوي اوچې سيمې ونيسي نوپکې لوی وحشت خپروی .

محترملولوستوالوکې شايد دېروته دتېرې اپريل مياشت کې دعربې اونوروونړيوالورسنيولـه لـوري خپورشـوی داخبريـادوي چې : دعـدن ،مکلاء

،المعلاء ،التـواهی ،القلوعـه اودکریترنـومي سیموداوبورسـولو لـوی تلونـه اودعدن دبرق ستېشن حوثی باغیانو الوخولي دی

دلندن نه خپرېدونکي الشرق الاوسط نومی مشهوري ورځپاڼي لیکلي چې حوثیـانو تـول اخلاقي اصـول تر پښـولاندی کـړي اودخپلي قبضـې لانـدې راوستول شویو سیمو کې دعاموخلکودمالونواوعزتونوپه لوټولوپيل کړيدی

په یمن کې دبشـردحقوقونړیوالو ادارو ویلي دي چې داپریل ددوهمې لسیزې په پیل کې په صنعاء ،عدن ،صعده ،الحدیده ،الزماراوادلب کې دبشـردحقوقونه دسرغړاوی ۴ سوه پېښـې ثبت شویدي اوکومې چې نـدي ثبت شوې هغه خوله شماره وتلی دي .

نوهـدف دادی چې دنوروپـه لمسـون ددولـت ضـد دحوثیانوبغـاوت ،دولـت رنګـول اوبیاپـه مـذهبي لحـاظ دمسـلمانانولپاره خـورامهم هـېـواد سـعودي تـه ګواښـونه دیمني ولـس دیادوبدبختیو اصـل لامـل دی نوځکـه دحوثیانوبغاوت قطعأدمنلو ورندي خوبدي تریخ حقیقت هم باید اعتراف وکړوچې دسـعودي پـه مشـری کـې دعربـو هېوادونواتحـاد جوړبـدل اوپرحوثیانوهوايي بریدونه ،نه یواځې داچې دسعودي لپاره ګټورندي بلکې له ځانه سره یې دیمني ولس لپاره ډېرستر تکلیفونه اوکړاوونه هم راوړیدي : یـالې پـه بې سـاري ډول دغـذائي موادو،دځښـاک داوبودکمښـت اوپـه لـوره کچه دخپلوکورونونه دکډه کېدلوهغه کړاوونه چې دیمن دغریب ولس لپاره ببخي دتحمل ورندي .

خو متاسفانه چې نه دجنګ نه وراندې ددې کړاوونود مخنیوي لپاره څه تدابیرنیول شوي وو اونه یې هم اوس څه غم خورل کېږي .

دسعودي سره هېڅ نـه ښـایي چې لـه لـوري یې کـوم مسلمان ولـس یاهېوادتـه زیـان اودرد ورسـېږي نـودیمن مسـلمانان کـه دسـعودي دبمبارۍ نتیجه کې متضرر کېږي دادسعودي مقام اوحیثیت ته ډېره دتاوان خبره ده.

اسـلامي نـړۍ چې قـاطع اکثریـت یکې داهـل السـنة والجماعـة دی سـعودي عربسـتان تـه پـه امتیـازي قـدراو احتـرام قائلـه ده : دلتـه دحرمینوشریفینودشـتون لـه املـه هرمسـلمان دي هېـواد تـه یومتـوجې اومتحقق خطراو ګواښ هـم نشـي زغمـلای اوددې هېواد نـه دفـاع دځـان مسـئولیت ګڼي : دسـعودي عربسـتان چې پـه اسـلامي نـړۍ کې کـوم مقـام اومنزلت دی باید خپل دامقام هېر نکړي اوهرقدم چې پورته کوي باید دخپل مقام او حیثیت په پام کې نیولوسره یې پورته کړي .

نـوچې تولـه اسلامي نـړۍ سـعودي تـه داحترام په نظـر ګـوري پرتـولې اسـلامي نـړۍ شـفقت اوتـرحم کـول هـم دسـعودي مسـئولیت دی اودامسئولیت باید سعودي ادا کړي .

داسلامي نـړۍ په هـر هېواد اوهـر ولـس کې چې درد اوغـم وي سـعودي هـم باید بې غمـه نـه وي بلکې ددردمنواوغمجنـو ولسـونو او هېوادونـو پـه غـم اودرد کې بایـدچې شـریک وي :هغـه غـم او درد دسـماوي آفتونولـه املـه وي :دلوېو زبرځواکونو لـه لـوري وي اوکـه دګاونـدي هېوادونـو او ظالموحاکمانولـه لوري وي.

خوله بده مرغه چې سعودي سره چې څنګه ښایي کرنلاره یې هغمې نده : عملاً په ډېروکمومواردوکې سعودي دمسلمانانوپه غم اودردکې شریک لېدل کېږي :په زیاترو وختونوکې داسلامي نړۍ په ډېرولویو احداثوکې هم سعودی ځان بې تفاوته کړی وي او دډېرې بې اعتنايي مظاهره کوي .

دتېرکال دمې اواګست میاشتوکې پرغزې داسـرائیلو وحشي حملې تر ۵۱ ورځو رواني وې چې پکې دکوچنیانواومېرمنوپه شمول په زرونوبې ګناه مسـلمانان تپیـان اوشـهیدان شـول تولـه غـزه پـه کنـدوالې بدلـه شـوه خوسـعودي هیڅ عکس العمل ښکاره نکړ اوداسې چوپه خوله و لکه چې دغم اودردکومه کوچنی پېښه هم نه وي رامنځته شوی .

همدارازپـه مصـرکې دالسیمـی دکودتـایي رژیـم لـه لـوري چې دمېرمنو،کوچنیانواوبوداګانوپـه شـمول پـه زرونواسلام خوښي ووژل شـول ،تپیـان شـول زندانونوتـه ولاړل چې اوس پـه زنـدانونوکې داعـدام پـه حکمونومحکومېږي سعودي نه یواځې داچې ددې ظلم پرضد یې یوکوچنی دحق اواز پورته نکړبلکې برعکس یې دالسیسی ظالم رژیم تائېداوه اولویې مالي مرستې یې ورسروکړې .

دوه کاله دمخه په برماکې په لسګونوزره مسلمانان دوحشي بودایانوله لـوري ووژل شـول ، ژونـدي وسـوځول شـول :بې عفتـه شـول :تربتم شـول : پـه سـونوزره بې کوره شول اوآن دهېواد دتابعیت نـه هـم محرومېږي جوماتونـه اوتولې تولې سیمې یې بودایانو سوځولې خوسعودي نه دخپل نړیوال سیاسي اثررسـوخ نـه کاراخسـتلو اونـه یـې هـم ددې خونخـوارې لـړی دودرېـدلولپاره مؤثرکوښښ وکړ .

حقیت دادی چې داسـلامي نـړۍ پـه اره دسـعودی دې دریځ تـه دنـړۍ مسلمانان په بد نظرګوري اودسعودی نه پدې اړه سخت ګیلمن دي .

نودسـعودي لپاره پـه خپل دي دریځ کې بدلون راوسـتل ډېرارین دی ترڅوپې مقام اواعتمادته تاوان ونه رسېږي اوحیثیت یې ډېریوتونه وژغورل شي اونېغ په نېغه که دسـعودي دعمل په نتیجـه کې کوم مسـلمان ولس ته تاوان رسېږي نوربښتپاداده چې په اړه یې مسلمانان ددېر تشویش ښکارکېږي

دسـعودي دولـت بیابیـاداهود څرګنـدوي چې ترڅوحـوثي باغیانوپـه ځمکه وسله نه وي ایښې : قـانون تـه یې سرنه وي تیت کړی اودیمن قـانوني ولسمشـرېېرته دواک واګـې پـه لاس کـې نـه وی اخسـتي ترهغـې بـه پـه حوثیانوحملې روانی وي .

داسـمه ده چې دنړۍ دهرهېواد پـه څېرسـعودي هـم خپل امنیت تـه متوجې ګواښـونه نشـي زغمـلای اوهغـه هـم دیوېـل هېـواد سـره دتراولرونکې بـاغي دلې لـه لـوري: خـوداچې دحوثیانودخپلوسـره یوځـای دیمـن عـام مسلمانان هـم متأثره کېدل نوسعودي بایددې ګواښـونو دله منځه ورلـو

،المعلاء ،التواهي ،القلوعه اودکريترنومي سيمونداوبورسولو لوی تلونه اودعدن دبرق ستېشن حوثی باغيانو الوخولي دی

دلندن نه خپرېدونکي الشرق الاوسط نومی مشهوري ورځپاڼي ليکلي چي حوثيانو ټول اخلاقي اصول تر پښولاندی کړي اودخپلي قبضې لاندي راوستول شويو سيمو کي دعاموخلکودمالونواوعزتونوپه لوټولوپيل کړيدی

په يمن کي دبشردحقوقوترپوالو ادارو ويلي دي چي داپريل ددوهمي لسيزي په پيل کي په صنعاء ،عدن ،صعده ،الحديده ،الزماراوادلب کي دبشردحقوقونه دسرغړاوی ۴سوه پېښي ثبت شويدي اوکومي چي ندي ثبت شوي هغه خوله شماره وتلی دي .

نوهدف دادی چي دنوروپه لمسون ددولت ضد دحوثيانوبغاوت ،دولت ړنګول اوبيا په مذهبي لحاظ دمسلمانانولپاره خورامهم هېواد سعودي ته ګواښونه ديمني ولس دپادوبدبختيو اصل لامل دی نوځکه دحوثيانوبغاوت قطعاًدمنلو وړندي خوېدي تريخ حقيقت هم بايد اعتراف وکړوچي دسعودي په مشري کي دعربو هېوادونواتحاد جوړېدل اوپرحوثيانوهوايي بريدونه ،نه يواځي داچي دسعودي لپاره ګټورندي بلکي له ځانه سره يي ديمني ولس لپاره ډېرستر تکليفونه اوکړاوونه هم راوړيدي : يالي په بې ساري ډول دغذائي موادو،دځښاک داوبودکمښت اوپه لوږه کڅه دخپلوکورونونه دکډه کېدلوهغه کړاوونه چي ديمن دغريب ولس لپاره ېبخي دتحمل وړندي .

خو متاسفانه چي نه دجنګ نه وړاندي ددې کړاوونود مخنيوي لپاره څه تدابيرنيول شوي وو اونه يې هم اوس څه غم خوړل کېږي .

دسعودي سره هيڅ نه ښايي چي له لوري يې کوم مسلمان ولس يا هېوادته زيان اودرد ورسېږي نوديمن مسلمانان که دسعودي دبمبارۍ په نتيجه کي متضرر کېږي دادسعودي مقام اوحېثيت ته ډېره دتاوان خبره ده.

اسلامي نړۍ چي قاطع اکثريت يکې داهل السنة والجماعة دی سعودي عربستان ته په امتيازي قدراو احترام قائله ده : دلته دحرمينوشريفينودشتون له امله هرمسلمان دي هېواد ته يومتوجې اومتحقق خطراو ګواښ هم نشي زغملای اوددې هېواد نه دفاع دځان مسئوليت ګڼي : دسعودي عربستان چي په اسلامي نړۍ کي کوم مقام اومنزلت دی بايد خپل دامقام هېر نکړي اوهرقدم چي پورته کوي بايد دخپل مقام او حيثيت په پام کي نيولوسره يې پورته کړي .

نوچي ټوله اسلامي نړۍ سعودي ته داحترام په نظر ګوري پرټولي اسلامي نړۍ شفقت اوترحم کول هم دسعودي مسئوليت دی اودامسئوليت بايد سعودي ادا کړي .

داسلامي نړۍ په هر هېواد اوهر ولس کي چي درد اوغم وي سعودي هم بايد بې غمه نه وي بلکي دردمنواوغمجنو ولسونو او هېوادونو په غم اودرد کي بايدچي شريک وي :هغه غم او درد دسماوي آفتونوله امله وي :دلويو زبرځواکونو له لوري وي اوکه دکاوندي هېوادونو او ظالموحاکمانوله لوري وي.

خوله بده مرغه چي سعودي سره چي څنګه ښايي کرنلاره يې هغمې نده : عملاً په ډېروکموماردوکي سعودي دمسلمانانوپه غم اودردکي شريک ليدل کېږي :په زياترو وختونوکي داسلامي نړۍ په ډېرولويو احداثوکي هم سعودي ځان بې تفاوته کړی وي او دډېري بې اعتنايي مظاهره کوي .

دتېرکال دمئ اواګست مياشتوکي پرغزې داسرائيلو وحشي حملي تر۵۱ ورځو رواني وې چي پکي دکوچنيانواومېرمنوپه شمول په زرونوبې ګناه مسلمانان تېيان اوشهيدان شول ټوله غزه په کنډوالي بدله شوه خوسعودي هيڅ عکس العمل ښکاره نکړ اوداسې چوپه خوله و لکه چي دغم اودردکومه کوچنی پېښه هم نه وي رامنځته شوی .

همدارازپه مصرکي دالسيسي دکودتايي رژيم له لوري چي دمېرمنو،کوچنيانواوبوداګانوپه شمول په زرونواسلام خوښي ووژل شول ،ټپيان شول زندانونوته ولاړل چي اوس په زندانونوکي داعدام په حکمونومحکومېږي سعودي نه يواځي داچي ددې ظلم پرضد يې يوکوچنی دحق اواز پورته نکړبلکي برعکس يې دالسيسي ظالم رژيم تائېداوه اولوېي مالي مرستې يې ورسروکړې .

دوه کاله دمخه په برماکي په لسګونوزره مسلمانان دوحشي بوداپانوله لوري ووژل شول ، ژوندي وسوځول شول :بې عفته شول :تربتم شول ؛ په سونوزره بې کوره شول اوآن دمهواد دتابعيت نه هم محرومېږي جوماتونه اوتولي تولي سيمي يې بوداپانو سوځولي خوسعودي نه دخپل نړيوال سياسي اثرسوخ نه کاراخستلو اونه يې هم ددې خونخواري لړۍ دودرېدلولپاره مؤثرکوښښ وکړ .

حقيت دادی چي داسلامي نړۍ په اره دسعودي دې دريځ ته دنړۍ مسلمانان په بد نظرګوري اودسعودی نه پدې اړه سخت ګيلمن دي .

نودسعودي لپاره په خپل دې دريځ کي بدلون راوستل ډېرارين دی ترڅوېې مقام اواعتمادته تاوان ونه رسېږي اوحيثيت يې ډېرېوتونه وژغورل شي اونبغ په نبغه که دسعودي دعمل په نتيجه کي کوم مسلمان ولس ته تاوان رسېږي نوربنتهاداده چي په اړه يې مسلمانان دډېر تشويش ښکارکېږي

دسعودي دولت پيابيادا هود څرګندوي چي ترڅوحوثي باغيانوپه خمکه وسله نه وي ايښي : قانون ته يې سرنه وي تيت کړی اوديمن قانوني ولسمشرېبرته دواک واکې په لاس کي نه وی اخستي ترهغې به په حوثيانوحملي رواني وي .

داسمه ده چي دنړۍ دهرهېواد په څېرسعودي هم خپل امنيت ته متوجې ګواښوته نشي زغملای اوهغه هم ديوبل هېواد سره دتراولرونکي باغي دلې له لوري: خوداچي دحوثيانودخپلوسره يوځای ديمن عام مسلمانان هم متأثره کېدل نوسعودي بايدددې ګواښونو دله منځه وړلو

لپاره هم د ډپلوماسۍ په ډګرکې په نړیواله سطحه ټولې هڅې کړي وای اوهم يې داسلامي نړۍ دېا اثره هېوادونوته دمسئلې دحل لپاره داغېزمنو اقداماتوجدي غوښتنه کړې وای اوياداهېوادونوله خپل لورې منځګړيتوب ته راوراندې شوي وای ؛ ديمن مسئله ډېره کوچنۍ مسئله وه خو سوله ايزحل يې ځکه ندی راوتی چې پدې اړه ېيخي يوکوچنۍ اقدام هم اسلامي نړۍ ندی کړی

سعودي ډېرژر ته يادوشويوځيزونوترلاسه کېدل دجنګ اهداف ګڼي خوکه په غوروکتل شي نودېمباريولـه لارې ددې اهدافو ترلاسه کېدل ناشوني ښکاري؛ ته دمنصورهادي بيا واک ته رسول اسان کاردی اونه دومره ژرحوثيان په شا کېدونکي او وسله ايښودونکي دي ؛يواځې په هوايي بمبارکار نه کېږي اويمن ته دځپلوځمکنو فوځونو ورننويستلو ته شايد سعودي هېڅکله هم غاړه کېښږدي ځکه چې يمن ته دځمکنوفوځونودننويستلو په صورت کې ديمنيانوپه مقابل کې دسعودي فوځونودکاميابۍ چانس کم اودډېروځاني اومالي تلفاتواحتمال زيات دی

نوچې اهداف ژرترلاسه کېدونکي ندي خوديمن مسلمان ولس سخت متضرره کېږي دسعودي نه دټولې نړۍ دمسلمانانودزړه غوښتنه داده چې له هرې لارې کېدای شي هم دې دحوثيانودخطر مخه ونيسي اوهم دې دېمبار روانه لړۍ ودروي.

اوس هم لاوخت ندی تېر؛ ښه داده چې سعودي داسلامي نړۍ دمهمو هېوادونوپه ملتيا دستونزې داسې سوله ايزحل راوباسي چې هم يکې دحرمينوشريفينوخونديتوب يقيني وي اوهم يمن کې يوه سالمه اداره رامنځته اوددې هېوادغريب ولس ديوسترېشري ناورين نه وژغورل شي ؛مسلمان مهم هېوادونه دې ددوارواړخونونه ترخپلوحدودود محدودېدلو اوپه يوبل باندې دتجاوزنه کولو تعاهد واخلي او پدې دې دواړه پوه کړي چې جنګ له خانه سره لوېې بدبختۍ راوړي اودابدبختۍ يواځې ددواړو اړخونوپورې نه وي محدودې بلکې ټولې اسلامي نړۍ ته به خپرېږي چې په جنګ کې داخته کېدوله امله دشام ،عراق اولېبيابدترحالت يې ژوندۍ بېلګې دي .خبره چې دسعودي نه دنړۍ دمسلمانانودګېلوراغله نوپه همدې پلمه دنړۍ دمسلمانانويوه بله ګيله يادول هم ضروري بولم اوهغه داچې دنړۍ دمسلمانانو په اړه دسعودي دېې التفاتۍ اوبې اعتنايۍ ددريغ سره دمخالفت اوورنه دګيلمنتوب ترڅنګ دسعوی نه دنړۍ دژمنو مسلمانانو دنارضايت يوبل لامل هم شته اوهغه داچې پدې هېوادکې چې حجازمقدس داسلام دسترپېغمبرصلی الله عليه وسلم مولد اومسکن دی دوحی دنزول مقام دی داسلامي عقايدواوشرائعو زومبنې سرچينه ده نودسعودي ددولت او اوسېدونکو دواړونه دنړۍ دمسلمانانوقلبي غوښتنه داده چې دشريعت رنګ دې دلته په هرڅه غالب وي خو متأسفانه چې ددولت په اداراواودعام ولس په معاملاتواوتولنيزومسائلوکې مذهبي رنګ ډېرپيکه اومغلوب ښکاري .

درحمة للعالمين دذات مبارک سره دايماني اومکاني قرب له امله ددې ځای اوسېدونکي بايد په معاملاتو اوټولنيزوچاروکې پاکي اوصداقت خپل شعار وګرځوي؛ دوئ بايدپه ناداراواو مسافرو وګړو زړه سوی اوترحم کونکي وي اودلته پوراغلي مسلمان ته هم نه اجنبي وويل شي اونه ورته داجنبي په نظر وکتل شي خودلته دمزدورۍ لپاره دراغلوغريبواو ناداروومسلمانانوسره دزياتروسعوديانو سلوک داسې وي لکه چې بېخي ورته داغريب مسافرمسلمانان انسانان نه ښکاري چې پدې اړه مسلمانان سخت ګيلمن دي

داهم دمسلمانانو قلبي غوښتنه ده چې په تعليمي ،سياسي ، عسکري اواقتصادي ټولوچاروکې دې اسلامي نړۍ ته دنږديکت اودکفري نړۍ نه په کامل حکمت اوبصيرت دلرېوالي هڅې وشي

ددې ترڅنګ دولت بايدمعروف ته دودې ورکولواودمنکراتود مخنيوي په لارکې ډېرجدي شي دجغرافيايي سرحداتوترڅنګ دفکري سرحداتوساتنې ته پاملرنه هم ډېره اړينه ده ؛ داهم ډېره ضروري ده چې خپل ځوانان دغربي بربنډ کلتورپه لوموکې دراګېرېدونه وساتي اوددين په نوم او رنګ کې دمغه غلومخه هم ونيسي کومه غلوچې کم علمه اوکم عمره مسلمانان دخوارجواونوروضاله مضله فرقوفکر؛ داهل السنة والجماعة متفق عليه عقايدونه انکار اودسلفوصالحينوسب اوشتم ته دعوت کوي

دفکري ارتداد اودغربي کلتوردسيلاب دمخنيوي لپاره بايد په ټولې اسلامي نړۍ کې خپل ټول وسايل په پوره اخلاص په کارواچوي ؛ دايې مسئوليت اودامسئوليت اداکول ددې وخت ډېره ستره غوښتنه ده

دسعودي دځوانانودتعليم اوروزنې لپاره يواځې دامريکااونورلويديځ انتخاب اوامريکاته دومره نږديکت چې اوس خبره دسعودي په سياسي ،حربي ،اقتصادي اوحتی ټولنيزوچاروکې مداخلې ته رسېدلې رښتياداده چې دنړۍ مسلمانان يې ډېر تشويش کې اچولي دي .

دسعودي نه دنړۍ دمسلمانانوصميمانه غوښتنه داده چې دې ټولوخبروته دې په جدي پاملرنې مسلمانان داسې خوشاله کړي لکه چې دحرمينوشريفينواوحجاج کراموپه ښه خدمت اودلته په ډېرعالي نظم يې دنړۍ مسلمانان خوشاله کړيدي .

د اسلامي امارت له خیرخواهۍ او تدبر مالامال موقف

لیکوال: حنیف بدالله

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: الدین النصیحة... رواه مسلم. دین خیرخواهي ده. درسول الله صلی الله علیه وسلم دا قول خورا پراخه او شامله معنی لري، تر دې چې د نبوي احادیثو مشهور حافظ او عالم محمدبن أسلم الطوسي ویلي چې دې حدیث د دین یوه بشپړه ربع احتوا کړې ده، یعني داچې د مؤمن یوه له سترو وظایفو داده چې د خیرخواهۍ جذبه ولري، د دین خیرخواه واوسي، د ځان خیرغوښتونکی وي، دولتونو او شرعي امیرانو خیرغوښتونکی وي او بالاخره د ټولو مسلمانانو خیرخواه واوسي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم چې د یوه مسلمان لپاره په بل مسلمان شپږ حقوق ثابت بللي یو حق په کې د نصیحت او خیرخواهۍ دی، مسلمانان په خپل منځ کې یو پربل د خیرخواهۍ حق لري، چې هر یو باید دبل خیرغوښتونکی واوسي او د خپل منځي شر له پیښیدو څخه جلوه ګیري وکړي.

په اوس وخت کې د افغانستان په سطحه یوه نوې او حساسه مسئله د جهادي متحد صف اسلامي امارت په وړاندې د عراق او شام د دولت اسلامي تر نامه لاندې د مسلحو کسانو راپاڅیدل دي، چې د افغانستان په ختیځ ولایت ننګرهار کې یې ځر کونه لیدل شوي دي.

تر اوسه دانه ده معلومه چې د عراق او شام د اسلامي دولت مشرتابه او په خاص ډول ابوبکر البغدادي تر کومه حده په اورکزو او ننګرهار کې د خلافت د بیرغدارانو له ورځنیو کړنو او جاري فعالیتونو سره توافق لري، خو په دې کې شک نشته چې د عراق او شام دولت همدغه کسان په جنوبي آسیا کې رسما خپل استازي بللي دي او په افغانستان کې یې ورته د فعالیت قومنده ورکړې.

په داسې حال کې چې اسلامي امارت عملا د نړیوال کفر سره په جګړه بوخت دی او د نړۍ د نږدې ۵۰ هیوادونو طاغوتي پوځونه یې له شکست او مختورۍ سره مخامخ کړي دي، په ننګرهار کې د نویو راپاڅیدلو مشبوهو وسلوالو د تعرض په وړاندې اسلامي امارت یوازې د ځاني دفاع دنده ترسره کړې او د پراخ متقابل برید او تصادم په ځای یې اساسي ترکیز د جوړجاړي او تفاهم په هڅو کړی دی، اسلامي امارت دمسلمانانو ترمنځ د وینو تویېدنې د مخنیوي په خاطر له څو میاشتو راهیسې ددې جنجال د خاموشه کولو اصلاحي هڅه کوي، مقابل جانب ته د علماء کرامو، سپین ږیرو او خیرخوا اشخاصو پلاوي لیږي تر څو موجوده نزاع له منځه لاړه شي.

داسلامي امارت د همدې خیرخواهانه هڅو په لړ کې مې همدا نن په یوه لیک سترګې ولګېدې چې داسلامي امارت د مشرتابه شوری لخواد اسلامي امارت د نائب ملااختر محمد منصور په امضاء د اسلامي دولت مشر ابوبکر بغدادي ته استول شوی دی.

دغه مهم لیک مې تر پایه ولوست چې له محتوی څخه یې داسلامي امارت د متعهدانه، مدبرانه او خیرخواهانه موقف په اړه نور شواهد هم په لاس راغلل.

د هر اسلامي فرد او ډلې ایماني دنده ده چې په هر ډول حالاتو او له هرچا سره په تعامل کې یوازې د اسلامي لارښوونو او قوانینو په مبنا چلند او تعامل وکړي، اسلامي امارت او اسلامي دولت دوه بیلابیلې اسلامي ډلې دي، اسلامي امارت په یاد شوي لیک کې له یوه مسلمان جهت سره د د دیني تعامل مسؤلیت په بشپړه توګه ترسره کړی او خپل پیغام یې کټ مټ له شریعت سره موافق د اسلامي دولت په ادرس ابلاغ کړی دی.

الله تعالی د رسول الله صلی الله علیه وسلم او دهغه د ملګرو په اړه فرمایلي: اشداء علی الکفار رحماء بینهم ... د کفارو په وړاندې سخت او د خپلو مسلمانانو په مقابل کې مهربانه یا نرم دي ... اسلامي امارت خپل پیغام د همدې آیت په موافقت په ډیره نرمه ژبه د اسلامي دولت مشرتابه ته وړاندې کړی، خبره یې په مسنون سلام او نیکو هیلو پیل کړې او بیا یې د نړیوال کفر په وړاندې د جهادي صف د متحد ساتلو په اړه له خیرخواهۍ، صمیمت او دیني اخوت څخه ډکې څرګندونې کړې دي.

د اسلامي امارت مشرتابه په خپل لیک کې د تورو د ویستلو او د غشو د تیرولو باتې نه دي ویشتې، ځکه تورې او غشي یوازې د کفارو لپاره دي، بلکې په صمیمانه ژبه او قوي استدلال سره یې دا خبره روښانه کړې، چې همدا اوس د افغان مجاهد ملت او ټول عالم اسلام خیر په دې کې دی، چې په

افغانستان کې د کفري يرغل په وړاندې جهاد د تيرې لسيزې په شان په متحد صف کې جريان پيدا کړي، موجود نظم ګډوډ نه شي، په صف کې انشقاق او تفرق ته اجازه ورنکړل شي، ځکه که دغه متحد صف د نزاع ښکار شي نو ضرور به د نورې نړۍ غوندې دلته هم کفار د جګړې ميدان ګټي، او مسلمانان به يوځل بيا له شکست او فشل سره مخ کيږي، ځکه الله تعالی موږ ته خورا په روښانه ټکو ويلي دي چې : وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ.... الانفال . ژباړه: د الله او دغه د رسول اطاعت وکړئ او خپل منځي نزاع مه کوئ کنه ختم به شئ او باد به مو ووځي.

د اسلامي امارت د پيغام نهايي او مجموعي مطلب يوازې همدا دی، چې اسلامي دولت دې په افغانستان او نوره نړۍ کې د موجوده بريالیو جهادي صفوفو نظم نه خرابوي او نه دې هم د هغوی ترمنځ د خواخوږۍ او ورورولۍ فضاء له منځه وړي، دا چې د افغانستان په سنګر کې ناست مجاهد د عراق له مجاهد سره خواخوږي لري او دعاګانې ورته کوي، او په هر درد يې ځان دردمن بولي دغه د اخوت رشتې دې د جبر، تعرض او غټ بازۍ په قېچي نه غوڅوي او نه دې د نړيوال جهاد په صفوفو کې د نزاع فتنې وبښوي، کنه بيا به د درست عالمي جهادي صف زور ختم او صلابت له منځ لاړ شي، کفار به خوشاله او مؤمنين به خسته او شکسته شي او ددې فشل ټوله ګناه به د نزاع کرونکو په غاړه وي.

د نړيوال جهاد مبتکر مغز او د القاعدة تنظيم عبقري شخصيت شيخ أبومصعب السوري فک الله أسره په خپل ارزښتمن کتاب دعوة المقاومة العالمية الاسلامية کې چې کله د عالمي کفر په وړاندې د نړيوال جهاد په مجالاتو بحث کوي، نو د اسلامي نړۍ د هرې جغرافيې حالات او شرايط بيل بيل تعريفوي او د هماغه اولس او هيواد کلتوري، جغرافيوي، اقتصادي او نورو مشخصاتو ته په پام سره د هغوی د حال موافق جهادي برنامه پيشنهاد کوي.

نوموړی په دې نظر دی، چې ټيل شوېو جغرافيوي حدودو اسلامي اولسونه سره ويشلي او د اسلامي نړۍ د يوې جغرافيې شرايط بلې ته د ځمکې او اسمان هومره فرق کوي، نو ځکه لازمه ده، چې د هرې جغرافيې شرايطو ته په پام سره د هغوی د حال موافق جهادي برنامه په مخ يووړل شي، نړيوال جهاد يا د کفر په وړاندې نړيوال اسلامي مقاومت بايد په بيلابيلو جبهاتو کې، له بيلابيلو مؤثرو برنامو سره خو د يوه مشترک هدف لپاره ادامه پيدا کړي چې هغه اسلامي امت ته اسلامي نظام او تير برم راستنول دي.

د نړيوال جهاد په اړه د شيخ أبومصعب السوري د کتورين ته په پام سره د افغانستان د حال او شرايطو موافق تر ټولو مؤثر او پاييدونکی جهادي صف يوازې د افغانستان اسلامي امارت دی، چې په تيرو دوو لسيزو کې يې د نظام جوړونې، جهاد او يرغل شنډولو په بيلابيلو مواقعو کې امتحان ورکړی، په يادو ټولو ازموينو کې کامياب ثابت شوی، د خپل مسلمان اولس زړه او اخلاص يې له ځان سره ساتلی، د نړۍ له مسلمانانو او جهادي حرکاتو سره يې هميشه د خواخوږۍ او اخوت اسلامي تعامل پاللی، نه يوازې يې د خپلې مربوطه جغرافيې اوسيدونکي مسلمانان د کفر له فکري، پوځي او سياسي اشغال څخه ساتلي بلکې د نړۍ له لرې او بر څخه يې زرګونو مستضعفو مسلمانانو ته په خپله پراخه غيږ کې د خوندي اوسيدو زمينه برابره کړې ده.

اسلامي امارت او هر د عقل او شعور څښتن په دې پوهيږي، چې د افغانستان په شرايطو او دلته د جهاد د بريا په رازونو له ابوبکر بغدادي څخه ملامحمد عمر مجاهد ښه علم لري، د اور کرزو د ټوپکوالو په نسبت د امارت طالبان د افغانستان په خلکو او اولس کې ژور نفوذ او محبوبيت لري، د افغانستان په کليو او ښارونو کې ښه بلد دي، د افغانستان اشغالوونکي يرغلګر او د هغوی محلي ملاتړي، منافقين او مرتدين ښه پيژني او له هغوی سره د مقابلې شل کلنه تجربه لري، اسلامي امارت له کفر څخه د افغانستان د ازادۍ لپاره اړين علم، قوت، بشري ځواک، تجربه، نظامي لرليد او ټول څه له ځان سره لري او ان شاءالله د الله تعالی په کومک له دې عهدې په کاميابۍ سره وتلی شي.

دې ته په پام سره هيڅ اړتيا نشته چې دلته د جهاد په نامه يو بل داسې موازي صف پرانيستل شي، چې يوازې د مسلمانانو ترمنځ د خپل منځي نزاع او بالاخره عمومي فشل او ناکامۍ سبب ګرځي . لا قدر الله

د اسلامي دولت په ادرس ليږل شول د اسلامي امارت پيغام په بشپړه توګه له ديني خواخوږۍ، خير خواهۍ او تدبر څخه مالامال دی، د اسلامي دولت مشرتابه او محلي ملاتړي بايد دغه پيغام په عميق نظر مطالعه کړي، اسلامي دولت او اسلامي تر خپل منځ په يوه بل د خير خواهۍ حق لري، اسلامي امارت خپل د خير خواهۍ پيغام او نيکه مشوره اسلامي دولت ته وړاندې کړه اوس په اسلامي دولت او ملاتړو يې ده چې خپل د مسلمانۍ ثبوت وړاندې کړي هغه دا چې د اسلامي امارت خير وغوارې، د قوت او لا مضبوطتيا لپاره يې لاس په کار شي او دلته د جهادي نظم د تخريب په ځای په کومه بله جغرافيه کې جهادي بهير راژوندی کړي.

د امام ترمذی (رح) ژوند ته لنډه کتنه

(سید سعید)

ابو عیسی محمد بن عیسی بن سوره بن موسی بن الضحاک الترمذي په ۲۰۹ هق کال د ترمذ په ښار کې دنیا ته سترګې پرانستلې دي، ترمذ د جیحون پرشمالي غاړه داوسني ازبکستان په جغرافیایي پولو کې موقعت لري. امام ترمذي په ماشومتوب کې په خپل ښار کې د معاصرو علماء کرامو څخه علمي استفاده وکړه او وروسته یې د علم د حصول په موخه عراق، حجاز او خراسان ته سفرونه وکړل.

امام ترمذي(رح) نومیالی محدث، تکړه حافظ او وتلی فقهي ؤ، کومو کسانو چې د امام ترمذي اثار په تېره سنن ترمذي مطالعه کړي وي هرو مرو به د ابوعیسی ترمذي علمیت او فقاهت ورته څرګند شوی وي. د امام بخاري(رح) تر وفات وروسته ترمذي(رح) د هغه ځای ناستی شو، مشهوره ده چې امام بخاري د ابوعیسی ترمذي په شان بل لوی عالم، محدث او زاهد خلف نه دی پرې ایښی. امام بخاري (رح) ترمذي(رح) ته یې وویل چې «ماانتفعت بک اکثر مماأنتفعت بي» ماچې څومره استفاده ستا څخه کړې ده ترهغې ګټي ډیره ده چې تازما څخه ترلاسه کړې ده. که څه هم ترمذي د امام بخاري شاګرد ؤ، خو بخاري(رح) و نوموړي ته زیات عقیدت درلود.

دامام ترمذي استادان :

امام ترمذي(رح) د بخاري، مسلم او ابو داود(رحمهم الله) شاګرد پاته شوی دی، خو دنوموړو له ځینو استادانو څخه یې هم د احادیثو سماع کړې ده، دنوموړي مشهور استادان په لاندې ډول دي.

۱. امام محمد بن اسماعیل بخاري

۲. امام مسلم بن حجاج نیشاپوري

۳. امام ابوداود سجستاني

۴. امام اسحاق بن راهویه

۵. قتیبه بن سعید

۶. محمد بن بشار

۷. علی بن حجر

۸. سوید بن نصر

۹. ابو مصعب احمد بن ابي بکر زهري

۱۰. اسماعیل بن موسی فزاري

د ترمذي شاګردان :

امام ترمذي د تکړه محدثینو او حفاظو څخه ؤ، د نوموړي څخه ډیرو خلکو علمي استفاده کړې ده، د څو مشهورو شاګردانو نومونه یې دي.

۱. حسین بن یوسف فربري

۲. هیثم بن کلیب شاشي

۳. ابو العباس محمد بن احمد محبوبي

۴. مکحول بن فضل نسفي

۵.ابو جعفر محمد بن احمد نسفي

۶.حماد بن شاکر......

د ترمذي تالیفات :

ابو عیسی ترمذي د احادیثو په علم کې ډیر اثار لیکلي دي، خو ترټولو مشهور او معتبر کتاب يې جامع یاسنن ترمذي دی.

۱.کتاب العلل

۲.کتاب التاريخ

۳.کتاب الشمائل

۴.کتاب الزهد

۵.کتاب الأسماء والکنی.

جامع یاسنن ترمذي د احادیثو په کتابونو کې يو معتبره کتاب ګڼل کیږي، امام ترمذي چې کله همدغه کتاب تالیف کړ په حجاز، عراق او خراسان کې يې نوميالیو علماوو ته وړاندي کړ، هغوی په اتفاق سره جامع ترمذي خوښ کړ او داسي وویل چې: « په کوم کور کې چې (سنن ترمذي) موجود وي لکه په هماغه ځای کې چې انحضرت صلی الله علیه وسلم مجلس کوي».

امام ترمذي په خپل مشهور تالیف (جامع ترمذي) کې یوازي صحیح احادیث نه دي ذکر کړي، بلکې صحیح، حسن، ضعیف او غریب احادیث يې هم را نقل کړي دي او همدا راز يې معلل روایات د هغوی دعلتونو د توضیح سره را جمع کړي دي.

امام ترمذي په سنن ترمذي کې د فقهاوو مذهبونه او د هغوی د استدلالونو وجهې ذکر کړي دي چې همدغه خصوصیت دصحاح الستة په نورو کتابونو کې نه تر سترګو کیږي.

د ترمذي شریف په لوستلو سره سړی د فقهي سره هم په نسبي ډول اشنا کیږي، ځکه ترمذي چې کوم حدیث ذکر کوي په زیاتره مواردو کې يې فقهي حکم هم ورسره وړاندي کوي، همدا راز د سندونو سره څنګ کې د هغو صحابه کرامو تذکره هم ذکر کوي چې د احادیثو روایت يې کړی وي.

د جامع یاسنن ترمذي شرحي :

پر سنن ترمذي باندي لویو لویو علماوو شرحي لیکلي دي، د څینو مشهورو شرحو نومونه يې دي:

عارضة احوذي في شرح سنن الترمذي، د ابوبکر ابن عربي تالیف دی.

قوت المغتذي علی جامع الترمذي، د جلال الدین سیوطي تالیف دی.

تحفة الاحوذي شرح جامع الترمذي، د علامه عبدالحمن مبارکپوري تالیف دی.

معارف سنن شرح جامع الترمذي دعلامه یوسف بنوري تالیف دی.

درس ترمذي -چې په پښتو ژبه هم ترجمه شوی- دعلامه تقي عثماني تالیف دی.

د امام ترمذي وفات :

نامتو محدث او فقهي امام ابو عیسی الترمذي (رحمه الله) د ۲۷۹هق کال د رجب په ۱۳ مه نیټه په داسي حالت کې چې د سترګو لید يې ختم شوی ؤ د اویا کلونو په عمر د ترمذ په ښار کې له دې فاني کورګي څخه و دار البقاء ته رحلت وکړ. انا لله وانا الیه راجعون !

مآخذونه: ویکیپیډیا الموسوعة الحرة

بیداری اسلامي

د لومړۍ او دويمې نړيوالې جګړې

عطا محمد مياخيل

په اړه په زړه پورې معلومات

ـ د لومړۍ نړيوالې جګړې پرمهال د جرمني ولسمشر وان پيډن برګ وو .

ـ په لومړۍ نړيواله جګړه کې د ۱۹۱۴ زېږديز کال د اګست په مياشت کې جرمني پر فرانسې باندې د بريد اعلان وکړ .

ـ کله چې لومړۍ نړيواله جګړه پيل شوه، په هغه وخت کې د برتانيې لومړی وزير ايچ ايچ اسکويته و .

ـ په لومړۍ نړيواله جګړه کې د ۱۹۱۴ زېږديز کال د اګست په مياشت کې جاپان د جرمني په وړاندې د جګړې اعلان وکړ .

ـ په لومړۍ نړيواله جګړه کې تر ټولو زياته مرګ ، ژوبله جرمني هېواد ته ور واوښته ، ځکه چې په ياده جګړه کې اولس لکه و دري اويا زره جرمنيان ووژل شول او دوه ځلوېښت لکه و شپاړس زره جرمنيان ټپيان شول .

ـ په دويمه درجه کې روسيه قرار لري، چې اولس لکه روسان مړه او نهه لکه و پنځوس زره روسان ټپيان شول .

ـ درېيمه درجه هېواد فرانسه دی، چې په ياده جګړه کې ديارلس لکه و اويا زره کسان مړه او ځلوېښت لکه و شپږ شپېته زره تنه ټپيان شول .

ـ په لومړۍ نړيواله جګړه کې نهه لکه و اته زره و درې سوه بريتانويان مړه او شل لکه و نوي زره و درې سوه ټپيان شول .

ـ په لومړۍ نړيواله جګړه کې درې سوه (۳۰۰) جاپانيان مړه او نهه سوه و اوه (۹۰۷) کسان ټپيان شول .

ـ په لومړۍ نړيواله جګړه کې پنځلس هېوادونو ګډون درلود .

ـ دويمه نړيواله جګړه د ۱۹۳۹ زېږديز کال د سپتمبر په لومړۍ نېټه پيل شوه .

ـ په دويمه نړيواله جګړه کې، کومه هوايي جګړه، چې د جرمني او بريتانيې هېوادونو ترمنځ را منځته شوه د جرمني اوه سوه و دري دېرش (۷۳۳) او د بريتانيې نهه سوه و پنځلس (۹۱۵) الوتکې له منځه لاړې .

ـ د دويمې نړيوالې جګړې پرمهال د جرمني ولسمشر ادولف هټلر و .

ـ په دويمه نړيواله جګړه کې د ۱۹۴۱ زېږديز کال د دسمبر په مياشت کې روسيې پر فلپين بريد وکړ .

ـ د دويمې نړيوالې جګړې پرمهال د ۱۹۴۱ زېږديز کال د دسمبر په مياشت کې هټلر د يهودانو د عام وژنې حکم صادر کړ .

ـ د دویمې نړیوالې جګړې پر مهال د ۱۹۴۱ زېږدیز کال د دسمبر په اتمه نېټه امریکا د جرمنې په وړاندې د جګړې اعلان وکړ .

ـــ د دویمې نړیوالې جګړې ستره سمندري جګړه د Battle of Midwayپه نامه يادېږي.

ـ هټلر په ۱۹۴۵ زېږدیز کال کې ځان وژنه وکړه .

ـ د دویمې نړیوالې جګړې پر مهال د ۱۹۴۵ زېږدیز کال د سهار په اتو بجو د امریکا له لوري د جاپان د هیروشیما په ښار باندې اتوم بم وغورځول شو او دا حکم د هیري ترومین له خوا ورکړل شوی و .

ـ د جاپان په هیروشیما باندې B-29 دوله الوتکې اتوم بم وغورځاوه .

ـ په هیروشیما باندې د اتوم غورځولو له امله دوه لکه و څلوېښت زره کسان، چې له دې ډلې څخه یو لک و اویا زره عام وګړي او، اویا زره عسکر وو وژل شو .

ـ د دویمې نړیوالې جګړې پرمهال د دان پولس په نامه یو جرمني جنرال له خپلو نوي زره عسکرو سره روسیې ته تسلیم شو .

ـ د دویمې نړیوالې جګړې پرمهال تر ټولو وروستی هېواد جاپان و، چې تسلیم شو .

ـ په دویمه نړیواله جګړه کې تر ټولو زیات روسان له منځ تللي دي، چې د مړو شمېر يې يو شپېته لکه و پنځلس زره او د ټپیانو شمېر يې يو ملیارد و دولس زره تنو ته رسېده .

ـ په دویمه نړیواله جګړه کې تر ټولو کمه مرګ ژوبه برازیل هېواد ته ور اوښتې وه، چې مړو شمېر يې نهه سوه و څلوېښت تنه او د ټپیانو شمېر يې څلور زره و دوه سوه و شلو تنو ته رسېده

روژه لوی فرصت دی!

د کال په اوږدو کې داسې یو میاشت هم شته چې له پیل کېدو سره یې سم د الله تعالی پرلپسې رحمتونه پر انسانانو نازلیږي، د توبې ښه مهلت پیدا کیږي، د جنت دروازې خلاصې او د دوزخ دروازې پکې بندیږي، دامیاشت د روژې مبارکه میاشت ده چې په دې میاشت کې الله تعالی خپل پاک کلام پر خپل محبوب نبي نازل کړی. په دې مبارکه میاشت کې الله سبحانه و تعالی خپلو بندګانو ته د نیکو اعمالو توفیق نصیبوي، روژه لرونکی له بدو کارونو منع او پکې د کال مودې ټول ګناهونه بخښي.

د روژې مبارکه میاشت د اسلام په مقدس دین کې یو معظمه او بابرکته میاشت ده.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ (البقرة / ۱۸۳)

ژباړه : ای مؤمنانو! پر تاسو روژه فرض کړی شوې ده لکه څنګه چې له تاسو پرمخوانیو خلکو فرض کړای شوې وه.

شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِّنَ الْهُدَىٰ وَالْفُرْقَانِ (البقرة / ۱۸۵)

ژباړه: روژه هغه میاشت ده چې قرآن په کې نازل شوی دی، چې د خلکو لپاره هدایت دی او د هدایت لپاره روښانه دلایل او د حق او باطل تر منځ بېلوونکې ده.

په بل ایت کې الله تعالی وایي: إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ. وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ. لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ. تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِم مِّن كُلِّ أَمْرٍ. سَلَامٌ هِيَ حَتَّىٰ مَطْلَعِ الْفَجْرِ (القدر)

ژباړه: مونږ دا (قرآن) د قدر په شپه نازل کړی دی. او ته څه پوهېږې چې د قدر شپه څه ده؟ د قدر شپه له زرو میاشتو څخه ډېره غوره ده. پرښتې او روح پکې د خپل رب په اجازه هر حکم اخلي او راکوزېږي. هغه شپه له پیله تر پایه سلامتیا ده تر سهار لمر ختلو پورې.

په احادیثو مبارکو کې هم د روژې د میاشتې فضیلت په اړه ډېر احادیث روایت شوي چې د نمونې په شکل یې څو حدیثو مبارکو باندې بسیا کوم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : أَتَاكُمْ رَمَضَانُ شَهْرٌ مُبَارَكٌ فَرَضَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَيْكُمْ صِيَامَهُ، تُفْتَحُ فِيهِ أَبْوَابُ السَّمَاءِ، وَتُغْلَقُ فِيهِ أَبْوَابُ الْجَحِيمِ، وَتُغَلُّ فِيهِ مَرَدَةُ الشَّيَاطِينِ، لِلَّهِ فِيهِ لَيْلَةٌ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ (رواه النسائي (۲۱۰٦) وأحمد (۸۷٦۹)

ژباړه: پر تاسو د روژې مبارکه میاشت راغله چې الله تعالی د دغه میاشتې روژه پر تاسې فرض کړې ده، په دغه میاشت کې د جنت دروازې پرانیستل کیږي، د دوزخ دروازې بندیږي ، په دې میاشت کې شیطانان تړل کیږي، په دې میاشت الله جل جلاله لره یوه غوره شپه ده (لیلة القدر) چې په دې شپه کې عبادت کول له زرو میاشتو غوره دی.

اړوي پردي

استاذ فضل ولي ناګار

څه مې شک ګني د مينې ننګ ونام کې
زه چې خپلې وينې څکم د اختر جام کې

د حرم طواف شو پاتې، خياله خير دی
شه شفق د (تورې بورې) په احرام کې

وچکالی خپلې للمې دي بې کښته
عاطفې لړه راشنه شه! زما قام کې

کاروانونه دې د زړونو بدرګه دي
ترنم د ناز ميلمه ساته خرام کې

دشيبو بهير دې رنګ له دمه اخلي
پردې اړوه په ګوتو د خيام کې

هر ارمان اور اورکی غونډې خورور لاړ
مينې کور ته رسوايي راوړه ماښام کې

په موسکا خروبوه ترلي زړونه
څوک مرغه له ولړې نه وژني په دام کې

د سپوږمۍ غونډې په لورو خاته عيب دی
زمونږ پيغلې کشمالي کړي په بام کې

زما هيلو پرې د زانو کتار جوړ کړ
بغدادۍ کوترې يې وليدې باګرام کې

ناګار نشو ورته تيت، ښکلو خوښ نه کړ
چينارونه پيوند نه اخلي بادام کې

Shahamat



شهامت
نهم کال لومړی گڼه، پرلپسې ١٥ مه، شعبان ١٤٣٦هق، جون ٢٠١٥م
داسلامي امارت نوي سیاسي او پوځي لاسته راوړنې...
د اسلامي امارت له خیرخواهۍ او تدبر ملا مال موقف...
عزم، د اسلامي امارت د پوځي اوسیاسي برېا ښانداره مظهر!
د ترکیب راتلونکی حکومت، ټکولې او احتمالات
د شهید مولوي نسیم الله صدیقي ژوند ته کتله
ازماهی رحمت چگونه استقبال میکرد
د بغلان والي ملا محمد اسمعیل: عزم عملیاتو په بغلان کې انقلاب راووست